# فصلنامه تقوا

علمي، دعوتي، فرهنګي او ادبي مجله

دربیم کال، لومړۍ ګڼه پرلپسې دربیمه ګڼه
د ۱۴۰۲ هـ ش کال
د مرغومي، سلواغې او کب میاشتې

د امربالمعروف، نهې عن المنکر
او شکایتونو اورېدلو وزارت
د اطلاعاتو او نشراتو ریاست



امر به معروف و نهی از منکر دو اصلی است در اسلام
که همه چیز را می خواهد در جامعه اصلاح کند.

# اعلامیه

وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات به منظور تأمین عدالت و رسیدگی به شکایات مردم همواره تلاش نموده تا در اسرع وقت به شکایات و عرایض مردم رسیدگی نماید. لله الحمد تا اکنون به بیش از ۱۰ هزار شکایات مردم شامل؛ مردان و زنان در ولایات، ولسوالی ها و قریه جات رسیدگی صورت گرفته است.

به منظور تسریع و گسترش روند رسیدگی به شکایات؛ این وزارت در نظر دارد تا شکایات مردم را علاوه به شکل حضوری؛ از طریق تماس های تیلفونی نیز رسیدگی نماید.

قرار است جریان سمع و رسیدگی به شکایات در سه اوقات کاری از ۸ صبح الی ٤ عصر (به گونه حضوری و تیلفونی) ساعت ٤ عصر الی ۱۲ شب و ۱۲ شب الی ۸ صبح به شکل تیلفونی صورت گیرد.

از عموم هموطنان گرامی اعم از برادارن و خواهران تقاضاء بعمل می آید؛ در صورتیکه شکایت مستند از ادارات و منسوبین امارت اسلامی داشته باشند به شماره های ذیل تماس برقرار نموده؛ موضوع را با مسوولین در میان بگذارند تا به اسرع وقت مطابق قانون و طرزالعمل به شکل ۲٤ ساعته به آن رسیدگی صورت گیرد.

**شماره های تماس:**

۰۷۹۹۷٤۳۰۰۸

۰۷۰۰۷۷۰٦۳۰

۰۷٦٦٦۱۹۱۹٤

۰۷۰٤٦۹۳۸۰۱

یاداشت: شماره تماس (رایگان) *رسیدگی به شکایات* بزودی فعال خواهد شد.

**وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات**





# د امتياز خاوند:

## د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکايتونو اورېدلو وزارت

دريېم کال لومړۍ گڼه


# لړليک


| | | |
|---|---|---|
| سرليکنه | اداره | ۱ |
| په مجازي نړۍ کې د روغ | ابن الطباخ مفتي آغانور حنفي | ۲ |
| حجاب زيور زن مسلمان | صالحه صالح فراهی | ۳ |
| آيا مونږ په سمه توگه د اسلام | دوکتور انوار الله لودين | ۵ |
| بی حجابی در غرب | احمد خان داعی | ۷ |
| د سحر حقيقت | مفتي عبدالرحمن قريشي | ۸ |
| مبارزه با خشم | مولانا عبدالمناف معروف خيل | ۱۲ |
| آيا د قرآنکريم تلاوت کوئ؟ | مفتي عبدالقهار خالد زرنجوي | ۱۴ |
| ديدگاه ها و دلهره ها در باب زنان | حافظ محمد عيسی اکبری | ۱۵ |
| په اسلام کې د نرمۍ او سختۍ پاليسي | مولوي نورالحق مظهري | ۱۷ |
| د خلکو د ترکيې هڅه | مفتي وقايت الله وقار | ۱۸ |
| دپاکوالي آداب | | ۲۰ |
| رښتينی ادب | | ۲۱ |
| غوره ويناوې | | ۲۳ |
| د ښکلا لټون | مفتي عبدالهادي حماد | ۲۴ |
| دنيا د مؤمن لپاره څنگه بنديخانه ده؟ | حامد افغان | ۲۶ |
| ژبه، قوميت او تعصب | عبدالجبار بهير | ۲۷ |
| د انسانانو پر ژوند د تقوا اغېزې | محمد اسمعيل نېکمل | ۲۹ |
| احکام حجاب | کلثوم توحيدی | ۳۰ |
| په اسلام کې د مال ارزښت او لگښت | محمد طاهر شرر ساپی | ۳۱ |



مسؤول مدير: گل آغا افضلي

ايډيټور: شفيق الله شفقت

کتنپلاوی: مولوي محب الله مخلص، مولوي رازمحمد حامد، مولوي يحيی عارف او مفتي عبدالقهار خالد زرنجوي

طرح او ډيزاين: منگل شاه عادلي «مهمند»

ژباړونکي: فريد جلال او محمد اسمعيل نېکمل

د چاپ او توزيع مدير: صديق الله اتمانخېل

خبريالان: جمشيد مهمند، کرامت الله کاوون او صفت الله ابراهيمي


يادونه: په مجله کې خپرې شوې ليکنې د ليکوالانو آند دی او هغوی يې مسؤوليت په غاړه لري


شماره های تماس:

۰۷۰۷۲۹۰۳۰۰//۰۷۸۹۲۰۰۱۶۶

Email: Taqwamagazine@gmail.com

whatsapp: ۰۷۷۷۱۲۸۰۲۸

درک: د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکايتونو اورېدلو وزارت، دارالامان عمومي سړک کابل - افغانستان

# سرلیکنه

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ للهِ رَبِّ العَالَمِيْنَ والعَاقِبَةُ لِلمُتّقِين وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَىَ اَشْرَفِ اْلاَنْبِياَءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ سَيِّدِناَ وَ مَوْلَناَ مُحَمَّدٍ وَعَلَى اَلِهِ وَصَحْبِهِ اَجْمَعِيْنَ, اَمَّا بَعْدُ:

د اسلام سپېڅلی دین د خپلو نورو فردي او ټولنيزو عباداتو ترڅنګ له پيروانو غوارې چې د نورو پر وړاندې دې هم بې پروا نه وي، بلکې ښو کارونو ته يې راوبولي او له بدو يې منع کړي دغه دوه بنسټيزې دندې امربالمعروف او نهې عن المنکر ګڼل کېږي.

دا کار (امربالمعروف او نهې عن المنکر) د انبياء عليهم السلام عمل دی، صحابه کرامو، تابعينو او د خيرالقرون ټولو صالحو کسانو ترسره کړی دی.

الله تعالی نورانبياء عليهم السلام نه رالېږي چې انسانان د يو الله ﷻ عبادت او بنده ګۍ ته را وبولي او يا يې د منکراتو څخه منع کړي.

الله تبارک و تعالی فرمايي: قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ [سورة آل عمران: الاية ۳۱]

ژباړه : ووایاست! که چېرې د الله ﷻ سره محبت کوئ نوزما تابعداري وکړئ، الله تعالی به له تاسې سره محبت وکړي او ستاسې ګناهونه به درته وبخښي.

په دغه مبارک آيت کې د الله ﷻ د محبت تر لاسه کول او د ګناهونو د بخښنې لپاره ځانګړی شرط د رسول الله ﷺ تابعداري ښودل شوې ده؛ که چېرې د هغه صلی الله عليه وسلم وروسته د بل کوم نبي د راتګ شونتیا وه نو ضرور به يې د هغه تابعداري هم مشروط کړې وه. لکه چې د لاندې حديث څخه دا ثابتېږي:

(عن جابررضي الله عنه عن النبی ﷺ قال: ولو کان موسی حيا ما وسعه الا اتباعی).[د بيهقي او الدارمي روايت]

ژباړه: جابررضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چې نبي ﷺ وفرمايل: که چېرې موسی عليه السلام ژوندی وی نو هغه ته به هم زما له تابعدارۍ پرته بله کومه لاره نه وه (يعني ضرور به يې زما تابعداري کړې وه).

دا چې بل نبي او رسول نه راځي تر څو خلک د الله ﷻ عبادت او بنده ګۍ ته راوبولي او له بدو يې منع کړي، نو الله تبارک وتعالی په دې اُمت باندې دا لازمه کړې چې دغه سپېڅلې فريضه ادا کړي:

الله ﷻ په سورت التوبه کې په دې اړه داسې فرمايي:

وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ. [سورة التوبه: الاية ۷۱]

ژباړه: مؤمنان نارينه او مؤمنانې ښځې يو د بل دوستان (مددګاران) دي په ښو چارو امر او له بدو چارو څخه منع کوي، لمونځونه قايموي، زکات ورکوي او د الله ﷻ او د هغه د پيغمبر ﷺ اطاعت کوي، دا هغه کسان دي چې د الله ﷻ رحمت ور باندې نازلېږي بېشکه الله تعالی پر ټولو برلاسی او د غوره حکمت خښتن دی.

همدارنګه الله تعالی په قرانکريم کې فرمايي: الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ[سورة الحج: الاية ۴۱]

ژباړه: دا هغه کسان دي چې که مونږ دوی ته په ځمکه کې قدرت (واک) ورکړو، نو لمونځ به ادا کړي، زکات به ورکړي، په ښو چارو به امر وکړي او له بدو څخه به منع وکړي.

نو له دې ثابته شوه چې اسلامي نظام د امربالمعروف او نهې عن المنکر سره مستقيمې او نه شلېدونکې اړيکې لري يعنې مسلمانان په ځانګړې توګه علماء او متنفذين به د اسلامي نظام مسؤولينو او چارواکو ته متوجه وي او کله چې د نظام مسؤولين او چارواکي د اسلامي شريعت په پلي کولو کې تېروتنه يا هم غفلت کوي د اسلامي امت د مصالحو پر ځای د خلکو شيطاني او نفساني غوښتنو او يا نورو غير شرعي انګېزو ته ترجيح ورکوي؛ محاسبه وکړي او خپل اساسي مسؤوليت ته يې راوګرځوي.

د امر بالمعروف، نهې عن المنکر او شکايتونو اورېدلو وزارت د اسلامي امارت لپاره اساس او بنسټ دی؛ په يو اسلامي نظام کې به د امربالمعروف محتسبين حکمي او حقيقي وګړي نېکيو ته رابولي، له بديو به يې مخه نيسې او په ورته مهال کې ياد وزارت د اسلامي نظام د مسؤولينو او چارواکو څخه د شکايت په صورت کې به د الهي احکامو سره سم؛ دوګړو شکايتونو ته په عادلانه توګه حل لارې پيدا او رسيده ګي کوي. ان شاء الله!

تقوا علمي، دعوتي، فرهنګي او ادبي مجله د وزارت د اړينې برخې په حيث مسؤوليت لري چې د عامه ذهنيت د تنوير او په ټولنه کې د مثبت فکري او فرهنګي بدلون راوستلو په موخه خپل فعاليتونه پراخ کړي نو دې سپېڅليو اهدافو ته د رسېدو په پار د اطلاعاتو او نشراتو رياست په زيار، د عالمانو، څېړونکو او ليکوالانو په همکارۍ يو ځل بيا خپل فعاليت پيل کړ؛ تر څو د ټولنې د فکري سمون او اخلاقي عروج لپاره په ګډه کار وکړي.



# په مجازي نړۍ کې د روغ ژوند زرینه تګلاره

لیکوال: ابن الطباخ مفتي آغانور حنفي

الحمد لأهله و الصـــلاة على أهلها. أما بعد: د لوی او بخښـونکي څښـتن تعالی په سپېڅلي نامه، هغه چې تر ښـه او سـو کاله ژوند پورې تړلې تګلاره یې د خپل سپېڅلي کلام د روښانه قوانینو په تعمیل کې رانغښـتې ده.

رب لا یزال د هدایت په سپېڅلي سرچینه (قرآن عظیم الشـــأن) کې د روغې حقیقي ټولنې او په هغې کې د روغ ژوند لپاره داسې یو اصل ټاکلی دی چې په تعمیل باندې یې ټولنه ښـــېرازه او د رواني امن نه ډک ژوند څخه برخمنه ګرځي.

الله تعالی ارشـــــاد کوي: قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَـــى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِـــيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ *وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ [سورة النور: الآيات ۳۰-۳۱]

ژباړه او تفســـــیر: ای پیغمبره! ﷺ، ته ورته ووایه و نارینه مؤمنانو ته، چې دوی خپلې سترګې د الله تعالی د محارمو څخه کښـــته کړي او دوی خپل عورتونه په ناروا ډول د نورو د نظر لرېدلو او ګټې اخیســتنې څخه وساتي، دغه د دوی لپاره پاک تره او ښـه ده، په تحقیق سره الله تعالی خبر دی په هغه څه چې دوی یې کوي.
او ای پیغمبره! ﷺ، ته ورته ووایه و ښځینه مؤمنانو ته، چې دوی خپلې ســترګې د الله تعالی د محارمو څخه کښته کړي او دوی خپل عورتونه په ناروا ډول د نورو د نظر لرېدلو او ګټې اخیستنې څخه وساتي.
دا یوه منل شـــوې خبره ده چې د امن څخه ډکه او یوه سوکاله ټولنه او همداسې سوکاله کورنۍ د بشــــر یوه ستره اړتیا ده؛ دغسې ټولنه هغه وخت رامنځ ته کېږي، چې د هغې ټولنې استوګن کسان د خپلو نظرونو ساتنه وکړي، په هغه څه چې الله تعالی ورته په برخه کړي دي قناعت ولري او د خپلو سترګو کړکۍ د معصیت او ګناه د غبار پورته کېدلو په وخت وتړي تر څو یې په زړه کې د تقوا په ښتو جوړه ماڼۍ خیرنه نشي.
نو په همدغه اساس د رښتینې او مجازي نړۍ په پرتله د هغه څه په تعمیل (پلـــې کېدو) چــې حقیقــي ټولنه سوکاله او ښېرازه کېږي، همدغسې یې په تعمیل باندې مجازي ټولنه ښېرازه کېږي.
که چېري د دواړو جهانونو ژوند ته ښـــه په غور ســـره وګورو، نو دا راته څـــرګندېـــږي؛ لکه څنګه چـــې په حقیقي نړۍ کې د ژوند کولو لپاره اړتیا ده چې داســې څه په لاس راوړل شي چې په هغه باندې جســـم قوت ومومي او د لاســـته راوړلو لپاره به یې ځینو ځایونو ته تګ کېږي چې هلته ممکن په محارمو نظر ولګېـــږي، همدغســـې د ذهن د ودې لپاره اړتیا ده؛ ځینې مطالب چې بل ځای نه موندل کېږي په لاس راشـــي او دغه مجازي نړۍ همداســـــې ده چې په کې کله کله په محارمو نظـــر لګېـــږي. نو لهذا لکه څنګه چـــې نبوي ارشاد دی، رسول الله ﷺ حضــــرت علي رضي الله تعالی عنه ته وفرمایل: یا علي! لک الأولی و لیســـــت لک الآخرة. ژباړه: ای علي! په اجنبۍ ښځې باندې ستا په لومړي نظر کې عذر او ګناه نشته خو دویم ځل کتل ورته د شـــهوت په نظر جواز نلري. په حقیقي نړۍ کې، په بازار او یا کلیو کې چې کله په اجنبۍ ښـــځې باندې نظر ولګېږي؛ نو ځای په ځای به نظر ور څخه کښـــــته کړې. همدغســـې د مجازي نړۍ په صفحاتو کې چې کله په یو حـــرام انځور یا ویډیو کلیپ باندې نظـــر ولګېږي، نو د پورتنې ارشـــــاد مطابق به نظر ور څخه ښکته کېږي؛ تر څو یو سالم او د اخلاقي فســـاد څخه روغ ژوند ولرو.
هېره دې نه وي چې شیطان د انســـان لپاره یو قَســـم خوړلی دښمن دی، او تل دا هڅه کوي چې انســـان د ګناه او عصـــیان په جال کې را ګیر کړي، نو باید ډېره هڅه وشي چې د مجازي صفحاتو، انترنتي ویبسایتونو او ویبلاګونو د کارولو په وخت کې د شـــیطاني افکارو څخه ځان وساتل شي.

**زما د استاد توصیه:**

د دورة الکبری د درسونو په لړ کې به زما استاد (شیخ اسلام جار حفظه الله) راته داسې توصیه کوله ((که چېرې غواړې انتـــرنتـــي بـــراوزرونه لکه: ګوګل کروم یا موزیلا فایرفاکس او یا نور وکاروې، نو یواځې یې مه کاروه، یواځېتوب هم کله کله د شـــــیطان جال وي، نو کله چې تاســـې انترنتي براوزرونه کاروئ او د کوم څه په اړه پلټنه کوئ نو یو دویم شـــــخص د ځان سره پر اړخ کښـــېنوئ تر څو مو شیطان د غیر اخلاقي، ناروا کلیپونو او انځورونو لټون ته و نه هڅوي.))
یقیناً! د نظر ساتل د انســـان د کورني او ټولنیز ښه ژوند ستر ضامن دی؛ کله چې په حقیقي یا مجازي نړۍ کې کوم شخص نظر و نه ساتي او اجنبي ښـځو ته وګوري، نو بیا یې کورنی ژوند د ســـتونزو ســـره مخ کېږي او د خپلې منکوحې او شـــــــرعي مېرمنې څخه یې زړه ماتېږي، د اجنبي ښـځو په ښـکلا یې زړه ګیرېږي چې په پایله کې نه هغه ورته رســـېږي چې غواړي یې او نه هم دا خوند ورکوي چې لري یې.
د نظر ساتل د عورت د ساتلو او د زنا څخه د خلاصـون یو ســـبب دی؛ ځکه الله تعالی په آیت کریمه کې د نظر ســاتل او د عورت ســـاتل دواړه یو ځای په داســـې ډول ذکر کړي دي، لکه یو چې د بل اثر مرتب وي.
لهذا! که چېـــرې څوک غواړي د زنا له عظیمـــې او سترې ګناه څخه ځان وســـاتي او همداســې یې د ایمان ســپېڅلې ودانۍ او په زړه کې جوړه د تقوا رنګینه ماڼۍ روغه پاتې شـــي، کورنی ژوند یې د ســـتونزو ســـره مخ نشـــــي نو د محارمو او مکروهاتو څخه به د خپل نظر ساتنه کوي.

**و صلی الله علی النبی الامی محمد و علی آله و صحبه أجمعین**



# حجاب زیور زن مسلمان

**ای زن به تو از فاطمه اینگونه خطاب است**
**ارزنده ترین زینت زن حفظ حجاب است**
**فرمان خـــدا، قول نبی، نص کتاب است**
**از بهـــر زنان افضل طاعات حجاب است**

نویسنده: صالحه صالح فراهی

حجاب یکی از اوامر پروردگار و از دســـتورات پیامبر اسلام ﷺ میباشـد خداوند متعال در قرآن کـریم تمام امت را مکلف گـردانیده و حجاب را حکم عام بیان فرموده است؛ چنانچه میفرماید: يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِـــينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ [سورة الاحزاب: الاية ۵۹]

ترجمه: ای پیامبر! به زنان و دختران خود وزنان مؤمـــنـــین بگو که خودرا در چادر های خود بپوشند؛ این فرموده الله متعال روشن ترین دستور درزمینه حجاب اســت، (جلابیب) جمع جلباب است و جلباب به چادری گفته می شـود که سـر تا پای زن را بپوشـاند پس قرآنکریم نه تنها دســتور چادر پوشـــیدن را داده بلکه لفظ يُدْنِيْنَ را هم آورده یعنـــی اینکه آن چادر در پیش روی زن آویزان باشد؛ تا چهره او نمایان نشود.

پس ای خردمندان چه پیام و حکمی روشـن تر از این دســـتور وجود دارد؟ آری حجاب نه تنها پوشش لباس است بلکه عفت و پاک دامنی برای حفاظت از حریم و آبروی انسانیت هم می باشد.

حکم حجاب در قرآن و احادیث بیان شـــده؛ ازواج مطهرات وزنان صحابه رضي الله عنهم به آن عمل کردند، حالا غربیان وغرب زده گان این تبلیغات مسموم را به راه انداخته اند که مسلمانان به زنان خود ظلم می کنند، آنان را در خانه زندانی کرده، به چهره آنان نقاب انداخته و ایشـــان را به صورت یک فلم کارتونی در آورده اند.

حالا سوال این جاست که آیا مسلمانان به زن ظلم کرده اند یا غربیان وغرب زده گان که دم از حقوق زن می زند؟ جواب این سوال را هر انســان عاقل وصاحب بصیرت می داند.

ای انســانیت و ای مســلمانان! عقل خودرا به کار بیندازید و با چشم انصاف به جهان بنگرید.

آنانیکه از زنان بـرای تبلیغات کالاهای تجارتــی خود استفاده می کنند و یک زن را بخاطر فروش یک دســت لباس، کریم و یک شـامپو در انظار عمومی در حال برهنه نمایش مــی دهند آیا این است حقوق زن؟

آنانیکه زن را مانند دســـــتمالی قرار داده اند که هرکسـی دست کثیف خودرا با آن پاک کند و از آنان شهوات نفسانی خودرا برآورده کند، آیا این است حقوق زن؟

آنانیکه برهنگی، بی عفتی و بی حیایی را فرهنگ،

پیشرفت و مود می دانند آیا می توان به آنها انسان گفت؟

آنانیکه زنان خود را با دستان خود شان با لباس های تنگ و چسب عریان و نیمه عریان در بازارها و تفریگاه ها می چرخانند، آیا می توان به آنها باغیرت گفت؟

آنانیکه حجاب، حیا و عفت را بی فرهنگی، عقب ماندگی و ظلم بر زن می دانند، آیا می توان به آنان عاقل گفت؟

جواب این سوال ها برهر انسان مسلمان و با غیرت روشن و نمایان است و این موارد تنها نمونه از ظلم و بی عدالتی درحق زنان در ملل غرب و هم پیمانان آنهاست.

همچنین وضعیت زن قبل ازاسلام هم بهتر از این نبود آنان دختران رازنده به گور می کردند و بر آنها هر نوع ظلم و ستم را روا می دانستند و دختر داشتن را عیب و ننگ می دانستند.

اما اسلام انسان ها را به نقطه فطری اعتدال رساند؛ هر حقداری به حقش رسید و زن برای اولین بار فرصت مطالبه حقوق خویش را یافت. اسلام درزمینه احقاق حقوق زن هیچ گونه چشم پوشی را جائز ندانسته وتمام سرچشمه های ظلم و فساد را خشکانید.

آیا مسلمان با اطاعت کردن از پروردگار خود به زن ظلم می کند؟ هرگز چنین نیست.

حجاب آرامش است و آن آرامشی را که زنان پاک دامن وعفیف در حجاب احساس می کنند هیچگاه درعریانی وبی حجابی احساس نمی کنند مسلمان باید معتقد باشد که روش پیامبر ﷺ برحق است حالا هر کسی که می خواهد ما را تمسخر کند؛ بکند و هر کسی طعنه میزند؛ بزند، ما در این راه از طعنه هیچ طعنه زننده ای و از ملامتي هیچ ملامت کننده ای نمی هراسیم؛ زیرا مسلمان وارث انبیاء است و انبیاء این چیزها را متحمل شدند ما از آنها بهتر نیستیم.

ای خواهر مسلمان! تو نیمی از پیکر جامعه هستی، وقتی تو از کفار فیشن و بی حجابی را تقلید کنی و با چهره لخت و آرایشی در سرک هارفت و آمد کنی فاسد می شوی و در نتیجه جامعه را به فساد می کشانی.

یکی از موارد حجاب حفاظت از نگاه است؛ زیرا نگاه انسان دریچه قلب اوست ازهمین دریچه است که قلب انسان میزبان عشق های خانمان سوز می شود، طبیعی است که اعضاء و جوارح انسان در جهت رسیدن به آن عشق تابع قلب می شود به همین خاطر در تعالیم اسلامی حفاظت از نگاه اهمیت زیادی پیدا کرده؛ زیرا گاهی تنها به یک نگاه قلب انسان اسیرشده وزنده گی او دگرگون می شود.

کارشناسان مسائل جنسی چشم را قاصد شهوت لقب داده است، ازهمین رو است که اسلام نگاه به زن بیگانه رازنای چشم قرار داده و آن رامنع کرده است، پس عامل بروز فساد در جامعه؛ بی حجابی و تقلید ازغربیان است.

خواهران و برادران مؤمن! حجاب یک امر الهی که خداوند متعال بخاطرعفیف شدن و گران بها شدن برتمام انسانان اعم از؛رجال و نساء آن را فرض قرار داده است این وجیبه الهی باعث میشود تا کانون گرم خانوادها مستحکم تر شود.

امروزه ما می بینیم که سیلاب خانمان سوز فساد اخلاقی و ضد دینی بالای جوامع بشری ما یورش آورده و بخصوص این معضل بزرگ دامن گیر نسل جوان ما شده است.

جامعه ای که زنان آن ملبس به یونیفورم حجاب اسلامی باشند یقیناً از تمام گزندها و آفات اجتماعی در امان می باشد.

چه زیبا گفته اند: حجاب یگانه آلبوم عکس است که زن عفیفه عفت و ارزش والای زن بودن خودرا در آن حراست می کند.

رسول معظم اسلام ﷺ می فرماید: إِنَّ الْمَرْأَةَ عَوْرَةٌ فَإِذَا خَرَجَتِ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ وَأَقْرَبُ مَا تَكُونُ مِنْ وَجْهِ رَبِّهَا وَهِيَ فِي قَعْرِ بَيْتِهَا [مسندالبزار ۲۰۶۱]

ترجمه: همانا زن عورت است زمانیکه (از خانه) بیرون شود روی می کند به آن شیطان، نزدیک ترین زن به خدا آن زنی است که در وسط خانه خود باشد.

خواهرم! حجابِ تو تنها سنگر مستحکم در مقابل تمامی حوادث اجتماعی می باشد پس حافظ این سنگر باشید.

# آیا مونږ په سمه توګه د اسلام پر سپېڅلي دین پوهېږو؟

لیکوال: دوکتور أنوارالله لودین

وړاندې له دې چې نوموړې پوښتنې ته ځواب ووایو غواړو د نوموړې پوښتنې په ځواب کې نورې پوښتنې مطرح او بیا ورته د ځواب ویلو کوښښ وکړو. آیا یو مدافع وکیل مخکې تر دې چې قضیه سمه مطالعه نه کړي او د هغې په هکله په قانوني مادو پوه نه وي په محکمه کې د قاضي پر وړاندې د یادې قضیې څخه په بریالیتوب دفاع کولی شي؟ یا هغه ښوونکی چې د مضمون اړوند پوهه ونه لري؛ آیا کولی شي چې د الجبر، هندسې، کیمیا، فزیك یا نورو علمي مضامینو درس خپلو زده کوونکو ته تشریح او واضح کړي؟ همداراز هغه ځوان مسلمان داعي څنګه کولی شي خپل سپېڅلي دین او د هغې مختلف اړخونه خلکو ته وړاندې او بیان کړي؟ خلك د هغې په اهمیت پوه کړي چې خپله یې له ارزښته خبر نه دی، آیا دی به وکولی شي د خپل دین سرې تودې بیان کړي؟ له دې ځایه معلومه شوه، چې هر هغه ځوان دعوتګر مسلمان چې نور خلك خپل دین او فکر ته را بولي باید لومړی هغه په خپله ځان په دغه دین باندې سم پوه کړي. د حضرت محمد ﷺ دا لاره او طریقه وه چې کله به یو تن مسلمان شو نو بیا به یې صحابه کرامو رضي الله عنهم ته و فرمایل چې دې ورور ته مو قرآن کریم ورزده او د دین احکام ور وښیئ. له دې نه وړاندې په مکه مکرمه کې حضرت پیغمبر ﷺ د دار الارقم بن ابي الارقم المخزومي کور د خپلو اصحابو د تعلیم لپاره یو روزنېز مرکز ګرځولی و، چې هلته به د مؤمنانو سره کېناستو او هغوی ته یې د قرآن کریم، نبوي سنتونو او په دین کې د پوهې ښوونه او روزنه کوله. دا ډېره مهمه خبره ده چې انسان باید لومړی پوه شي او بیا د پوهېدو نه وروسته د علم په رڼا کې د عمل کولو تکل وکړي. او که داسې و نه شي (پوهه حاصله نه شي) نو سړی به د جهل په تیارو کې یو کار کوي چې پایلې یې تل خطرناکې او ناسمې وي. له دې امله د روان پوهنې علماء وایي چې، د پوهې په پوړیو کې لومړی پوړی ادراك، بیا د هغې موضوع نه متأثره کېدل او د هغې نه وروسته د یو عمل کولو اړخ ته حرکت پیدا کېږي. معنا یې دا ده چې لومړی سړی په یوه خبره پوهېږي بیا ور څخه متأثره کېږي او بیا د نوموړې خبرې د خوښولو او یا هم ور څخه د نفرت کولو په رڼا کې مثبت او یا منفي غبرګون څرګندوي. دغه نوموړی ترتیب په قرآن کریم کې ډېر واضح او څرګند دی، الله تعالی فرمایي: وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُواْ بِهِۦ فَتُخْبِتَ لَهُۥ قُلُوبُهُمْ... [سورة الحج: الآیة ۵۴]

اژباړه: او چې پوه شي هغه خلك کوموته چې علم ورکړل شوی دی، چې دغه قرآن کریم د الله تعالی له خوا حق وحې ده، نو ایمان پرې راوړي او زړونه یې د الله امر ته تسلیم، ښکته او نرمېږي.

د دې معنا دا ده چې د علم د راتلو سره ایمان پیدا شو او د ایمان له راتلو سره د الله تعالی وېره او امر منل او ورته تسلیمېدل پیدا شول یعنې چې کله پوه شو نو ایمان یې راوړ او چې کله یې ایمان راوړ زړونه یې تسلیم، نرم او د الله تعالی امر او حکم ته منقاد شول. الله تعالی فرمایي: فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ..[سورة محمد:الاية ١٩]

ژباړه: پوه شه چې د الله تعالی نه پرته بل په حقه معبود نشته.

حضرت امام بخاري رحمه الله د دې مبارك آیت په شرح کې فرمایي چې: (الله تعالی دا غواړي چې علم او پوهه باید د یو قول او عمل د صحیح ګڼلو لپاره شرط وټاکل شي.) د نوموړو مبارکو آیتونو له تفسیر نه پوهېږو چې په یوه موضوع باندې د بحث او مناقشې کولو نه مخکې په نوموړې موضوع باندې سم پوهېدل څومره اړینه او مهمه خبره ده؟ کله چې دغه حقیقت درک کړو، نو پوهېږو چې د اسلام سپېڅلی دین په حقایقو باندې ولاړ دی. ناپوهي او جهل مسلمانانو ته د څومره مصیبتونو، بدبختیو، وینو تویېدو او د قیمتي وختونو او حقوقو د ضایع کېدو سبب او لامل شوی دی؟ او همدارنګه مونږ نن په خپله ترقي، سوکالي او پرمختګ کې د اسلام د حقایقو ژورې پېژندنې او پوهې ته څومره اړمند یو؟ زموږ دغه پوهه او اسلام پېژندنه باید د ژوندانه په ټولو اړخونو کې ډېره څرګنده او واضحه اوسي، لکه:

١ـ په شرعي علم کې: کوم علم چې د حق او باطل، صحیح او غلط ترمنځ د بېلولو او تمیز کولو یوازینی وسیله ده.

٢ـ د تاریخ او اوسنی اسلامي نړۍ پېژندنې په علومو کې: د دې په خاطر (هغه کسان چې په ټولنه کې یې د اصلاح، سمون او بدلون راوستلو هوډ کړی دی) باید په هغه لوړو ژورو، د پرمختګ، ځواکمن کېدو، همدارار د وروسته پاتې والي او بالآخره د نسکورېدو په هغه لاملونو باندې پوه شي کوم چې په تاریخ کې اسلامي امت او اسلامي دولت ته رسېدلي دي. او په دې هم باید پوه شي چې د دغه تاریخ تګلاره هغه الهي تکرارېدونکې پېښې، طریقې او سُنن دي د کومو یې چې مونږ مقدمې وپېژندې په پایلو یې په خپله پوهېږو.

٣ـ د سیاست په علم کې: کوم چې د ژوند د اداره کولو علم دی، باید په داسې ډول پرې پوه شو چې یو ځل بیا یې د شرعي فقهي پورې وتړو او سیاست په منافقت، دروغو، او چالاکیو تفسیر نه کړو. او نه هم ماکیاولي فلسفه (کومه چې یو هدف ته د رسېدو لپاره هر رنګ وسیله روا بولي) د سیاست پوهانو دین وبولو.

٤ـ د ژوند د مختلفو اړخونو په علومو کې: (لکه ساینسي علوم) کوم علوم چې زموږ پلرونو او نیکونو زده کړي او پرې د نړۍ سرداران شوي وو او داسې تمدنونه یې پرې جوړ کړي وه چې عظمت ته یې سترګې ټیټېدلې. نوي نوي علوم یې ابتکار او زړو علومو ته یې نور پرمختګ هم ورکړ تر دې چې د ټولې نړۍ سرداران او جوړوونکي استادان شول. په یاد مو دي چې کله مسلمان خلیفه هارون الرشید رحمه الله د اروپا امپراطور شارلمان ته د مسلمانانو په لاس جوړ شوی ساعت (ګړۍ) ور ډالۍ کړ/کړه، نو د ساعت نه وتښتېدو فکر یې کولو چې ګوندې د نوموړي ساعت ستنې شیطانان او یا هم پېریان څرخوي.

٥ـ د اداري په علم کې: داسې پرې پوه شو چې د خپلو قیمتي وختونو او وعدو احترام وکړو، د خپلو کارونو لپاره په پوره فکر او ژور غور سره دقیق پلانونه جوړ کړو، په خبرو اترو او یو د بل د نظر او رأیې د احترام کولو په رعایت سره اداري جوړې او په خپلو کارونو کې بې نظمي او خپل سري له منځه یوسو.

٦ـ په اقتصاد او ټولنپوهنه یا ټولن پېژندنه کې: همدارار په اقتصادي او د ټولن پېژندنې په علومو کې خپل ځان لوړو پوړیو ته ورسوو. یو مسلمان داعي دې ته ډېر اړ دی چې په نوموړو ټولو علومو او د دې سره په خوا کې په نورو علومو هم دومره پوه شي چې لږ تر لږه د ژوند لوړې ژورې پرې سمې کړای شي او د اسلام دښمنانو پر وړاندې یې سترګې ټیټې او چپ پاتې نه شي او که کله پرې پوه نه شو؛ د اسلام د دښمنانو په وړاندې چپ پاتې شو، نو بیا به پرې د الله تعالی دغه مبارك قول تطبیق کېږي چې فرمایي: قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا * الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا...[سورة الكهف: الاية ١٠٣] ژباړه: دوی ته ووایه آیا تاسې ته د هغه چا په هکله چې د اعمالو په لحاظ یې سخت تاوان کړی دی خبر درکړم؟ د چا چې اعمال د دنیا په ژوند کې ضایع او ورک شوي دي او دوی ګمان کوي چې ګوندې ډېر ښه او نېک عمل کوي

حضرت امام حسن البصري رحمه الله فرمایي: د یو ناپوهه او بې علمه سړي یو کار کول داسې دی لکه یو سړی چې په غلطه لار روان وي. هغه هېڅ کله هم خپل هدف ته نه شي رسېدلی او فساد یې د اصلاح او سمون څخه ډېر زیات وي نو له دې امله علم باید په داسې طریقه حاصل شي چې عبادت ته زیان او تاوان ونه رسوي او عبادت په داسې طریقه ادا کړای شي چې علم ته زیان او ضرر ونه رسوي. حضرت امام ابن القیم رحمه الله فرمایي: «صحیح او سالمه پوهه او نېک عمل د الله تعالی د هغه ډېرو غټو نعمتونو څخه دي چې کله یې په خپل کوم نېک بنده باندې کوي، بلکې یو مسلمان ته د اسلام د لوی نعمت نه وروسته د دې څخه بل ښه او غټ نعمت نه وي ورکړل شوی».

نویسنده: احمد خان داعی

# بی حجابی در غرب

حجاب و غیرت در کنار هم قرار میگیرند، مردی غیور هیچگاه دوست ندارد که نظر نامحرمان بسوی زن و دخترش باشد در این مورد حضرت علی (کرم الله وجهه) می فرمایند: «به من خبر رسیده که مردان کفار در بازار مزاحم زنان شما می شوند، آیا شما غیرت ندارید؟ در واقع کسی که غیرت نداشته باشد خیری در او نیست».

این دستور خداوند ﷻ و بزرگان دین ما در رابطه به حجاب بود؛ اما ببینیم اروپای نوین و دنیای غرب با این واجب اجتماعی چگونه برخورد کرده است.

وقتی که فلاسفه و دانشمندان اروپایی در قرن هژدهم به دفاع از حقوق فرد پرداختند و دروازه های حریت و آزادی را به روی افراد گشودند در جامعۀ اروپا تمدن فاسد حاکم بود. که از ترکیب نظام اخلاقی، فلسفۀ زندگی مسیحیت و نظام فیودالیستی تشکیل شده بود. این سه عامل خارجی روح بشریت را به قیود سنگین و غیر طبیعی محدود ساخته بود.

نظریاتی را که دانشمندان نوین اروپا برای از بین بردن این نظام فاسد و جهت ایجاد نظام پیشنهاد کرده بودند به شکل انقلاب کبیر فرانسه عرض اندام کرد تا آنکه بعد از گذشت زمان روزگار به شکل موجود فعلی در آمد تا جایی که نظریات اساسی و اصولی بنیان اجتماعی اروپای نوین بصورت سه اصل ذیل تدوین شد:

۱- مساوات بین زن و مرد

۲- آزادی زنان در امور زندگی

۳- اختلاط و آمیزش مطلق بین زن و مرد

آنان از معنی مساوات چنین فهمیدند که باید زن و مرد در امور بشری و ارزش های اخلاقی مساوی باشند و زن درزندگی اجتماعی همان اعمال را انجام دهد که مرد انجام می دهد و همانطور که مردان در سابق از قیود اخلاقی آزاد بودند زنان نیز از همان بی بند و باری برخوردار باشند. این برداشت غلط از مساوات زن را از ادای وظیفۀ فطری و طبیعی اش که بقا و ادامه نسل بشر است غافل و منحرف ساخت و تمام ابعاد وجودی او را از حرکات و اعمال سیاسی، اقتصادی و اجتماعی به خود مشغول ساخته و شخصیت فطری او را از بین برد. موضوع انتخابات، وظایف رسمی، شرکت در مسابقات ورزشی، تیاتر، مجالس رقص و لهو و لعب و دیگر اسباب تفریح که دستآورد های این تمدن ظاهر فریب می باشند؛ حیا مانع از ذکر آن ها میگردد و آن همه را از وظیفۀ اصلی اش باز داشت و از انجام برنامۀ زندگی اش که قبول تکالیف زندگی زناشویی، تربیت اطفال، سر و سامان دادن به خانواده و رعایت اصول اسلامی و انسانی بود؛ بازداشت.

استقلال زنان در امور زندگی و مسائل اقتصادی باعث بی نیازی آنان از مردان گردید. قاعده و رسم قدیم بر این بود که مرد در بیرون از خانه کار می کرد و زن مشغول تدبیر امور منزل میگردید ولی این نظریه در عصر جدید تغییر کرد و مرد و زن هر دو به کار پرداختند؛ هوتل ها و شرکت ها، جای خانه را گرفتند. بنابر این دیگر رابطه و نیازی جز اشباع غریزۀ حیوانی شهوت بین زن و شوهر باقی نماند و کاملاً واضح است که فقط ارضای غریزۀ حیوانی زن و مرد را مجبور نمی سازد که در یک خانه زندگی نمایند و زندگی زناشویی مستمر و همیشگی داشته باشند. زیرا زنی که خودش کار می کند و همۀ کارهای خودش را انجام می دهد درزندگی روزانه اش نیاز به سرپرست ندارد که از او فرمان ببرد. این زن به خود میگوید برای چه با چنین مردی ازدواج کنم؟ و چرا خودم را به تحمل قیدهای اخلاقی و بار سنگین قانون سازم؟ در ضمن تفکر معصیت و گناه و ندامت نیز با از بین رفتن دین در اذهان رنگ باخته است و از طرف اجتماع هیچ خطری را احساس نمی کنند؛ بلکه اجتماع آنان را برای این برنامه ها تشویق میکند.

آخرین چیزی که این زنان از آن خوف دارند فرزندی است که از این طریق به وجود می آید ولی وسائل امروزی این خوف و هراس را نیز از بین برده است ابتدا از وسائل جلوگیری از بارداری و اگر مؤثر واقع نشد سقط جنین و اگر نشد کشتن یارها کردن نوزاد در کوچه ها و بازارها... فراوانی اختلاط و آمیزش بدون قید و شرط سبب شد تا آرایش، نمایش زینت‌ها و بی بند و باری در زنان زیاد شود؛ زیرا جاذبۀ جنسی بین زن و مرد دارای قدرت و کشش غیر قابل انکار است و اختلاط دو جنس و دستیابی آسان به جنس مخالف بدون پذیرفتن مسئولیت ها و مشکلات این قدرت و کشش را زیاد می کند. این اختلاط در جهان منجر به افزایش زنان فاحشه شد تا جایی که تعداد این زنان در فرانسه قبل از جنگ جهانی اول به نیم ملیون نفر رسید.

یکی دیگر از ضررهای آمیزش زن و مرد، طغیان شهوات جنسی بود. شبکه ای از ثروتمندان جهان نیز با در دست گرفتن جراید و روزنامه ها و سینماها به این امر دامن می زدند تا هم بازار به دست بیاورند و هم مشتری بیشتری کسب نمایند.

پس باید گفت: حجاب است که عزت و متانت یک شخص در آن حفظ می شود و نمی گذارد که آبرو و حیثیت انسان‌ها پایمال شود.

در جوامع که به این امر، ارج گذاشته نمی شود، ارزش‌ها و سجایایی اخلاقی در آنجا از بین رفته و هیچ ارزشی در آن‌ها دیده نمی شود.

# د سحر حقیقت

لیکوال: مفتي عبدالرحمن قریشي

الحمدلله رب العالمین والعاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی سید الانبیاء وخاتم المرسلین وعلی آله وصحبه ومن تبعهم باحسان الی یوم الدین.

اما بعد! الله تعالی په خپلو بنده ګانو ډېر فضل کوونکی او رحم کوونکی ذات دی، په هر دور کې یې د دوی د لارښوونې او بریالیتوب لپاره خپل کتابونه او احکام د انبیاء کرامو علیهم السلام په ذریعه رالېږلي دي چې د دغو انبیاء کرامو په لړۍ کې یې نړۍ ته خپل وروستنی رسول جناب محمد مصطفی ﷺ مبعوث کړ او یو داسې دین یې ورته ورکړ چې تر قیامته پورې د ټول عالم لپاره د لارښوونې او ژغورنې وسیله ده.

قرآن کریم او هغه احادیث کریمه چې د رسول الله ﷺ په ذریعه مونږ ته رارسېدلي دي دژوند په ټولو اړخونو کې مونږ لپاره غوره لارښوونې لري.

د توحید د عقیدې په هکله په قرآنکریم او نبوي احادیثو کې شدید تأکید شوی دی او د هر ډول شرک څخه د ځان ساتلو کلک امر کوي، ځکه د هرې ګناه د بخښنې ګنجایش که الله تعالی وغواړي نوشته، مګر دا د الله تعالی مقرر شوی قانون دی چې شرک په هېڅ صورت کې نه بخښي لکه څنګه چې فرمايي: إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ [سورة نساء: الاية ۴۶]

ژباړه: بېشکه الله تعالی نه بخښي دا خبره چې د هغه سره دې شرک وکړل شي او بخښنه کوي له دې څخه پرته د نورو ګناهونو چې چاته وغواړي.

سحر هم د توحید الهي منافي او یو شیطاني علم دی چې په قرآنکریم او نبوي احادیثو کې له دې څخه سخته منع راغلې او ورته کفر ویل شوی دی الله تعالی فرمايي: وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُو الشَّيَاطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَانَ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَٰكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ [سورة البقره: الاية ۱۰۲]

ژباړه: او کفر نه و کړی سلیمان علیه السلام، بلکې شیطانانو کفر کوه چې خلکو ته به یې جادو ښوده.

که څه هم سحر یو باطل کار دی بیا هم الله تعالی د خپلو بنده ګانو د ازمایښت په موخه په کې اثر اچولی دی، داسې ډېر باطل او ناجائز کارونه وي چې خپله بد اثر لري، بعضې ګناهونو کې د ضرر اثر زیات وي او په بعضو کې کم وي.

څوک چې د سحر له اثر څخه انکار کوي نو دا ناپوهان په اصل کې د قرآن او سنت د ښکاره نصوصو څخه انکار کوي، البته مونږ باید په دې عقیده واوسو چې جادو په خپله چاته زیان نشي رسولی مګر د الله تعالی په امر په هغه کې تاثیر راځي الله تعالی فرمايي: وَمَا هُمْ بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللهِ [سورة البقره: الاية ۱۰۲]

ژباړه: او دوی زیان نه شي رسولی په دې (جادو) سره هېڅ چاته مګر په حکم د الله تعالی.

کله چې د موسی علیه السلام له جادوګرو سره مقابله راغله او جادوګرو خپل فن ښکاره کړ قرآنکریم د دې خبرې ګواهي کوي چې پر موسی علیه السلام د هغې اثر وشو او وېره پرې راغله، الله تعالی فرمايي: فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُوسَىٰ، قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنْتَ الْأَعْلَىٰ [سورة طه: الآیات ۶۷-۶۸]

ژباړه: نو محسوسه کړه موسی علیه السلام په خپل نفس کې وېره، مونږ ورته وویل مه وېرېږه یقیناً ته پورته یا غالب یې.

موخه: سحر یو ډېر ناکاره او زیان رسوونکی عمل او د بنده ګانو لپاره یو ازمایښت دی، مګر دا د الله تعالی لوی فضل دی چې د هر مرض لپاره یې علاج رالېږلی دی، په ځانګړې توګه هغه امراض

چې د دین په هکله واقع کېږي د هغوی علاجونه په قرآن او نبوي سنتو کې راغلي دي.

زموږ د هېواد ډېری وګړي د اسلام د احکامو او د توحید د عقیدې څخه د ناخبرۍ په سبب د سحر په تړاو په وهمونو کې پراته وي، چا پرې سحر نه وي کړی خو شک کوي چې پرې سحر شوی دی او هغو کسانو ته ورځي چې د خلکو د ایمانونو او مالونو د تباه کولو لپاره ډول ډول درواغجن تبلیغات کوي او په اخبار کې اعلانونه ورکوي چې زه په اطمیناني ډول سره د جادو اثر له منځه وړم او کله ځان ته مشهور پیر یا خانداني پیر وایي حال دا چې د هغوی عقیده د شرک وي او اعمال یې د فسق، فجور، کفریاتو او لغویاتو ډولګه وي، مګر د افسوس خبره دا ده چې ځینې ساده ګان مسلمانان د دغو ناکاره پیرانو ښکار ګرځي.

نو لازمه ده چې د سحر د علاج لپاره شرعي لاره غوره کړای شي، ځکه چې د جادو ماتول په جادو سره نشره بلل کېږي کوم چې جناب نبی کریم ﷺ ترې سخته منع فرمایلې ده.

**د سحر حقیقت:**

سحر د سین په کسرې سره په لغت کې هر هغه اثر ته وایي چې د هغه سبب څرګند نه وي، برابره خبره ده که د هغه سبب معنوي وي، لکه: د ځانګړو کلیمو اثر او یا د غیرو محسوسو شیانو اثر چې مثال یې د پیریانو او شیطانانو اثر او یا په مسمریزم کې د شخص په قوت خیالیه باندې اثر دی او که د محسوساتو څخه وي لیکن هغه محسوسات پټ وي، لکه: د اوسپنې را ایستلو اثر په مقناطیس کې چې کوم وخت مقناطیس د سترګو څخه پټ وي یا د دعاګانو اثر کوم وخت چې دعاګانې پټې وي او یا د ستورو اثر.

نو له همدې کبله د جادو ډولونه ډېر دي لېکن په عامه توګه جادو هغه شیانو ته ویل کېږي چې په هغه کې د پیریانو او شیطانانو اعمال شتون ولري، د مسمریزم قوت خیالیه په کې موجود وي او یا هم ځینې ځانګړې کلمې په کې موجودې وي ځکه چې دا خبره د عقل او تجربې څخه ثابته ده، زړه او نوې فلسفه یې هم مني چې په حروفو او کلمو کې د ځانګړتیا په سبب څه اثرونه وي؛ د یوه ځانګړي حرف یا د یوې خاصې کلیمې په ځانګړي شمېر سره په لوستلو یا لیکلو کې د ځانګړو اثرونو مشاهده کېږي.

د قرآن او سنت په اصطلاح کې سحر هغه عجیبه شي ته ویل کېږي چې په هغه کې د شیطانانو په خوشحاله کولو سره د هغوی مرسته حاصل شوې وي؛ د شیطانانو د راضي کولو لپاره مختلفې طریقې دي کله داسې منتر وویل شي چې په هغه کې د شیطانانو صفت شوی وي او نور کفري الفاظ پکې کارول شوي وي او کله داسې اعمال وکړل شي چې هغه شیطان خوښوي، مثلاً په ناحقه یو څوک وژل او بیا د هغه وینه د ناوړه موخو ته درسېدلو لپاره کارول د جنابت او نجاست په حالت کې پاتې کېدل د پاکۍ څخه ځان ساتل او نور.

څرنګه چې د الله تعالی د ملائکو امداد په هغه اقوالو او افعالو حاصلېږي کوم چې ملائکې یې خوښوي لکه: تقوا، پاکي او د نجاست څخه ځان لرې ساتل د الله تعالی ذکر او د خیر کارونه، برعکس د شیطانانو امداد په داسې اقوالو او افعالو سره حاصلېږي چې هغه د شیطان خوښ وي نو په دې وجه په سحر کې هغه خلک کامیابه وي چې د الله تعالی د ذکر څخه لرې، نجس او د بدو کارونو عادي وي او پاتې نور نظر بندي، کوډې، د لاس د صفایۍ کارونو او مسمریزم ته مجازي سحر ویل کېږي. [روح المعانی ج ۱ ص ۳۳۸]

د سحر ډولونه:

په مفرداتو القران [ص ۲۲۴] کې امام راغب لیکي چې د سحر مختلف ډولونه دي، یو ډول یې محض نظر بندي او په خیال کې اچول دي چې د هغه واقعي څه حقیقت نشته، لکه بعضې شعبده بازان (نظربند کوونکي) خپل د لاس په چالاکۍ او صفایۍ داسې کار کوي چې د عامو خلکو نظر د هغه د لیدلو څخه قاصر وي یا د مسمریزم او نور د قوت خیالیه په ذریعه د چا پر دماغ باندې داسې اثر وشي چې هغه به یو شی په سترګوویني خو په اصل کې د هغه څه حقیقت نه وي کله دا کار د شیطانانو د اثر څخه هم کېدی شي چې د یوه سړي په سترګو او دماغ باندې داسې اثر وشي چې هغه یو شی په خپلو سترګو ویني خو په اصل کې هغه څه حقیقت نه وي، په قرآن مجید کې د فرعون د ساحرانو د کوم سحر ذکر چې شوی دی هغه د سحر لومړنی ډول دی څرنګه چې ارشاد دی: سَحَرُوا أَعْيُنَ النَّاسِ [سورة الاعراف: الاية ۱۱٦] ژباړه: (دوی د خلکو په سترګو جادو وکړ) او همدارنګه الله تعالی فرمایي: يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ أَنَّها تَسْعى [سورة طه: الاية ٦٦] (د دوی له سحر څخه د موسی علیه السلام په خیال کې دا راغله چې درسیو دا ماران ځغلي.)

د یخیل د لفظ څخه دا معلومه شوه چې کومې رسۍ او لکړې چې دوی غورځولې وې هغه نه په حقیقت کې ماران جوړ شوي وو او نه یې هم څه حرکت کاوه لیکن د حضرت موسی علیه السلام په خیال کې دا اثر جوړ شوی و چې دا ورته ځغلېدونکي ماران ښکاره شي.

بل ډول هغه په خیال کې راوستل او نظر بندي ده، چې په بعضو وختونو کې د شیطانانو د اثر څخه پیدا کېږي او د قرآن کریم د دې ارشاد څخه معلومېږي: هَلْ أُنَبِّئُكُمْ عَلَىٰ مَنْ تَنَزَّلُ الشَّيَاطِينُ، تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ [سورة الشعراء: الآيات ۲۲۱ـ۲۲۲] ژباړه: (زه تاسو ته ښایم چې پر کومو خلکو شیطانان نازلېږي پر هر بهتان لګوونکي او ګنهګار نازلېږي) او په بل ځای کې ارشاد دی: وَلَٰكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ [سورة البقره: الاية ۱۰۲] ژباړه: (شیطانانو کفر وکړ او خلکو ته یې جادو ورښود).

دریيم ډول یې دا دی چې د سحر په ذریعه د یو شي حقیقت بدل شي لکه د یوه انسان یا حیوان څخه کاڼی یا یو حیوان جوړ کړي امام راغب او ابوبکر جصاص د داسې ډول سحر څخه منکر دي او دا د معتزله وو قول هم دی لیکن د جمهورو

علماوو تحقیق دا دی چې د شیانو بدلېدل د یوې نوعې څخه بلې نوعې ته لکه د انسان بدلېدل په بیزو باندې چې دا نه عقلاً محال دي او نه هم شرعاً دا چې د سحر د درې واړو ډولونو واقع کېدل ممکن دي اوس یې شرعي حکم څېړو:

### د سحر شرعي حکم

څرنګه چې مخکې ذکر شو؛ سحر د قرآن او حدیث په اصطلاح کې یواځې هغه عمل ته ویل کېږي چې په هغه کې د فسق، فجور او کفر په وجه شیطان خوشحاله شوی وي او د هغه څخه مرسته اخیستل شوې وي او د هغه په مرستې سره څه عجیبه پېښې څرګندې شوې وي، د بابل د سحر کوم چې په قرآن کریم کې یې ذکر شوی دی امام جصاص وایي چې داسې سحر ته قرآن کفر وایي، ابو منصور فرمایي چې په مطلق ډول سره د سحر ټول ډولونه کفر نه دي، بلکه هغه سحر کفر دی چې په هغه کې د ایمان مخالف اقوال او اعمال وي، په روح المعاني کې راغلي دي؛ دا څرګنده خبره ده چې په قرآن او حدیث کې په وار وار راغلي دي چې د شیطان دې مخالفت وشي او پر هغه دې لعنت وویل شي د دې برعکس له هغه سره دوستي کول او د هغه دراضي کولو سوچ کول په خپله ګناه ده، بیا هغه هلته راضي کېږي چې انسان په شرک او کفر کې مبتلا شي یا لږ تر لږه په فسق او فجور باندې اخته شي او د الله تعالی درضا او د ملائکو د خوښې خلاف ګنده او پلیت شي دا یوه ګناه شوه او که چېرې د جادو په وجه چاته په ناحقه نقصان ورسېږي نو دا بله ګناه شوه؛ مطلب دا دی چې په قرآن او سنت کې چې کوم شي ته سحر ویل شوی دی هغه د کفر اعتقادي یا لږ تر لږه د کفرعملي څخه خالي نه دی خو که د شیطان دراضي کولو لپاره څه د شرک او کفر اقوال یا اعمال وشي نو دا کفر حقیقي اعتقادي کېږي او که چېرې د شرک او کفر د اقوالو یا اعمالو څخه محفوظ شي لیکن نور ګناهونه پکې وشي نو دا د عملي کفر څخه نه خالي کېږي، د قرآن کریم په دغه یادو شوو آیاتونو کې چې سحر ته کفر ویل شوی دی نو دا په دې وجه چې دا سحر د اعتقادي کفر او یا د عملي کفر څخه خالي نه وو.

لنډیز: دا چې په کوم سحر کې څه داسې عمل شوی وي، لکه: د شیطانانو څخه مرسته غوښتل، ستورې مستقل اثر کوونکي ګڼل، سحر معجزه ګڼل یا د نبوت دعوه کول نو داسې سحر په اجماع سره کفر دی او چې په کوم سحر کې داسې کارونه کول نه وي مګر ګناه کول پکې وي نو داسې سحر کبیره ګناه ده.

### په اسلامي شریعت کې د ساحر حکم

امام مالک رحمه الله فرمایي:

هغه جادوګر چې په خپله د جادو عمل کوي د دې مثال د هغه شخص دی چې د هغه په باره کې الله تعالی فرمائي: وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ [سورة البقره: الآية ۱۰۲]

ژباړه: او په تحقیق سره پوهېدل دوی چې خامخا هغه څوک چې اخلي جادو نو نشته د ده لپاره په آخرت کې هېڅ برخه.

او بیا فرمایي: زما دا رائه ده چې کله جادوګر د جادو عمل وکړي نو دی دې قتل کړی شي. [الموطا: ۶۲۸، کتاب العقول: ۴۳، باب ماجاء في الغیل والسحر: ۱۹]

ابن قدامه رحمه الله فرمایي:

د جادوګر حد قتل دی او دا شان روایت د جناب عمر، عثمان بن عفان، عبدالله بن عمر، حفصه، جندب بن عبدالله، جندب بن کعب، قیس بن سعد (رضی الله عنهم) او د عمربن عبدالعزیز رحمه الله نه هم نقل دی او همدا قول د امام ابو حنیفه او امام مالک رحمه الله هم دی.

امام قرطبی رحمه الله فرمایي:

د مسلمان او ذمي ساحر په حکم کې د فقهاوو اختلاف دی، امام مالک رحمه الله فرمایي: که یو مسلمان په کفري الفاظو سره جادو وکړي نو دا به قتل کېږي او له ده څخه به د توبې د ایستلو غوښتنه نه کېږي او نه به د ده توبه قبوله شي ځکه چې دی دا خپل کار د زندیق او زاني پشان پټول غواړي او له دې وجهې نه هم چې الله تعالی سحر (جادو) په کفر سره مسمی کړی دی الله تعالی فرمایي: وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ [سورة البقره: الآية ۱۰۲]

ژباړه: او نه به کوله ښودنه دوی دواړو هیچاته ترهغه پورې چې وبه ویل دواړو: بېشکه همدا خبره ده چې موږ ازموینه یو (له جانبه دالله) نو مه کافر کېږه (په زده کولو د) سحر چې دعمل پرجوازیې معتقد اوسې.

دا قول د امام احمد بن حنبل، ابو ثور، اسحق، امام شافعي او امام ابوحنیفه رحمه الله هم دی.

(تفسیر قرطبی: ۲/۴۸)

(دامام شافعي رحمه الله دا قول امام قرطبي داسې نقل کړی، خو مشهوره دا ده چې امام شافعي رحمه الله فرمایي: ساحر به صرف د سحر په سبب نه قتل کېږي، بلکې که ده په سحر سره څوک قتل کړی وي نو قصاصاً به دی هم قتل کېږي. [ابن المنذر وغیره نقل کړی]

ابن المنذر رحمه الله فرمایي:

کله چې یو سړی اقرار وکړي چې ده سحر په داسې الفاظو سره کړی دی چې هغه کې کفر وي نو که توبه ونه باسي یا که چېرې شاهدان وربانديې داسې شاهدي وکړي چې ده په داسې الفاظو سره سحر کړی دی چې هغه کې کفري الفاظ ول هغه به قتل کېږي، مګر که سحر یې په داسې الفاظو سره کړی وي چې په هغه کې کفر نه وي نو بیا قتل جائز نه دی. او که چېرې مسحور (جادو شوی) شخص په بدن کې یې کوم نقصان پیدا کړی وي، که قصداً یې دا کار کړی وي نو قصاص به ترې اخیستل کېږي او که نقصان دومره و چې قصاص په کې نه راتلو نو دیت به ترې اخیستل کېږي.

حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمایي:

څوک چې ساحر کافر ګڼي هغه په دلیل کې دا قول د الله تعالی پیش کوي: وَلَوْ أَنَّهُمْ آمَنُوا وَاتَّقَوْا [سورة البقره: الآية ۱۰۳]

ژباړه: او که په تحقیق دوی ایمان راوړی وای او پرهیزیې کړی وای (له سحره اوله یهودیته)

چې داسې د امام احمد رحمه الله په يو قول کې راغلي او د سلفو له يوې ډلې څخه هم نقل شوي دي، او چا ويلي دي چې کافر نه دی بلکې حدود دا دي چې سر ترې غوڅ کړی شي، لکه څنګه چې د امام احمد او امام شافعي رحمه الله څخه نقل دي، دوی فرمايي چې مونږ ته سفيان بن عيينه رحمه الله خبر راکړی دی د عمرو بن دينار نه چې ده د بجاله بن عبده نه اورېدلي دي چې هغه فرمايي: عمربن خطاب رضي الله عنه ليکلي ول چې ساحر سړی او ساحره ښځه قتل کړئ، دی وايي چې دا روايت امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب کې نقل کړی دی. [په حواله دتفسير قرطبي: ۴۸/۲]

دی فرمايي: چې د ام المؤمنين حفصه رضی الله عنها څخه ثابت دي چې په دې باندې يې يوې وينځې جادو کړی و نو دې د هغې په قتل کولو باندې حکم وکړ بيا هغه قتل شوه.

امام احمد رحمه الله فرمايي: د دريو صحابه کرامو څخه د ساحر د قتل کولو قول ثابت دی. [تفسير ابن کثير: ۱۴۴/۱]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي:

د امام مالک رحمه الله په نزد د ساحر حکم د زنديق د حکم په شان دی، د ده توبه به نه قبليږي که چېرې د ده سحر کول ثابت شي نو د حد په طور به قتلېږي. او دا مذهب د امام احمد رحمه الله هم دی او امام شافعي رحمه الله فرمايي چې ساحر به نه قتليږي مګر په هغه صورت کې چې اقرار وکړي چه ده په سحر سره څوک قتل کړی دی نو بيا به دی هم قتلېږي. [فتح الباري: ۲۳۶/۱۰]

**لنډيز:**

د ياد بحث څخه دا خبره څرګنده شوه چې جمهور علماء د ساحر په قتل کولو باندې قائل دي، پرته د امام شافعی رحمه الله نه هغه فرمايي: ساحر به نه قتليږي مګر په هغه صورت کې چې ده په خپل جادو سره څوک قتل کړی وي نو د قصاص په طور به دی هم قتل کېږي.

**د اهل کتابو د ساحر حکم:**

ابن قدامه رحمه الله فرمايي: امام ابو حنيفه رحمه الله فرمايلي دي چې ساحر به قتليږي ځکه چې په دې سلسله کې کوم احاديث راغلي دي هغه ټولو ساحرانو ته شامل دي چې په هغه کې د اهل کتابو ساحران هم راځي، او بله دا چې سحر يو داسې جرم دی چې د هغه په سبب د مسلمانانو قتل لازمېږي، نو د ذمي قتل هم لازموي. [المغني: ۱۱۵/۱۰]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي چې امام شافعي او امام مالک رحمه الله فرمايلي دي چې د اهل کتابو ساحر به نه قتليږي مګر په هغه صورت کې قتليږي چې ده په خپل سحر سره څوک قتل کړی وي [فتح الباري: ۱۳۶/۱۰]

ابن قدامه رحمه الله فرمايي:

د اهل کتابو ساحر به د سحر له وجهې نه قتليږي، بلکې په هغه صورت کې چې د ده په سحر سره څوک قتل شوی وي نو دی به هم د قصاص په طور قتليږي.

ځکه چې لبيد بن اعصم په نبي کريم ﷺ باندې سحر کړی و او نبي کريم ﷺ هغه نه دی قتل کړی نو ساحر د اهل کتابو واجب القتل نه دی، بله دا چې که څه هم شرک له جادو څخه لويه ګناه ده بيا هم اهل کتاب د شرک له وجهې نه قتل کيږي نو د جادو په جرم به هم د اهل کتابو ساحر واجب القتل نه وي. [المغنی: ۱۱۵/۱۰]

**مختلف مسائل**

۱ـ مسئله: کله چې دا معلومه شوه چې سحر د اعتقادي کفر يا د عملي کفر څخه خالي نه وي نو د سحر زده کول، بل چاته ښودل او يا هم پرې عمل کول ټول حرام دي البته که چېرې د دې غرض لېاره ښودل شي چې له مسلمانانو څخه په دې سره ضرر دفع شي نو بعضې فقهاوو يې اجازت ورکړی دی [شامي: ج/۴ ص/ ۲۴۰ عالمګيري]

۲ـ مسئله: تعويذونه او ځانګونه چې پيران يې کوي که چېرې په دوی کې د پيريانو يا شيطانانو څخه مرسته غوښتل شوې وي نو دا هم د سحر په حکم کې دي او حرام دي؛ که چېرې الفاظ يې شکمن او معنی يې معلومه نه وي او په کې د شيطانانو او بتانو څخه د مرستې غوښتلو احتمال وي نو دا هم حرام دي.

۳ـ مسئله: د بابل د سحر څخه علاوه د سحر نور ډولونه که چېرې په دې کې کفري او شرکي اعمال ترسره شي نو دا هم حرام دي.

۴ـ مسئله: که چېرې د کفر او شرک څخه خالي وي او په کې د نورو مباحو او جائزو شيانو څخه کار واخيستل شي نو دا يواځې په دې شرط روا دي چې په دې سره نا جائز مقصد او غرض حاصل نشي.

۵ـ مسئله: ناروا موخې ته د رسېدلو لپاره د قرآنکريم او يا هم د احاديثو د الفاظو څخه استفاده کول حرام دي، لکه: بل شخص ته د زيان رسولو په موخه د تعويذ جوړول او يا هم وظيفه کول که چېرې په کې د الله جَلَّ جَلَالُهُ نومونه، قرآني آيتونه ذکر شوي وي مطلق حرام دي.

**والله اعلم بالصواب**



# مبارزه با خشم

نویسنده: مولانا عبدالمناف معروف خیل

خشم یکی از نجوا های شیطانی است که منجر به بسیاری از بدبختی ها وناگواری ها میشود تنها خداوند است که نهایت این ناگواری را درک میکند؛ بخاطر این مسئله اسلام نکات زیادی درباره این مطلب دارد وپیامبر ﷺ برای این بیماری درمان هایی را پیشنهاد کرده وراه هایی برای محدود کردن تاثیرات آن دارد، که در ذیل به بعضی از آن اشاره می کنیم .

۱.از شر شیطان به خداوند ﷻ پناه ببرید:

سلیمان ابن صرد فرمود: من همراهی پیامبر ﷺ نشسته بودم که دو مرد همدیگر را دشنام می دادند؛ یکی از آنها صورتش سرخ شده بود و رگهای گردنش برجسته گردیده، پیامبر ﷺ فرمودند: «من کلمه ای را میدانم که اگر او این کلمه را بر زبان می آورد، احساس خشم او از بین می رفت اگر او میگفت از شر شیطان به خداوند ﷻ پناه میبرم، خشم از وجودش خارج می شود» [البخاری: والفتح ۶\۳۳۷]

پیامبر ﷺ فرمودند: هنگام که فردی عصبانی شود و بگوید، من از شر شیطان به خداوند ﷻ پناه میبرم، عصبانیت او فروکش خواهد کرد. [صحیح الجامع ـ الصغیر ،شماره ۶۹۵]

۲.آرام و خاموش باشید :

پیامبر ﷺ خداوند ﷻ فرمودند؛ اگر هر کدام از شما عصبانی شدید، آرامش خود راحفظ کرده و خاموش باشید [امام احمد،المسند،۱\۳۲۹: وصحیح الجامع ،۶۹۳،۴۰۲۷]

در بسیاری از موارد شخص عصبانی کنترول خود را از دست می دهد و کلمات کفر آمیز به زبان می آورد (از شر آن کلمات به خداوند ﷻ پناه میبریم ) یا هم از کلمه طلاق که منجر به فروپاشی فامیل شده استفاده میکنند، از کلمات تهمت انگیز استفاده می کند که باعث نفرت و دشمنی دیگران با او خواهد شد. بنا بر این خاموش و آرام بودن راه حل خوبی برای جلوگیری از این موارد می باشد .

۳.آداب سخن باید رعایت شود:

پیامبر ﷺ فرمود: اگر هر کدام از شما عصبانی شدید و ایستاده هستید، بهتر که بنشینید، عصبانیت شما از بین میرود، اگر با این طریق آرام نشدید بهتر است که دراز بکشید. نقل کننده این حدیث حضرت ابوذر(رضی الله تعالی عنه) و روایت این داستان قرار ذیل میباشد، او شترهایش را برای آب خوردن به آبشخور که متعلق به خود او بوده میبرد، افرادی دیگری در آنجا آمدند و به یکدیگر گفتند، چه کسی می تواند همراهی ابوذر (رضی الله تعالی عنه) در آوردن حیوانات برای آب خوردن رقابت کند؟ مردی گفت: من میتوانم، بنابر این او حیواناتش را آورده و با ابوذر(رضی الله تعالی عنه) رقابت کرد؛ درنتیجه آبشخور شکست. ابوذر(رضی الله تعالی عنه) انتظار کمک از آن را داشت اما آن مردرفتار مناسبی نکرده وباعث شکستن آبشخور شد، ولی ابوذر(رضی الله تعالی عنه) ایستاده بود، سپس او نشست و بعداً دراز کشید. شخصی از او پرسید: ای ابوذر(رضی الله تعالی عنه) چرا شما نشستید و سپس دراز کشیدید؟ او گفت: پیامبر ﷺ

فـرموده که خداوند ﷻ چنین فـرموده اند و حدیث بالا را نقل کردند. [مسـند احمد، ۱۵۲۱۵ صحیح الجامع و شماره ۶۹۴]

فوایدرهنمود فوق این اسـت که از کنترول خارج شـدن را جلوگیری می کند، چرا که شـخص می تواند در این حالات کسـی را مجروح ساخته و یا به قتل برسـاند و یا این که او می تواند وسـایل و لوازم را تخریب کند. نشسـتن و یا دراز کشـیدن باعث می شود که از هیجانی شدن، دیوانه شدن و تخریب وسایل جلوگیری شـود. علامه الخطابی که خداوند ﷻ او را بیامرزد در تفسیر خود به ابو داوود می گوید: کسی که نشسته باشد در مقایسه با فردی که ایستاده و کسی که دراز کشیده باشد در مقایسه با کسی که نشسـته است، کمتر میتواند باعث تخریب شـود وایجاد جراحت برای افراد شـود؛ ممکن اسـت که پیامبر ﷺ تـوصـیه به نشسـتن ویا دراز کشیدن را جهت داشتند که فرد دچار پشـیمانی در آینده نشـود و خداوند ﷻ از همه بهتر میداند. [سنن ابی داوود، معالم السـنه ـ ۱۴۱۱۵]

۴.رهنمود های پیامبر ﷺ رارعایت کنید:

حضـرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نقل کرده است که مردی به پیامبر ﷺ گفت: مرا نصیحت کنید؛ پیامبر ﷺ فرمود خشمگین نشو، مرد سوال خودرا چندین مـرتبه تکـرار کـرد و هــر بار پیامبر ﷺ فرمودند که عصبانی نشوید. [به نقل از البخاری وفتح الباری ۴۵۶۱۱۰]

برطبق روایتی دیگـر، مـرد گفت: من در رابطه با آنچه که پیامبر ﷺ فرمودند فکر کردم و فهمیدم که خشـم منشأ تمام اعمال بد و شرور میباشد. [مسنداحمد: ۳۷۳۱۵]

۵. خشـم خودرا کنترول کنید و بهشـت از آن شماست:

به خاطر داشـتن وعده خداوند ﷻ به تقوا کننده گان، کسـانی که از خشـم دوری میکنند و برای کنترول آن مبارزه میکنند یکـی از مفید تـرین راه های خاموش کردن شعله های خشـم میباشد. از احادیثی که بهترین پاداش را برای کنترول خشـم بیان میکند چنین است: هرکسی که خشم خود را کنترول میکند، خداوند ﷻ قلب او را بارضـایت و خوشـنودی در روزرسـتاخیز پر خواهد کرد. [الطبرانی ۴۵۳۱۱۲] یکی دیگر از پاداش های در سخنان حضرت محمد ﷺ چنین تشـریح شده است: هر کسی که خشم خودرا درزمانیکه وسیله لازم برای بروز آن دارد کنتـرول کند خداوند ﷻ در روز قیامت او را پیش از همگان فرا میخواند و به او اجازه ی انتخاب حوریان بهشـتی را میدهد. [ابو داوود: ۴۷۷۷]

۶. مزیت ها و موقعیت های خوبی نصیب افرادی که خشــم خودرا کنترول میکنند، را شناسایی کنید:

پیامبر ﷺ فرمود: مردی قوی کسـی نیسـت که قدرت بدنی بیشتر داشته باشد بلکه کسی است که خشم خودرا کنترول میکند. [امام احمد: ۲۳۶۱۲] هر چه شدت خشـم بیشـتر باشد همان قدر مقام شخصی که خشم خودرا کنترول میکند بلند مرتبه است .

پیامبر ﷺ فرمودند: قوی ترین مردان کسـانی هستند که هنگامی خشـمگین میشوند و صورت شان سرخ میشـود میتوانند خشـم خودرا خاموش کنند. [امام احمد: ۳۶۷۱۵] انس (رضی الله تعالی عنه) نقل میکند که پیامبر ﷺ از کنار افرادی که کشـتی می گرفتند عبور میکرد پیامبر ﷺ پرسید: این چه چیزی اسـت؟ آنها گفتند: که این مرد از قوی ترین هاست که میتواند هرشخصـی را لت وکوب کند پیامبر ﷺ فرمودند: آیا نمی خواهید بدانید که چه کسـی حتی از او قویترهسـت؟ شخصی که همراهی او بدرفتاری می شود و خشم خودرا کنترول می کند، شـیطان درون خود و شیطان شخصی که او را خشمگین ساخته است را شکست می دهد. [البزاز، الفتح: ۵۱۹۱۱۰]

۷. مثال و الگوی پیامبر ﷺ را درمورد خشـم به کار بگیریم:

پیامبر ﷺ الگوی ما می باشد و بهترین مثال ها را که از احادیث شـریف ثبت شـده و در این رابطه است را برجای گذاشته است؛ یکی از مشـهور ترین احادیث توسط انس (رضـي الله تعالی عنه) که خداوند از او خشـنود باشد نقل شده که میگوید: من همراهـی پیامبر ﷺ قدم میزدم و ایشـان کالای نجرانی که یخن زبری داشت پوشـیده بودند؛ یک عرب بیابانی به سـوی پیامبر ﷺ آمدن و به ایشان حمله کردن که داغی در گردن ایشـان به سبب حمله دیده می شد، سپس مرد عرب از پیامبر ﷺ خواسـت که به او چیزی سرمایه ای بدهد، پیامبر ﷺ به او لبخندزد و سپس دسـتور داد که به او چیزی بدهند. [فتح الباری: ۳۷۵۱۱۰] از راه های دیگـر که ما مـی توانیم الگوی پیامبر ﷺ را دنبال کنیم این اسـت که در جایی که حق خداوند ﷻ ضـایع میگردد، عصبانی و ناراحت شویم این گونه خشم با ارزش می باشد.

۸. بدانید که مقاومت در برابر خشـم از راه های تقوا می باشد:

متقون کسـانی هسـتند که توسط خداوند ﷻ و پیامبر ﷺ در قرانکریم تحسین شده اند؛ بهشت به وسعت زمین آسمان ها برای آنها فراهم است، از خصـوصیات آنان این است که آنها به خاطر خداوند متعال در خوشبختی و بدبختی خشـم خودرا فروکش می کنند و از گناه و تقصـیر دیگـران در مـی گذرند؛ حقیقتاً که خداوند ﷻ نیکوکاران را دوسـت دارند. [سـورة آل عمران: الاية ۱۳۴]

ایـن ها افرادی هسـتند که خداوند متعال به شخصیت خوب و ویژگی های زیبای آنها اشاره کرده و مردم آنهارا تحسین کرده و تقلید می کنند؛ دیگر از ویژگی های آنها این اسـت: هنگامی که آنها خشـمگین هستند، دیگران را مورد بخشش قرار می دهند. [سورة الشورا :الاية ۴۷]



# آیا د قرآن کریم تلاوت کوئ؟ که هو! نو په کوم نیت؟

لیکوال: مفتي عبدالقهار خالد ''زرنجوي،،

ډېر مسلمانان د قرآنکریم تلاوت یواځې د اجر او ثواب په نیت کوي خو د قرآنکریم له ډېرو سترو ګټو غافل دي.

داسې خلک چې په کوم نیت تلاوت کوي نو لایزال رب ﷻ ورته د هماغه نیت بدله ورکوي کوم چې دوی یې نیت کړی وي.

لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

"إنما الأعمال بالنيات وإنما لكل امرئ ما نوى" [متفق عليه]

ژباړه: د ټولو کارونو نتایج او عواقب په نیت پورې تړاو لري او هر شخص هغه څه ترلاسه کوي د څه نیت چې یې کړی وي.

په حقیقت کې قرآنکریم د ژوند لاره ده؛ نو ځکه زه خپل ځان او خپلو وروڼو او خویندو ته یادونه کوم چې د قرآنکریم د تلاوت کولو پرمهال د یو مسلمان نیت او اراده باید څو ځانګړنې او اهداف ولري:

۱-د قرآنکریم تلاوت به کېږي؛ د علم حاصلولو لپاره او په هغه علم باندې د عمل کولو په نیت سره.

۲-قرآنکریم به تلاوت کېږي؛ د الله تعالی څخه د خپل ځان، اولادونو او د کورنۍ د هدایت او لارښوونې په نیت سره.

۳-قرآنکریم به تلاوت کېږي؛ د الله تعالی سره د رابطې د جوړښت او مناجات په نیت سره.

۴-قرآنکریم به تلاوت کېږي؛ له ښکاره (ظاهري) او پټو (باطني) ناروغیو څخه د خلاصون/استشفاء په نیت سره.

۵-قرآنکریم به تلاوت کوو؛ د الله ﷻ په مرسته خپل ځان له تاریکیو/ جهالت څخه د خلاصون او د ژوند په ټولو برخو کې د روښنایی حاصلولو په نیت سره.

۶-د قرآنکریم تلاوت به په دې نیت کوو؛ چې دا د زړه د سختۍ لپاره علاج دی، او زړه ته ډاډ ورکوي او د همدې تلاوت شریف په برکت د جنوني او شیطاني فکرونو څخه خلاصون ترلاسه کړو.

۷-د قرانکریم تلاوت باید په دې نیت وکړو، تر څو خپل ځان او کورنۍ د کینې او بد نظرۍ له ناوړه مرض څخه وژغورو.

۸-د قرآنکریم تلاوت باید په دې نیت سره وکړو تر څو د ګمراهانو له ډلې بهر شو او د ذاکرینو په ډله کې مو الله تعالی حساب کړي.

۹-د قرآنکریم تلاوت باید په دې نیت سره وکړو چې د الله تعالی په نزد مو ایمان کې زیاتوالی راشي او پر الله ﷻ باندې د غوره او پوره یقین ټینګوالی حاصل کړو.

۱۰-د قرآنکریم تلاوت باید د الله تعالی له حکم سره سم د تجوید او ترتیل په نیت سره اداء شي.

دا چې د قرآن کریم تلاوت په ټولو ذکرونو کې غوره دی، نو په اهتمام او تلاوت کولو سره به یې یاد شخص ته د دنیاوي، اخروي ګټو او برکتونو سبب وګرځي؛ د الله تعالی درضا تر څنګ به خوشحاله ژوند ولري، مشکلات، مصیبتونه او تکلیفونه به ترې لرې کېږي او د برکت ژوند به پکې ترلاسه کوي، همدارنګه په کوم کور کې چې د قرانکریم تلاوت کېږي هغه کور به د شیطانانو، پېریانو، جادو او عامه مرضونو څخه په امن وي.

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دی: چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: د قرآن کریم تلاوت کوئ دا به د قیامت په ورځ د خپل لوستونکي شفاعت کوي. (مسلم) بل دا چې د شیطان یو له مهمو کارونو څخه دا دی چې تاسو له قرآن څخه لرې وساتي؛ په دې توګه چې د قرآن کریم تلاوت کولو ته به عذرونه کوي، تر څو چې دې ټول عمر تېر شي، او بې له دې چې پوه شي، نو ستا روح به په افسوس له جسد څخه بېل شي او د قیامت په ورځ به قرآن کریم د خپل تلاوت کوونکو ملګرو شفاعت کوي او ته به ترې بې برخې شوی یې!

په دې هیله چې د قرانکریم سره مو مینه زیاته او د تلاوت کولو یې جوګه شو.

# دیدگاه ها و دلهره ها در باب زنان

ترتیب کننده: حافظ محمد عیسی اکبری

الحمد لله و السلام علی عبده المصطفی و علی آله و اصحابه اجمعین.

زن از ریشه زندگی است، نماد زایندگی و پویایی، زیباترین واژۀ خلقت، زن در نگاه من نه به واسطه تعصب که به حقیقت، لبخند به تلخی و تبعید بشر به زمین است.

اگر خداوند جَلَّ جَلَالُهُ بشر را بدون زن خلق می کرد، هستی چیزی کمی داشت، زن زیبا ترین خلقت و رمز محبت خداست، مایۀ آرامش و ثبات و ستون خیمۀ زندگی! و آن که با خودش دنیایی را تداعی و هزار جمله را معنا می کند.

زن، تنها یک نام برای جنس مخالف مرد نیست، بلکه مکمل اوست، حتی برای تلفظش که از حیات سرچشمه گرفته و هم ریشۀ زندگی و مفهوم هستی است.

**جایگاه زن در اسلام:**

به تحقیق در یافته ام که از میان تمام مکاتیب و دیدگاه ها، گرامی ترین جایگاه را در اسلام به زن عطا کرده است. و به جرأت می توانم بگویم تمام آن های که مدعی بوده اند مدافع زن هستند، از همه کمتر به زن با تمام روحیات اش توجه کرده اند.

جای او را موجودی ذاتاً گناه گار دیده اند، جایی به اوج اش رسانیده و جایی او را به ذلت کشانیده و فقط راه رسیدن به او را هموار کرده اند.

اما زن در اسلام، چنان باید مکرم است و او را مظهر حرمت و حریم می بینند تأکید اسلام به مردان برای پا داشت مقام زن از مواردی است که اگر منصفانه به آن بنگریم، نشان می دهد که هیچ مکتبی به زن مثل اسلام محترمانه و محبوبانه نیست. در کنار آیات، روایات و احادیثی که در آن توجه به زن شایان ذکر است، سنت و روش رسول اکرم ﷺ هم خود دلیلی بر این ادعا است.

حسن توجه پیامبر ﷺ به زنان و حفظ مقام و حریم شان باعث شد تا برای همیشه این واقعیت در اذهان بماند که زن با اسلام و قبول مسلمانی، هویت اش را یافت و هرگز هیچ مکتبی او را چنین معزز و مکرم نداشته است.

**زنانی که از زندگی آنان تأثیر باید گرفت:**

تاریخ پر افتخار اسلام و روز های دعوت پیامبر اکرم ﷺ با درخشش زنان بسیاری به دست آمده رسیده است؛ ما وارث مقاومت و فداکاری زنانی هستیم که هم زمان با تلاش برای رشد و بلندی دین و نشر و اشاعه آن، در کنار آن حضرت ﷺ درخشیده اند و حماسه حضور شان، قابل انکار نیست. از اولین ایمان آوران به رسول اکرم ﷺ ام المؤمنین خدیجه رضی الله عنها و اولین شهید زن، سمیه رضی الله عنها تا امروز صفحه تاریخ اسلام، مزین به نام زنانی است که برای احیای دین، از هیچ چیز فروگذار نبوده و مخلصانه جان بر طبق اخلاص نهاده اند و چه بسا زنانی که در اوج گمنامی مانده اند.

الگوی زنان امت ما، حضرت عایشه رضی الله عنها مادر مؤمنان هستند و خواهند بود؛ انانیکه کاملاً در کنار پیامبر ﷺ بودند، مانند ام المؤمنین خدیجه رضی الله عنها که با سخاوت مال و دارایی اش یاری گر اسلام بود.

**آنچه در زندگی ام المؤمنین عایشه رضی الله عنها مهم و قابل توجه است:**

تاریخ پر فراز و نشیب اسلام و به تبع آن زندگی پیامبر ﷺ و همسران بزرگوارش، پر از نکته های با ارزش، ثانیه ها، و لحظه های پر تأمل است. آنچه مادر مؤمنان را در این میان برجسته کرده، در احادیث و قیصه های ایشان است که با وجود سن کم از آن برخودار بوده. تیز هوشی شان برای ثبت وقایع و درک سخنان پیامبر ﷺ که تا بعد از وجود مبارک شان به عنوان موثق ترین راوی و محل ذکر بدرخشد از آن جایی که ایشان پرورۀ بهترین و معتمدترین دوست پیامبر ﷺ است. او در خانۀ صادق ترین پرورش می یابد تا همسر عزیزترین گردد و در کنار ایشان روز ها و راوی حرف هایی باشد که مسیر ملتی را به سوی رستگاری رقم بزند. عایشه رضی الله عنها در تاریخ اسلام و از میان زنان مکرمه پیامبر ﷺ چون ماهی میان ستاره گان میباشد. سر زندگی و شادابی او برای روحیه بخشی به پیامبر ﷺ و ذکاوتش برای مسلمانان نقطه های عطف اند.

زنی در کنار پیامبر ﷺ شاهد روز های تلخ و شیرینی بود؛ از تهمت و تلخی زخم زبان ها تا حلاوت نزول آیه هایی در برائت و پاکی وی و امروز بعد از گذشت بیش از هزار و چهارصد سال چنان بزرگ است که بتواند همچنان الگو و اسوه ای برای زنان باشد تا از صبر و ذکاوت و پاکدامنی اش الگو برداری کنند. چیزی او را در ذهن ما برای تبعیت برجسته می کند؛ دقت در زوایای پیامبر ﷺ است که سنت او را به درستی زنده نگاه دارد تا جایی که صحابه بعد از پیامبر ﷺ در بارۀ هر مبهمی از عایشه رضی الله عنها می پرسیدند و جواب او محل وثوق و اعتماد بود.

چگونه می توان یک بانوی موفق مسلمان بود؟

پیروی از دین اسلام به عنوان عامل نجات، رهایی و تنها مکتب ارزش گذار برای زن این مکان را به او می بخشد تا در تمام عرصه های اجتماعی که حرمت و عزت زن در آنها پاس داشته شده، حضور موفق و تأثیر گذاشته باشد. اسلام، بستر های حضور اجتماعی و خانوادگی را به زنان عطا کرده تا با شئونات لازم گوشه ای از امور مرتبط به خودش را مدیریت کند.

ایمان به الله ﷻ و وجود مقدرش و طلب یاری از او برای رسیدن به مقصد های زندگی می تواند ضامن فلاح و رستگاری مان باشد درزمانه ای که شبکه های اجتماعی به شدت فعال اند و از این طریق، کانال ها و گروه های ملحد و عنکبوتی بر فکر و ذهن جوانان ما تار تنیده تا گمراهشان کند؛ بی شک ایمان به الله تعالی و انجام عمل صالح برای رسیدن به او، تنهاراه نجات است و با تمسک به این حبل متین، می توان از پل ها و سراشیبی های هولناک گذشت. و مسیر جز به نور حق روشن نمی گردد. تقویت روحیهٔ ایمان و قوی کردن اراده برای انجام اعمال صالح، هم خانواده و هم جامعه را در برابر مکروب ها واکسین می کند؛ به مسلح شدن آن، می توان ورود دروازهٔ را به جامعه گشود.

**قرآن؛ منشور حفظ کرامت زنان:**

یکی از مواردی که در خور توجه و باید عمیق به آن فکر کرد، سفارش در بارهٔ زنان است. در قرآن مجید مردان را به خوش خلقی و عدالت نسبت به زنان توصیه شده اند. قرآن کریم کتاب و منشور حفظ کرامت زن، و محرزترین اثری است که در آن سوره ای به نام زن وجود دارد و از این زنان عفیفه نام برده و حتی با نام یک زن مریم علیه السلام داریم.

سند برائت ام المؤمنین عایشه رضی الله عنها و داستان حضرت آسیه علیه السلام هم صفحات درخشان احترام به زن است که قرآن به آن اشاره دارد؛ بارها با این همه عزت که قرآن کریم به زن داده، آیا بی لطفی نیست که زن به آن تمسک نشود و قرآن کریم حبل متینش نگردد؟ این کتاب، نامه آزادی و احترام به زنان است و گرامیداشت آن از جانب زنان، حقی واجب است. حقوق زن در قرآن کریم با بیانی فصیح درج شده و مردان به واسطهٔ آن، مکلف به رعایتش هستند. قرآن کریم یک گواه و شاهد است که از سوره هایش منشور تکریم را استخراج کرد؛ کتابی سراسر پند و موعظه و سفارش به نیکی و از همه مؤکد تر سفارش به رعایت حقوق زنان.

**حجاب؛ مفهومی که خیلی در بارهٔ آن سخن گفته اند:**

با قبول اسلام و افتخار مسلمانی، ما تمام چهارچوب هایی را که محفوظ مان می کند پذیرفتیم و از همه مهم تر حجاب را، حجاب برای ما محدودیت نیست، مصؤنیت است؛ به حفظش کنار آمده محکم و دوستش داریم. وقتی این سپر تمام تیر های زهرگین و چشم های زهری را از ما دور می کند، چگونه می توانیم در قبولش تردید کنیم؟ جایی که ما برای حضور بی دغدغه ها در اجتماع و کار سالم باید هر خطری را از خود دور کنیم و خود هم خطری برای دیگران نباشیم، حجاب را بدون کدام اکراه بر می گزینیم تا هدف را در سایه این وسیله توضیح دهیم.

متأسفانه مدتی است که با ادعای طرفداری از زن به حجاب حمله های زیادی برده اند و آن را مورد هجوم قرار داده اند، چه در شبکه های اجتماعی و چه در رسانه ها؛ ولی آن چه مسلم است زنی که حجاب را پذیرفته و به عنوان دیوار دفاعی و دژ حصین در آن پناه گرفته، خوب می دانند که هیچ تبلیغ و تزویری به نام دفاع از حقوق زن نمی تواند او را از پوشش و حجابش جدا کند.

**تأملی بر وضعیت زنان در جهان کنونی:**

زمان، زمانهٔ فریب زن با شعار های پوشالی و عمل های نامطلوب است. قصهٔ برابری زن با مرد و افسانهٔ برتری دادن و بر سکوی اول نشاندن او، نه تنها یک دغل که خیانت بزرگ به زن است، برابری زن با مرد بدون در نظر گرفتن تفاوت ها و اعادهٔ حقوقش با سلب توانایی های متفاوتش، همان دروغ بزرگی است که همچنان بزرگ و بزرگترش میکنند تا باورش آسان تر باشد.

به نظرم در دنیایی کنونی زن در بدترین و هولناک ترین وضعیت خود به سر میبرد. همه مدعی حمایت و دفاع از حقوقش هستند، در حالی که حق و حقوقش و حتی خودش به راحتی انکار می شود. نوع جدید و مدرن بردگی، آزادی با عریانی و نیمه عریانی برای عرضهٔ راحت معنا می گیرد. بر طبل آزادی زن، در واقع کوفتن بر دهل میدان کارزاریست که زن را به جنگ می خواند، جنگ با هویت و ماهیت و جوهرهٔ وجودش، زن را به میدان آورده اند تا حقش را بخواهند، حقی که خود شان اولین پایمال کنندهٔ آن هستند.

**دختران جوان مسلمان!**

دختران مسلمان! هوشیار باشید؛ بدترین دشمن، کاری ترین خنجر و نزدیک ترین مهاجم به مرزهای فکر شما، جهل و قهر با کتاب و دانستن است. وقتی در دهکده جهانی و ادعای بی مرزی با وجود دانای بزرگ ارتباط زندگی کنی، تحقیر است اگر به حقوقت، به راه حل های برون رفت از مشکلات، آگاه نباشی! اگر از قرآن که سند نجات تو است و سنت رسول ﷺ، از زنان صدر اسلام و امهات المؤمنین رضی الله عنهم روی بگردانی و مسیر و راه ضلالت را برگزینی دیگر راه و سفری برای رهایی نیست.

مسلح شوید! به سلاح قلم در قلمرو ذهن و فکر و با زره و سپری از دانش که از گزند نفوذ شیاطین محفوظ بدارد عاقبت به خیری تنها شاهراه اسلام است و تمام بیراهه ها به بن بست ختم می شود من به عنوان کسی که تمام افتخارش به مسلمانی است به صراحت می گویم: قدر اسلام، قدر قرآن کریم و قدر سنت رسول اکرم ﷺ را بدانید و غیره از آنها به هیچ مسیری منحرف نشوید. صراط مستقیم الله ﷻ تنها راه برای هدایت است. هدایت از جنس رهایی، ورهایی از نوع گسستن تمام قید هایی که در مرداب های متعفن تن آرایی گرفتارت می کند. هیچ مکتبی، منهجی و وسیله ای بزرگراهی، غیر از اسلام و قرآن، فریب است و غلتیدن در گنداب و لجنزار است.

در پایان اسلام به زن، آرامش و حجاب زن را امنیت می دهد تا نه خود را در ضلالت بیندازد و نه دیگران را.

لیکوال: مولوي نورالحق مظهري

# په اسلام کې د نرمۍ او سختۍ پالیسي

اسلام د اعتدال او میانه روۍ دین دی؛ په هیڅ شي کې افراط او تفریط ته اجازه نه ورکوي، نو ځکه د انسانانو حالاتو او طبیعتونو ته په کتو یې د آسانۍ او سختۍ دواړه پالیسۍ اېښي دي او د کائناتو د نظام خوندي کېدلو او انساني بې بندوباریو مخنیوي لپاره یې دعوت او جهاد دواړه مشروع کړي دي، لکه رسول الله ﷺ چې فرمايي: أنا نبي الرحمة، أنا نبي الملحمة. [السیاسة الشرعیة]

ژباړه: زه د رحمت نبي یم، زه د جنگ نبي یم.

هدف له دې څخه دا دی چې رسول الله ﷺ د ټول عالم لپاره رحمت و؛ د نرمۍ په وخت نرمي کوونکی او د باطل او کفر په مقابل کې مبارز او جنگېدونکی نبي وو.

له همدې کبله چې اسلام د اعتدال او میانه روۍ دین دی نو دواړو جهتونو ته په کې خاصه پاملرنه شوې ده؛ د نرمۍ لوري ته او هم د سختۍ او جنگ لوري ته.

په کومو ځایونو کې چې نرمي او دعوت گټور واقع کېږي هلته دې له نرمۍ څخه کار واخیستل شي او په کومو ځایونو کې چې جنگ او سختۍ ته اړتیا پیدا کېږي هلته دې بیا جنگ وشي؛ د همدغه حکمت پر اساس په اسلام کې جهاد مشروع شوی دی، تر څو د زورواکو انسانانو سره د زور په ژبه خبره وشي؛ همداسې شرعي حدود او تعزیرات مشروع شوي دي تر څو نا اهله او لنډغر انسانان د مجازات له وېرې پر لاره باندې برابر شي.

که د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم سیرت ته ښه وگورو دا به راته ثابته شي چې دوی د اسلامي ارزښتونو، د مسلمانانو د واک او رعب ساتلو لپاره څنگه اخلاق غوره کړي وه! د حق څخه یې څنگه دفاع کوله او د هر ډول باطل سره په مبارزه کې څومره جدي وه.

کفارو ته دعوت او پر وړاندې یې زغم او حوصله مندي د رسول الله ﷺ د حکمت او مصلحت نرمه پالیسي وه، بیا جهادونه، مبارزې او سختۍ گالل د کفر (باطل) په وړاندې د رسول الله ﷺ د جدیت پوره ښکارندویي کوي؛ همداسې د نورو گناهونو او جرمونو په وړاندې یې غبرگون، د هر ډول فساد سره د رسول الله ﷺ سخت مخالفت او په مبارزه کې جدیت په ډاگه کوي.

مشهوره واقعه ده چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې یوې مخزومي ښځې غلا کړې وه د هغې قوم د شفاعت لپاره اسامه بن زید رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته واستولو، تر څو د دې څخه حد ساقط کړي، کله چې اسامه رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره خبره وکړه هغه ﷺ ورته وویل: آیا ته په یو حد د حدودو کې شفاعت کوې؟ بیا ولاړ شو خطبه یې وویله او ویې فرمایل: ای خلکو ستاسو څخه مخکې خلک ځکه بې لارې شول چې کله به په دوی کې غښتلي کس غلا کړې وه دوی به پرېښوده (حد به یې ورباندې نه جاري کولو) خو کله چې به په دوی کې ضعیف کس غلا وکړه بیا به یې حد ورباندې جاري کاوه، زما دې د الله په ذات قسم وي که د محمد ﷺ لور فاطمه رضی الله عنها غلا وکړي لاس به یې پرې کړم. [صحیح البخاري: ٦٧٨٨]

د دې واقعې څخه له ورایه ښکاري چې رسول الله ﷺ د باطلې واسطې پر وړاندې کوم چې د جاهلیت د زمانې یو منکر و څومره توند عکس العمل ښکاره کړ او څومره ژر یې خپل صحابه رضی الله عنهم تنبیه کړل.

په ډېرو احادیثو کې راغلي چې کله به رسول الله ﷺ کوم منکر ولید، نو دومره به په غوصه شو چې آثار به یې پر مبارک مخ باندې ښکاره شول.

د زکات د مانعینو په وړاندې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه توند غبرگون او هغه خلکو ته چې په نبوي مسجد کې یې چیغې وهلې د حضرت عمر رضي الله عنه قهر د هر ډول باطل په وړاندې د صحابه وو رضي الله عنهم د جدیت ښکاره بېلگې دي.

موږ هم که غواړو په تمامه معنی د رسول الله ﷺ، اصحابو او خپلو صالحو سلفو لاره تعقیب کړو باید د شرعي حکمت او مصلحت په مراعت کولو سره د هر ډول باطل په وړاندې جدي واوسو او پر ضد یې داسې مبارزه وکړو لکه هغوی چې کوله.



# د خلکو د تزکيې هڅه

ليکوال: مفتي وقايت الله (وقار)

زمونږ ډېرو ورونو ته دا بزرګي ښــــکاري چې يو کس له ټولنې فاصــله واخلي او د ټولنې هيڅ غم ورســره نه وي، يواځې په خپلو ذکرونو او وردونو اکتفاء وکــړي او نور نو د ټولنــې په وړاندې خپل مسؤوليت درک نه کړي.

مونږ که په واقعي معنی د دين غوښــتنه وګورو؛ نو پوه به شو چې دا تصور چې له ټولنې په هر حالت کې فاصــله واخله، هر څوک دې د خپل ځان غم کوي او نور که هــر څه کوي، ته د نورو پــروا مه ساته او خپله نېک اوسه، نه يواځې دا چې ديني نه دي، بلکې له دين سره په ټکر کې دی.

اسلامي شــريعت او په خاصــه توګه د محمد ﷺ وروستی دعوت ولاړ په دې دی چې دلته هر امتي تر خپله وسه مســؤول دی او بايد چې په دې اړه خپل مسؤوليت اداء کړي.

دا په تجربو ولاړه خبره ده چې که يو انســــان په خپله څومره هم نېک شــي؛ خو چې ټولنه نېکه نه وي او د ټولنې د تغيير هڅه ونه کــړي؛ نو دا نېک پاتې کېدای نه شي، انســان اجتماعي مخلوق دی او له ټولنې سره بې راشــه درشــه حتما دېته اړ کوي چې له خلکو به اغېزمن کېږي، که دی د خلکو د اصلاح هڅه ونه کړي، خلک به د ده د فســـــاد کوښښ وکړي.

دکتور عبد الکريم زيدان رحمه الله په [أصـــول الدعوة] کې ليکي: د اســــلام د ټولنيز نظام يوه ځانګړتيا داده چې دلته تر خپله وسه فرد د ټولنې د اصلاح، د فســاد د لرې کولو او له نورو سره د خير په کارونو کې د مرستې مسؤوليت لري، ځکه بايد دغه هدف ترلاســه شــي چې الله تعالی فرمايي: وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ. [سورة المائده: الاية ۲]

ژباړه: له يوبل ســره په نېکۍ او تقوا کې مرســـته وکړئ او په ګناه او تجاوز کې د يوبل مرســـته مه کوئ.

اسلامي دعوت د ټولو انبياوو عليهم السلام ګډه دنده ده، اســـلام د دې اعلان هم کړی محمدي امت چې غوره دی؛ نو د اسلامي دعوت په سبب غوره دی، الله تعالــی فــرمايــي: كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ [سورة آل عمران: الاية ۱۱۰]

ژباړه: تاســو غوره امت ياســت چې د خلکو د اصلاح په خاطر وېســتل شوي يئ، په نېکۍ به امر او له بدۍ به منع کوئ.

عام مفسرين په همدې نظر دي چې دلته د امت د غوره والي لپاره دا شرط ګرځول شــوی چې دوی به د خير لور ته دعوت کوي او له شـــر څخه به خلک منع کوي.

قرآن کريم د دې څرګندونه هم کړې چې دعوت د دې امت د فرد فرد وظيفه ده، فرمايي: قُلْ هَٰذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ [سورة يوسف: الاية ۱۰۸]

ژباړه: ته ورته ووايه، دا زما لاره ده، زه او پيروان مې

د الله تعالی په لور په پوره پوهې سره دعوت کوو، پاکي الله تعالی ته ده او زه له مشرکانو څخه نه یم.

په بل ځای کې الله تعالی فرمایلي چې د اسلامي واقعي دعوتگر تر وینا غوره وینا نشته: وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ [سورة فصلت: الاية ۳۳]

ژباړه: له هغه چا څخه غوره وینا د بل چا نشته چې د الله تعالی لور ته بلنه کوي، خپله نېک عمله وي او وایي زه خو له مسلمانانو څخه یم.

د اسلامي دعوت لويه گټه دا ده چې که مقابل لوری ورسره هدایت ومومي؛ نو څومره نېک اعمال چې کوي، د دعوتگر اجر به یکې وي، رسول الله ﷺ فرمایي: (من دل على خير فله مثل أجر فاعله) [رواه مسلم]

چا چې د خیر په لور لارښوونه وکړه؛ نو د ده اجر د کوونکي د اجر په اندازه دی.

پیغمبر ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته په خپل خاص وصیت کې د اسلامي دعوت اجر داسې روښانه کوي، فرمایي:

(لأن يهدي الله بك رجلاً واحداً خير لك من أن يكون لك حمر النعم) [متفق عليه]

ژباړه: که الله تعالی ستا د دعوت په برکت یو تن هم لارموندونکی کړي، دا درته له سرو قیمتي اوښانو غوره دی.

ډېر کله د انسان حرص خو داوي چې په خپله ډېر نېک اعمال وکړي او عملنامه یې له نېکیو ډکه شي، په همدې بنیاد فردي عبادتونو ته ډېره لېوالتیا لري، ولې واقعیت دا دی چې تر فردي نفلي عبادتونو څخه دعوتي کار ډېر ثوابونه لري او د هغې لامل دا دی چې یو خو د امت په غاړه دا داسې فریضه ده چې ټول امت اوس یکې پاتې راغلی او بل دا چې اجر یې ډېر دوامداره دی.

حضرت علي رضي الله عنه فرمایي: (أيها الناس إنما هلك من هلك ممن كان قبلكم بركوبهم المعاصي ولم ينههم الربانيون والأحبار أنزل الله بهم العقوبات ألا مروا بالمعروف وأنهوا عن المنكر قبل أن يتنزل بكم الذي نزل بهم واعلموا أن الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر لا يقطع رزقا ولا يقرب أجلا) [هكذا كان الصالحون]

ای خلکو، مخکني خلک چې هلاک شول، نو لامل یې داوو چې گناهونو ته یې مخه کړه، علماوو او راهبانو د هغوی مخه ونه نیوله، نو الله تعالی مختلفې سزاوې ورکړې، خبر شئ، مخکې له دې چې په هغوی کوم عذابونه راغلي وه په تاسو راشي، نو په نېکۍ امر او له بدۍ منع وکړئ، پوه شئ چې په نېکۍ امر او له بدۍ منع نه روزي بندوي او نه د انسان مرگ را نږدې کوي.

د اسلامي دعوت په لړ کې دوه وروستۍ خبرې دا دي چې یو خو که مقابل لوری اسلامي دعوت و نه مني هم؛ نو دعوتگر ته بیا هم د خپل دعوت اجر شته او مونږ سره د اسلامي دعوت په قواعدو کې یوه قاعده دا ده چې (اجر یوازې په دعوت واقع کېږي او د مقابل لوري د دعوت په قبلولو باندې ولاړ نه دی)

زمونږ هغه ورونه چې د اسلامي دعوت کار د مختلفو نومونو تر چتر لاندې پر مخ وړي، په لکونو دي، ولې د دعوت اغېز یې کم رنگه دی، دوی باید لومړی پر اسلام ځان سم پوه کړي تر څو د دعوت اغېز یې رنگ راوړي او په دې مقدس کار کې بریالي اوسي.

ډېر افسوس بیا د هغوی په حال چې دعوتي استعداد لري، پوهه هم ورسره وي او په حکمت هم اگاه وي، مگر د لټۍ، سستۍ او غفلت له کبله د دنیا په لذتونو کې ورننوتي وي او دیني دعوتي کار ترې شاته پاتې وي دوی دې د خپل علم په هکله و ویرېږي ځکه د علم، ځوانۍ او عمر په اړه به بیا د الله ﷻ پوښتنو ته څه ځواب وایي؟

مونږ باید شپې او ورځ ته و نه گورو، کار او خواري وکړو، ځان د عزت بامبوتیو ته ورسوو او د حق د عروج په هڅه کې اوسو، تر څو د دعوت في سبيل الله لپاره کار وکړو له کومه ځنگه چې د باطل پرستان د خپل منسوخ دین لپاره شپه او ورځ کار کوي، ولې مونږ د خپل حق دین لپاره نه ستړي کېدونکي هلې ځلې و نه وکړو؟ راځئ عزتمندو فقهاؤ، عالمانو، او استادانو جزوي مسائل پرېږدو؛ د اصلي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره یو له بل څخه مخکې شو او د اسلام مبارک دین د نړۍ گوټ گوټ ته ورسوو، که دا کار موو کړو لیرې نه ده چې په ټوله نړۍ کې به د فساد ریښې له بېخه راوباسو او د اسلام پر رڼا به یوه روښانه او متمدنه نړیواله ټولنه ولرو..



# د پاکوالي آداب

الله تعالی هغه وګړي خپل ملګري ګڼي چې د پاکۍ او سپېڅلتیا پوره خیال ساتي؛ د محمد مصطفی ﷺ ارشاد مبارک دی: «پاکي او سپېڅلتیا نیم ایمان دی یعنې؛ نیم ایمان توبه ده چې سړی خپل روح پاک او صفا وساتي او نیم ایمان دا دی چې سړی د بدن د پاکۍ خیال وساتي، د روح پاکوالی دا دی چې د کفر، شرک، ګناه، چټلیو څخه وساتل شي، په صالحه عقیده او غوره اخلاقو ښایسته کړای شي او دا چې له ظاهري ناپاکي نه په ساتلو یې د نظافت او سلیقې پر آدابو ښکلی کړو.

له خوبه د را ویښېدلو نه وروسته دې د لاسونو مینځلو پرته د اوبو په لوښي کې لاس نه وهي، څه معلومه ده چې په خوب کې یې لاسونه پر کوم کوم ځایونو وهلي او لړېدلي دي.

د لمبا په ځای کې د تشو متیازو له کولو څخه ځان وساتئ، په ځانګړي توګه چې د غسل کولو ځای سمنټ شوی نه وي.

د قضای حاجت پر وخت قبلې ته مخ مه کوئ.

که قضای حاجت ته مو اړتیا وي نو د خوړو خوړلو ته مه کښېنئ، اول خپل حاجت ختم کړئ او بیا خواړه وخورئ.

د استنجاء کولو او پوزې پاکولو لپاره کیڼ لاس وکاروئ.

د ویالو، نهرونو، پر عمومي لارو او تر سیوري لرونکو ځایونو لاندې قضای حاجت له پاره مه کینئ، له دې نه نور خلک تکلیفېږي چې دا کار د ادب پر خلاف دی.

کله چې بیت الخلا ته ځئ نو دا دعاء ولولئ:

اللهم اني اعوذبك من الخبث و الخبائث. [متفق علیه] او د راوتلو پر وخت دا دعاء ولولئ:

(غفرانك)

که خوله کې مو پان او نسوار وي، داسې خبرې مه کوئ چې پر مخاطب مو څاځکي پرېوځي او هغه په تکلیف شي.

د اودس کولو پرمهال فرضو، واجباتو، او سنتونو ته ښه پام کوئ، زیاتره وخت په اوداسه اوسېدلو سره ځان عادت کړئ اودس پر {بسم الله الرحمن الرحیم} ویلو پیل کړئ او د اودس کولو پر مهال دا دعاء ولولئ (اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریک له و اشهد ان محمدا عبده و رسوله، اللهم اجعلنی من التوابین و اجعلنی من المتطهرین )[ جامع ترمذی ].

ژباړه:زه ګواهي ورکوم چې له الله ﷻ څخه پرته هېڅ څوک معبود نشته هغه یوازې دی او هېڅوک ورسره شریک نشته، او زه ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله ﷻ بنده او رسول دی، الهي! ما په هغو خلکو کې شامل کړې چې ډېر زیات توبه کوونکي او زیات پاک اوسېدونکي دي.

او چې له اودس څخه اوزګار شئ نو دا دعا ولولئ: سبحانک اللهم وبحمدک اشهد ان لا اله الا انت استغفرک و اتوب الیک [سنن نسایي]

ژباړه: الهي ته پاک او تر هر څه لوړ یې د خپل حمد او ثنا سره،زه ګواهي ورکوم چې هېڅ څوک پرته له تانه معبود نشته مګر همدا ته یې،زه له تانه د بخښنې غوښتونکی یم او تاته درګرځم.

د نبي کریم ﷺ ارشاد مبارک دی چې د قیامت په ورځ به زما د امت نښه دا وي چې د هغوی تندی او د اوداسه غړي به له نوره ځلېږي نو چې څوک خپل نور زیاتول غواړئ زیات دې کړي. [متفق علیه]

مسواک وهل مو عادت وګرځوئ د نبي اکرم ﷺ ارشاد مبارک دی چې؛ که ما د امت د تکلیف خیال نه ساتلی نو په هر اوداسه کې به مې هغوی ته د مسواک وهلو حکم کړی و.

# ښتيني ادب

## د تقوا فضيلت

په تقوا کې فضيلت دى
څکه دا مقام اوچت دى
هره چاره ښکلې ښکاري
په تقوا کې عظمت دى
نور به ژاړي ته به خاندې
د اسلام دا شرافت دى
له منکرو چې ځان ژغوري
برابر پر شريعت دى
کډې بار کاروان خوځېږي
مسلمان لره عبرت دى
په ژوندون توښه پيدا کړه
بل ځراغ د آخرت دى
پر گناه دې ندامت کړه
چې دنيا کې لا فرصت دى
د ميزان قاضي را ياد کړه
دا د مينې صداقت دى
د غفلت جامې کړه ليرې
انتظار دې د قيامت کړه

حاجي عبدالحميد ارغنداوي

## مناجات

د ستورو تنې تويې د سحر خيري گريوان
خوره په غرو رغو کې ازانگه ده د اذان
قاري په لوغړن ترنم وايه الرحمن
چې زړونه لمبوزن شي په څپو کې د ايمان
اخر به په لاس درشي رڼه توره لکه لمر
د ستورو په نيزو وهه تياري د کفرستان
له صدقه يوه اوښکه بې بها ده بې بها
تر دُر تر مرغلرو تر ياقوتو تر مرجان
بيمار يمه بيمار يمه بيمار د بېلتانه
کړه جوړه ذايقه مې په النخل ورمان
الهي را اهدا کړې د بلبل بلالي غږ
ما هم يو لاروى کړې د حمدونو د کاروان

پير محمد کاروان

## ښځه په اسلام کې

داسي چې اهميت لري، مشر په يو قام کې
پت لري، عزت لري، ښځه په اسلام کې
ښکار به د هوس نه وي، مور به وي، يا خور به وي
ښـــــکلې په حيا به وي مشره د خپل کور به وي
تل به پـــــاک لمنه وي، په شرعي نظام کې
پت لري، عزت لري، ښځه په اسلام کې
هم به مرغله سي ځومره چې مـــــستوره سي
ژوند به مطمئن لري خاص جنتي حوره سي
کمه له بيبيـــــانو، نه ده په خپل مقام کې
پت لري، عزت لري، ښځه په اسلام کې
محض جنسيت خو څه دلته اعتبار نه دى
پرپرده سراجي نړى دا د هغو کار نه دى
هرچا ته ټاکلى حد، رب په خپل کلام کې
پت لري، عزت لري، ښځه په اسلام کې

مولوي فضل الدين سراجي

## بهتر شويم!

بايد اى دل اندکى بهتر شويم
يا نه، اصلاً آدمى ديگر شويم
از همين امروز، هنگام نماز
با خدا قدرى صميمى تر شويم
مثل روياى درخت و روح گل
زير احساسات باران، تر شويم
با همه افسردگى، اميدوار
آتش در زير خاکستر شويم

سيد حسن ثابت

## زن مومن

ای زن مــومــن خـــدارایادکن
دردل شـبها کمـی فـریاد کن
تابه کی درغفلت وهم سادگی
بهـردنیا مــردان ودل داده گی
اسوه ای زنهای عالم نام توست
خانه ای دل روشن از ایام توست
یکــه تاز راه ایــمان بــوده ای
درد امـــت را تـــو درمان بوده ای
ســردی چشمان امت از تـوبود
غیــرت واکمال عــزت از توبود
سـر فـراز ازنام تـو مردان شدند
کافــران از مجد تو حیران شدند
دامــن تـو مهد مردان خداست
درس مهرت عالمان را آشناست
پــرورش دادی محبان خـــدا
کـــرده دنیا را مــقامت روشنا

فراهی

## سجده اخلاص

دل را به نور عشق صفا می دهد نماز
جان را به یاد دوست جلا می دهد نماز

از خار زار شرک اگر بگذری به صدق
باغ تو را ز جلوه صفا می دهد نماز

تا بنگری جمال حقیقت ز معرفت
پرچشمه ات ز آب بقا می دهد نماز

پای تو را ز قید تعلق رها کند
دست تو را به دست دعا می دهد نماز

هر دم که سر به سجده اخلاص می نهی
روشن دلی ز یاد خدا می دهد نماز

چون بشنوی صلای مؤذن، شتاب کن
کز بارگاه قدس ندا می دهد نماز

مشفق کاشانی

## شعر

در خیابان چهره آرایش مکن
از جوانان سلب آسایش مکن
زلف خود از روسری بیرون مریز
در مسیر چشم‌ها افسون مریز
یاد کن از آتش روز معاد
جلوه‌ی گیسو مده در دست باد
خواهرم دیگر تو کودک نیستی
فاش تر گویم عروسک نیستی
خواهرم، این لباس تنگ چیست؟
پوشش چسبان و رنگارنگ چیست؟
خواهرم، اینقدر طن نازی مکن
با اصول شرع لج بازی مکن
خواهرم‌ای عاشق دین مبین
یک نظر ازواج پیغمبر ببین

محمد رضا آقاسی

## در حریم یار

دیباچه خرم بهار است نماز
راهی به سوی حریم یار است نماز

در معرکه نبرد با استکبار
فریاد بلند روزگار است نماز

م چه پرسی از نماز عاشقانه
رکوعش چون سجودش محرمانه

تب و تاب یکی الله اکبر
نگنجد در نماز پنجگانه

اقبال لاهوری

# غوره ویناوې

ــ او زه په بنده گانو هېڅکله ظلم کوونکی نه یم. [سورة ق: الآیة ۲۹]
ــ آیا الله ﷻ ښه غالب او انتقام والا نه دی. [سورة الزمر: الآیة ۳۷]
ــ د دنیا فایده ډېره لږه ده او اخرت ډېر غوره دی د هغه چا لپاره چې پرهېزه گاره شو. [سورة النساء: الآیة ۷۷]
ــ بې شکه الله تعالی ډېر ژر حساب کوونکی دی. [سورة غافر: الآیة ۱۷]
ــ خبردار شئ! یقیناً د الله ﷻ مرسته ډېره نژدې ده. [سورة البقره: الآیة ۲۱۴]
ــ او یقیناً! هغه څوک چې صبر یې وکړ او بخښنه یې وکړه، بېشکه دغه (صبر او بخښنه) خامخا له غوره کارونو څخه دي. [سورة الشوری: الآیة ۴۳]
ــ او هر هغه څوک چې د رحمن له ذکر نه ځان ړوند کړي، نو مونږ به په ده باندې یو شیطان مسلط کړو؛ هغه به له ده سره تل ملگری وي. [سورة الزخرف: الآیة ۳۶]
ــ مگر هغه کسان چې له دې نه بعد توبه اوباسي او د ځان اصلاح وکړي، نو بېشکه الله ﷻ ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی. [سورة النور: الآیة ۵]
ــ هر نفس د مرگ {مزه} څکونکی دی، بیا به خاص مونږ ته راگرځولی شئ. [سورة العنکبوت: الآیة ۵۷]
ــ مه خفه کېږه الله ﷻ زمونږ سره دی. [سورة التوبه: الآیة ۴۰]
ــ او د الله تعالی ډېر ډېر یادونکي اوسئ، ښایي چې تاسې ته به برې په برخه شي. [سورة الجمعه: الآیة ۱۰]
ــ او په یاد ولرئ، ستاسې رب خبردار کړي وئ چې که شکر وباسئ؛ نو پر تاسې به لا زیاته پېرزوینه وکړم او که د نعمت ناشکري وکړئ؛ نو زما سزا ډېره سخته ده. [سورة ابراهیم: الآیة ۷]
ــ ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو رکوع کوئ او سجده کوئ او د خپل رب عبادت کوئ او نېکي کوئ، د دې لپاره چې تاسو کامیاب شئ. [سورة الحج: الآیة ۷۷]
ــ او خامخا ژر به تاته ستا رب درکړي، {ای محمده! لویه برخه په آخرت کې او اختیار د شفاعت} نو ته به راضي {خوشحاله} شې. [سورة الضحی: الآیة ۵]
ــ او زما جنت ته ننوځه [سورة الفجر: الآیة ۳۰]
ــ هوښیار هغه څوک دی چې له خپل ځان سره محاسبه وکړي او له مرگ وروسته ژوند لپاره تیاری وکړي. [رواه ترمذی ۷۲/۲]
ــ درې دعاگانې هېڅکله نه ردېږي: د مور او پلار دعا د اولاد لپاره، دوهم د هغه چا دعا چې روژه یې نیولې وي، او دریم د مسافر دعا. [صحیح الجامع: ۳۰۳۲]
ــ څوک چې د ماسختن لمونځ په جماعت سره وکړي، لکه نیمه شپه چې یې عبادت کړی وي، او څوک چې د سهار لمونځ په جماعت سره وکړي، لکه ټوله شپه چې یې په لمانځه تېره کړي وي. [رواه مسلم: ۶۵۶]
ــ مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان یې د ژبې او لاس د ضرر څخه په امن وي. او مهاجر هغه څوک دی چې له هغه څه څخه هجرت وکړي {ځان وساتي} چې الله تعالی ترې منع کړې وي. [متفق علیه]
ــ قران عظیم الشان ولولئ، ځکه دی به د قیامت په ورځ راځي او د خپل تلاوت کوونکي لپاره به شفاعت کوي. [رواه مسلم: ۲۵۲]
ــ په سجده کې د بنده اړیکه د رب سره ډېره نږدې وي، نو په کار دا ده چې سجده کې ترې ډېرې دعاگانې وغواړئ. [صحیح مسلم: ۴۸۲]
ــ یوازینی کار چې په عمر کې ډېروالی راولي هغه نیکي کول دي او یوازینی کار چې تقدیر بدلوي هغه دعا ده. [ابن ماجه: ۷۳]
ــ که چېرې تاسو د خپل نبي (صلی الله علیه وسلم) سُنت پرېږدئ نو تاسو به خامخا گمراه شئ. [رواه مسلم: ۶۵۴]

# د ښکلا لټون

ليکوال: مفتي عبدالهادي حماد

## سپېڅلې سترګې د ناولتيا تر بريده مه رسوئ

ځيني خلک دعوه کوي چې موږ ښکلو څېرو ته له دې امله ګورو چې موږ عبرت ورڅخه حاصل کړو او دا کار په خپلو نېکو کړنو کې حسابوي، داسې کس بايد پوه شي چې يوه ورځ به حتماً د شيطان په فريب کې ښکېل شي. بايد څومره چې ژر کېږي د دې کار څخه ځان وساتي څو د شيطان له دې ناوړه فريب څخه وژغورل شي.

علامه عبدالرحمن بن الجوزي په خپل کتاب تلبيس ابليس کې د ابن عقيل څخه نقل کوي: ځيني انسانان د خپل نظر حفاظت له دې امله نه کوي چې وايي موږ پر خپل ځان باندې پوره باور لرو، دغه خبره بېخي بې اساسه ده، ځکه د اسلام سپېڅلي دين چې د سترګو د حفاظت امر کړی دی، هېڅ شی يې ورڅخه استثناء کړی نه دی بلکې په عمومي ډول يې امر کړی دی چې په هر صورت او هر وخت کې بايد هرڅوک د خپلو سترګو حفاظت وکړي، الله ﷻ فرمايي: قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّواْ مِنْ أَبْصَٰرِهِمْ وَيَحْفَظُواْ فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ [سورة النور: الاية ٣٠]

ژباړه: اې رسوله! مؤمنانو ته ووايه چې خپلې سترګې (د نامحرمه ښځو د ليدلو څخه) ښکته کړي او د خپلو عورتونو حفاظت وکړي دا کار د دوی لپاره ښه سپېڅلتيا ده، باور وکړئ چې الله ﷻ په هغه کړنو باندې ښه خبر دی، کوم چې دوی يې کوي.

په بل ځای کې فرمايي: أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ، وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ رُفِعَتْ، وَإِلَىٰ ٱلْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ، وَإِلَى ٱلْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ. [سورة الغاشية: الآيات ١٧-٢٠]

ژباړه: ايا نو دوی اوښ ته نه ګوري چې څنګه پيدا شوی دی او اسمان ته نه ګوري چې څنګه لوړ شوی دی او غرونو ته نه ګوري چې څنګه درول شوي دي او ځمکې ته نه ګوري چې څنګه برابره شوې ده.

په حقيقت کې ديد د دغه شيانو د عبرت لپاره تعين شوی دی په دې کار کې بايد د نفس د شهوت ونډه نه وي. [تلبيس ابليس: ص ٢٤٩]

علامه ابن قيم (رحمه الله) په خپل کتاب (الکافي) کې په دې اړه خورا زيات تفصيلي بيان ليکلی دی. ابن قيم (رحمه الله) په دغه بيان کې فرمايلي دي: فحشاء او د بې حيايۍ کارونه لومړی د سترګو څخه سرچينه اخلي. لکه هغه اور چې لمبې يې تر اسمان پورې رسېدلې وي، خو لومړی دغه اور په ځمکه کې د يوه کوچني بڅرکي څخه بل شوی وي، له همدې امله د سترګو ساتنه ډېره ضروري ده.

ابن قيم (رحمه الله) زياتوي: څوک چې د خپلو څلورو غړو ساتنه و نه کړي، هېڅ کله په دې نه شي توانېدلای چې خپل دين سالم وساتي، نوموړي څلور غړي عبارت دي له: سترګې، خيال او تصور، ژبه او قدم څخه.

شيطان د دغه څلورو لارو څخه د انسان په زړه کې نفوذ کوي او د انسان د هلاکت لامل ګرځي.



علامه ابن قیم (رحمه الله) دغه څلور واړه بیا په تفصیل سره ذکر کړي دي، لومړی یې د سترګو په اړه تفصیل کړی دی او فرمایلي یې دي:

لومړی د سترګو حفاظت ډېر لازمي دی، ځکه د سترګو حفاظت د عورت د ساتنې لپاره شرط دی څوک چې د سترګو حفاظت و نه کړي او د ناروا کتلو څخه یې منع نه کړي ډېر ژر به د هلاکت کندې ته وغورځول شي.

د انسان نظر د غشي په څېر دی کله چې وتوغول شي، مخکې تردې چې پر کوم ځای ولګېږي خپل ښتن هلاکوي، که څوک نامحرمه ښځې ته وګوري په اول ځل خپلې سترګې په خپل واک کې واخلي او بیا یې پرې نه ږدي چې نامحرمه ښځې ته وګوري کېدای شي چې دغه سړی د تندې څخه ووځي او که یې په خپل واک کې وانخلي، بلکې په څو ځلې خپل کتل تکرار کړي نو د هر ځل سره به یې تنده نوره هم زیاتېږي، لکه څوک چې د طاعون په ناروغی اخته شوی وی، بیا به یې د هلاکت پرته بل هېڅ علاج نه وي، نور ستا خوښه ده چې خپل کتل د اول ځل سره رابندوې او که ځان په ناروغی باندې اخته کوې څو آخر هلاک شي.

د سترګو د ناروا کتلو څخه د نه ساتنې یو تاوان دا دی چې د سترګو نور، ښکلا او روښنایي به یې له منځه ولاړه شي او په پایله کې به یې پر زړه باندې پرده وغوړېږي. دویم دا چې که دغه انسان نامحرمه ښځې ته زر ځلې وګوري بیا هم نه مړېږي بلکې برعکس داسې څوک به جوړ شي چې رسول الله ﷺ ته به منفور وي او د رسول الله ﷺ لعنت به ورباندې وي. کله چې د لعنت سره مخ شو د الله جل جلاله د رحمت څخه به لرې وي.

د ناروا کتلو څخه د سترګو د نه ساتلو بل تاوان دا دی چې د عبادت کولو د خوند څخه به بې برخې شي ځکه مخکې په حدیث کې ذکر شول چې رسول الله ﷺ فرمایي: هرمسلمان چې په نابره ډول د نامحرمه ښځې ښکلا ته وګوري دستې خپلې سترګې ورڅخه واړوي. الله جل جلاله به ده ته عبادت (ثواب) ور په برخه کړي؛ په زړه کې به یې خوند محسوس کړي.

د سترګو د نه حفاظت بل تاوان دا دی چې څوک په دغه ناروغی باندې اخته شي مخ به یې بې نوره او چټل شي.

کوم تاوانونه چې د سترګو په نه حفاظت کې شته هغه یواځې د دې لپاره نه دي چې سترګې د نامحرمه ښځو د کتلو څخه ونه ساتل شي نو د دغه تاوانونو سره به مخ کېږي، بلکې څوک چې لغړزنو هلکانو ته ګوري هغه هم د دغه تاوانونو سره مخ کېږي. مولانا اشرف علي تهانوي (رحمه الله) په دې اړه لیکي: ځینې خلک لغړزنو هلکانو ته ګوري او بیا په دې ځان خلاصوي چې زه دغه هلکانو ته د خپلو زامنو په سترګه ګورم، محبت ورسره کوم او کوم بد نیت نه لرم. حقیقت دا دی چې دغه خلک باید پوه شي چې دا د شیطان یو چل دی چې ستا په زړه کې یې دراچولی دی.

علامه عبدالرحمن بن الجوزي په خپل کتاب تلبیس ابلیس کې لیکي چې ابو عبدالله بن الجلاء فرمایلي دي: ما یوه ورځ یو عیسوي ښایسته ځوان ولید، سترګې مې پرې ولګېدې، نابره په دغه حالت کې ابوعبدالله بلخي تېرېده اوزما د درېدو له امله دی هم ودرېده، ما ورته وویل: دغه ښایسته ځوان وینې د قیامت په ورځ به په دوزخ کې سوځول کېږي، ما چې دا خبره وکړه ابو عبدالله بلخي زما پر اوږو لاسونه کېښودل او راته وې ویل: تا چې دغه لغړزني ځوان ته وکتل ډېر ژر به د دې تاوان ووینې. ابن الجلاء وایي تر څلوېښتو کالو وروسته زما هغه قرآن هېر شو چې ما یاد کړی وو. [تلبیس ابلیس: ص ۲۴۹]

ابوالادیان لیکي: یوه ورځ زه د خپل استاد ابوبکر دقاق سره ناست وم په دغه وخت کې یو ښایسته لغړزنی زما څنګ ته تېرېده ما ورته وکتل، استاد راته وویل: یوه ورځ به د دې دید تاوان ووینې. ابوالادیان وایي زه شل کاله په دغه فکر کې وم، یوه شپه مې په دغه خبره کې ډېر فکر وواهه سهار چې را کېناستم ټول قرآن مې هېر وو.

# دنیا د مؤمن لپاره څنګه بندیخانه ده؟

لیکوال: حامد افغان

په صحیح حدیث کې راغلي رسول الله ﷺ فرمايي: دنیا د مؤمن لپاره بندیخانه او کافر لپاره جنت ده. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ. [رواه مسلم، و أحمد في مسنده، و الترمذي في جامعه و ابن ماجه في سننه]

د دې حدیث د ښه وضاحت لپاره د حدیثونو د مختلفو شارحینو د خبرو غورچاڼ راخلم، په حدیث کې د مؤمن او کافر د دنیا او آخرت ژوند له بندیخانې او جنت سره تشبیه شوی دی. (دنیا د مؤمن لپاره بندیخانه ده) له دې څخه دا مطلب دی چې د دنیا ټول نعمتونه د آخرت په نسبت ډېر کم دي، د دنیا او آخرت د نعمتونو ترمنځ توپیر داسې دی، لکه د بندیخانې او آزاد ژوند ترمنځ توپیر. څرنګه چې کافر په جنت کې برخه نه لري نو د جهنم د عذابونو په نسبت دنیا د هغه لپاره جنت ده.

امام النووي (رحمه الله) د دې حدیث په شرحه کې لیکي: په دنیا کې مؤمن له حرامو کارونو او خوراکونو منعه کړل شوی؛ مختلف عبادات او مکلفیتونه پرې لازم شوي دي نو دا مسؤولیتونه او مکلفیتونه ترسره کول د بندیخانې په څېر سخت دي؛ څرنګه چې کافر له دې مکلفیتونو څخه خلاص کړی نو د هغه لپاره دنیا لکه جنت داسې ده.

امام ابن القیم (رحمه الله) وایي: د دې حدیث مطلب د مؤمن او کافر د مال او پایلې په لحاظ دی، یعني مؤمن که په دنیا کې هر څومره نعمتونه ترلاسه کړي دا له نعمتونو وکه دنیا یې د جنت د عجیبو او زیاتو نعمتونو په پرتله، لکه بندیخانه داسې ده او په آخرت کې د کافر د جهنمي او له عذابونو ډک ژوند په نسبت دنیا د هغه لپاره جنت ده.

لکه څنګه چې په بندیخانه کې بندیان تنګ وي او د آزاد ژوند د نعمتونو په انتظار او د آزادۍ په تمه شپې ورځې تېروي، مؤمنان به هم په دنیا کې د جنت د نعمتونو او پراخیو په انتظار شپې ورځې تېروي اوس ضرور نه ده چې دنیا لکه بندیخانه داسې شوه نو دلته به خوندونه نه اخلي، دلته به ښه او ښایسته ژوند نه کوي.

څیني ناپوهان او رهبانیت خوښوونکي د دې حدیث ظاهري معنا مراد کوي او لنډ وایي، دنیا د مؤمن لپاره بندیخانه ده، دلته به مؤمن نه خاندي، نه به ښه ژوند کوي، بلکې ژاړي به غریبي او بدمرغی ته به ملا تړي، خوشالي به نه کوي، د ښه ژوند کوښښ به نه کوي او که څوک په خوندونو کې وو نو د هغه په ایمان کې شکونه کوي. دا فکر او له حدیث نه دا مطلب اخیستل په خپله د حدیث غلطه تشریح ده او په دې معنا له لاندې آیتونو سره ټکر لري.

قرانکریم کې په تعجب سره پوښتنه مطرح کوي او وایي: قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ قُلْ هِيَ لِلَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ. [سُورَةُ الأعراف: الاية ۳۲]

ژباړه: [اې محمده!] دوی ته ووایه: چا د الله هغه ښکلا حرامه کړې ده چې د خپلو بنده ګانو لپاره یې راویستلې ده. او چا درب ښنل شوي پاك شیان منع کړي دي؟ ووایه: دا ټول شیان د دنیا په ژوندانه کې هم د ایمان راوړونکو لپاره دي، او د آخرت په ورځ خو به یوازې د همدوی لپاره وي.

قرانکریم په ښکاره ټکو د (زِينَةَ اللَّهِ او الطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ) یادونه کوي چې دا چا حرام کړي دي، زینة الله او الطیبت من الرزق کې د دنیا ټول خوندونه، نعمتونه او ښه ښه شیان راځي، په حلاله او روا طریقه دا شیان مؤمن ته داسې حلال دي، لکه د خپلې مور پاکې شیدې، آن ترلاسه کول او نورو ته رسول یې ثواب او عبادت دی.

همدا راز قرانکریم بل ځای وایي: وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ. [سُورَةُ الْقَصَص: الاية ۷۷] یعني کوم شتمني چې الله ﷻ تا ته درکړې ده، په هغې سره د آخرت د کور جوړولو فکر وکړه او له دنیا څخه هم خپله برخه مه هېروه. احسان وکړه، لکه څنګه چې الله ﷻ ستا سره احسان کړی دی او په ځمکه کې د فساد کولو هڅه مه کوه، الله ﷻ فساد کوونکي نه خوښوي.

دنیا د مؤمن لپاره بندیخانه په دې معنا شوه چې همدا دنیا به ټول ژوند نه ګڼي، آخرت به په یاد لري، او دلته به د آخرت د تلپاتي ژوند لپاره تیاری کوي، څیني تنبل او ناپوهه خلک د فقر او مسکنت په بې خونده او بې رنګه ژوند د قناعت لپاره په دې حدیث استدلال کوي! او دنیا کې د ښه ژوند ترلاسه کولو لپاره په نورو شرعي نصوصو او دلایلو سترګې پټوي یا پرې خبر نه دي او د همدې ناپوهانو په خبرو بیا سیکولر فکره خلک استدلال کوي چې مسلمانان خلک فقر او بدمرغی ته رابولي.

څکه خو د وخت د مسلمانو مفکرینو ویلي دي چې اسلام ته تر ټولو لوی خطر د اسلام ناپوهه او جاهل پیروان پېښوي، دوی د خپلې ناپوهۍ له امله اسلام ناسم او غلط تعبیروي او په همدې ناسمو او غلطو تعبیرونو د اسلام مخالفین استدلال کوي او په عامو مسلمانانو کې د اسلام په اړه شکونه او اندېښنې پیدا کوي.

د اسلام دفاع او د اسلام خدمت او چوپړ په تشو جذباتو سره نه کېږي، د اسلام لپاره قلمي جهاد او مبارزه په دې نه کېږي چې کمپیوټر او موبایل کې یو څه مهارت ولري، له خواله رسنیو سره بلدتیا ولري، پښتو یا نورې ژبې دې زده وي. بلکې دا کارونه د قران او حدیثو ژور علوم غواړي، د وخت له مختلفو پوهو، علومو او د استدلال له طرز سره بلدتیا غواړي، په معاصرو علومو او نړیوال ادب کې مهارت او د وخت نبض پېژندلو ته اړتیا لري.

د دې حدیث دا پورته صحي تشریح خورا مهمه ده او باید دا تشریح عامه شي. په خواله رسنیو کې مې د مختلفو ژبو سیکولر فکره فعالان او آتیسټ فکره لیدلي دي چې اکثره یې د ناپوهه مسلمانانو خبرې او ساده استدلال شاربي او په هغو طنزونه او ټوکې جوړوي. په ځانګړې توګه همدا مبارک حدیث هم د ناپوهانو له تشریحاتو او تعبیراتو سره ډېر یادوي او په دې غلطه طریقه په اسلام نیوکې کوي.

# ژبه، قومیت او تعصب

لیکوال: عبدالجبار بهیر

اسماني دین او الهي رسالت بشریت ته د خیر ښېګنې او پرمختګ په موخه رااستول شوی دی، د دې دین غوښتنې، اوامر او سپارښتنې ټولې د انسان د خیر او بریا لپاره دي، له څه نه چې منع کړل شوي دي په هغه کې یې الله جل جلاله خیر نه وینې او په څه چې ورته امر شوی دی د ژوندانه او له ژوند څخه وروسته د بیا ژوند ټولې بریاوې یې پکې خوندي دي.

انسان مکلف دی د الهي ارشاداتو په برخه کې بشپړه پوهه ولري، همداراز د کړو وړو په اړه په هر وخت کې او د هر څه په برخه کې مسؤولیت لري او پوښتل کېږي، کله چې انسان د پوهې (مکلفیت) مرحلې ته ورسېږي، د هرې کړنې او وینا په اړه یې د نه پوهې عذر ناسم کار دی او د الهي دین او مسؤولیت څخه خلاص نه بلل کېږي.

د اسلام د مبارک دین یوه ځانګړنه دا هم ده، چې ډېر واضح او سوچه لارښوونې لري، د نورو منحرفو دینونو په څېر یې راهبان او پوهان (علماء) نه شي کولای ور څخه د خپلې خوښې ناسمې تاویلونه وکړي یا د دې دین د پیروانو د تېر ایستلو او خطا کولو په برخه کې د هر څه تعبیر او برداشت د خپل ځان واک وبولي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته په یوه خطبه کې د خطاب په توګه وویل: "تاسې مې په رڼایي کې پرېښې یاست، شپه یې د ورځې په څېر ده، چې له ما وروسته به له دې منهجه (لارې) هلاک شوی کس بې لارې کېږي (د اسلام لاره واضح ده هېڅ یو بنده هم نه خطا باسي.) [المعجم الکبیر د امام طبراني، ۴م باب، ۱۳م توک، ۱۶۴م مخ] همدې اصل ته په پام دین هر څه واضح کړي دي او چاته حق نشته، چې په خپله خوښه یو څه حرام او بدوګڼي یا بل څه ته حلال او ښه ووایي.

په اسلام کې د هرې کړنې یا وینا لپاره بېل تعریف او ځانګړی موقف او په اړه یې غوڅ دریځ وړاندې شوی دی. د اسلام سپېڅلي دین مبادي او اصول غوره کړي دي، چې د ژوندانه سرې کرښې بلل کېږي او بنده ته پکې اختیار نشته، څو د خپلې خوښې له مخې یې وکاروي، حلال واضح دي او حرام واضح دي، خو یو شمېر داسې کړنې او فعالیتونه هم شته، چې اسلام یې نه ردوي او نه پرې صریح امر کوي، په دې برخه کې بنده ته واک ورکول شوی دی، څو د خپلې خوښې او فکر له مخې دریځ غوره کړي. [سنن بیهقي، چاپ: معارف-هند، باب: هغه څه چې حرمت یې نه دی ذکر... ۱۰توک، ۱۲م مخ.]

د ژبې، قوم او قومي تعصب موضوع هم د ژوندانه له مهمو موضوعاتو څخه شمېرل کېږي او د انسان د پرمختګ او تمدن ښکارندوی دی، ور څخه ګټه اخیستنه او په اړه یې کار کول دواړه (سم او ناسم) اړخونه لري، چې له بده مرغه ځینې خلک یې مطلق د ناسم یا ناروا اړخ زیات څېړي او تل یې ټینګار په دې وي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له قومیت، ژبپالنې څخه منع کړې ده او قومي تعصب یې ناسم بللی دی. غواړم په دې لنډه لیکنه کې هغو ټکو ته اشاره وکړم، چې د ژبې پالل او له قوم او ټبر سره مینه ساتل یو منل شوی اصل دی:

**لومړی: ژبه او قومیت**

الف: ژبه د افهام او تفهیم لپاره وسیله ده

انسان نړۍ ته د بېلابېلو ژبو، توکمونو او ټبرونو سره راغلی دی او پر بنده د الله جل جلاله له پېرزوینو څخه یوه یې په بېلابېلو نژادونو او قومونو د انسانانو پیدا کول (خلقت) او خپلمنځي پېژندګلوي او تعارف ده، الله جل جلاله وایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْ [سورة الحجرات: الایة ۱۳]

ژباړه: ای انسانانو! موږ تاسې (ټول) له یو نارینه او ښځې پیدا کړي یاست. او د دې لپاره مو خېلونه او قبیلې وګرځولئ، چې سره وپېژنئ.

نو د انسانانو جوړښت د جنس توپیر او په بېلابېلو قومونو او ژبو یې خلقت الهي پېرزوینه ده او د انسانانو خپلمنځي پېژندنه الهي غوښتنه ده، چې بنده یې په پېژندلو او د مخلوقاتو په اړه په فکر کولو مکلف بلل شوی دی.

ب: یو قوم ته یوه ځانګړې ژبه غوره کول الهي پېرزوینه ده:

الله جل جلاله چې په خپل بنده کومې پېرزوینې کړې دي، نو د هغو یادونه یې هم زیاته کړې ده، چې ځانګړې اهمیت لري او په ژوندانه کې خورا مهم وي.

د دین په اړه پوهاوی او د اسماني رسالت په وړاندې د بنده مسؤولیت تر ټولو لویه وجیبه ده، چې له امله یې الهي استازی هر قوم او ولس ته د هغوی په ژبه استول شوی دی، څو وکولای شي د خپل څښتن تعالی پېژندنه او د رسالت ادا په احسنه او هغه طریقه تر سره شي، کومه چې الله جل جلاله غوښتې ده.

قرآنکریم په وار وار د هر نبي او رسول صلی الله علیه وسلم له رسالت سره په دې ټکي ټینګار کړی دی، چې هر قوم ته الله جل جلاله خپل استازی څکه د هغه په ژبه استولی دی، څو اسماني لارښوونې سمې پلې کړي. او دا کړنه بنده ته الهي پېرزوینه بلل شوې ده. [سورة ابراهیم: الایة ۴]

ج: اسلامي دعوت لومړی له خپل قومه پیلېږي

که قرآني لارښوونو، نبوي سیرت او د محمد صلی الله علیه وسلم ژوندانه ته ځیر شو، نو راته به جوته شي، چې قوم، ژبه او ټبر په اسلامي دعوت کې څومره رول لري او څومره اغېزمن تمامېدلی شي.

د مکې کفارو خوږ نبي صلی الله علیه وسلم په بېلابېلو نومونو او تورونو متهم کړ، لیونی، شاعر، کیسه کوونکی او بنداري یې ورته وویل، خو هېڅکله یې هم د قوم او ټبر په تور نه شو تورنولای، چې دا خپله د هغه د مبارک شخصیت او قومي درنښت او لوړوالي اثر په ډاګه کوي. همداراز د محمد صلی الله علیه وسلم سره د هغه د تره او د ټبر د ملاتړ قوت د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې خورا ارزښتمن وو، هېڅ وخت ورته په سپکه سترګه نه شو کتلی.

که د قرآن کریم اوامرو ته مراجعه وشي، نو د دعوت او اسلامي بلنې لومړی سپارښتنه او امر هم له خپلې کورنۍ او خپلوانو پیلېږي او له همدې څخه بیا مکلف بلل شوي دي.

دعوتي ټينګ ګروپ جوړېږي او د برېا ساحل ته ځان رسولای شي.

الله جل جلاله اسماني دين ته د دعوت په لړ کې، خپل نازولي رسول محمد ﷺ ته د هغه د نژدې خپلوانو د بلنې امر کوي، څو همدا کورنۍ يې د نورو ناخوالو او ستونزو په حل کې ور سره ملاوتړي. [سورة الشعراء:الاية ۲۱۴]

د: په اسلام کې هر عمل بذاته ښه بلل شوی دی، چې ناسم و نه کارول شي

د انسان پيدايښت او په نړۍ کې ژوند کول د اسلامي اصولو له مخې تر سره کېږي، چې سم او ناسم يا حلال او حرام دواړه په ډېر صراحت واضح شوي دي او په اړه يې انسان ته واک ورکړل شوی دی، چې هره لار غوره کوي او په هر کار لاس پورې کوي.

د انسان له شخصي بدن او د بدن له غړو، بيا تر عبادت کولو، خوراک، څښاک، ناسته پاسته او په ټولنه کې ژوند او هره کړنه دواړه توجيهات لري، هم ښه او حلاله ښه او هم بد يا په حرامه توګه يې کارول او تر سره کول.

که عبادت د الله جل جلاله لپاره وي، نو د ثواب او اجر تمه ورته کېږي، خو که د ريا او خلکو د تېر ايستلو لپاره تر سره شي، نه دا چې ثواب لري بلکې بنده پرې رټل کېږي، همداراز د انسان د بدن غړي، که د الله جل جلاله د امر په تر سره کولو کې ترې کار واخيستل شي عبادت دی، خو که ناروا ته اوږده کړل شي، د قتل او نورو ناخوالو لامل هم کېدای شي، نو هر عمل سم او ناسم لري.

پورتني اصل ته په پام، ژبه او قوميت دواړه (ښه او بد) اړخونه لري، که انسان يې د الهي رسالت د ادا او د خپل قوم او ټبر د پوهاوي په موخه خدمت وکړي، د ټولنې د خير ښېګڼې سبب ګرځي او د دواړو دنياوو د نېکمرغۍ لامل کېږي، خو که د ظلم يا بدو د تاييد لپاره وي، دا تعصب او مردود عمل بلل شوی دی. او د خوږ نبي ﷺ وينا هم د همدې تاييد کوي او وايي: تعصب پرېږدئ، بېشکه چې دا بد بويه کړنه ده. [بخاري: ۳۸۳۶]

**دويم: تعصب او پالنه**

تعصب، عربي کلمه ده، اصل جذر يې (ع.ص.ب)، د چاپېره کېدو او ملاتړ په مانا دی، عَصَبَ القَوْمُ بِهِ، يعني قوم يې پرې چاپېر شو. او (تَعَصَّبَ) د مرستې او چاپېرېدو په مانا هم دی، تَعَصَّبَ لهُ يا بِهِ، يعني ور څخه يې ملاتړ وکړ او ترې چاپېر شول.

د تعصب کلمه او مفهوم په نبوي احاديثو کې د يو ناروا کار او عمل لپاره کارول شوی دی، خو هر کار ته تعصب ويل يا يې په تعصب تورنول ناسم فکر دی، ځينې داسې موارد هم شته، چې د قوم يا خپل ځان يادونه او په کړنو وياړ يو مشروع عمل دی. د اسلام په سپېڅلي دين او تاريخ کې يې بېلګې يادولی شو:

**الف: د خپل حق غوښتنه او ځانګړنه يادول تعصب نه دی**

تعصب يا پالل که د زړه سوي، مرستې او پرمختګ په موخه وي، نه دا چې ناروا عمل دی بلکې اسلام يې ملاتړ کوي، رسول الله ﷺ وايي: خپل وررور که ظالم وي يا مظلوم مرسته يې وکړه." صحابه کرامو رضي الله عنهم پوښتنه وکړه، چې له مظلوم سره مرسته خو شوني ده، نو له ظالم سره مرسته څنګه کېدای شي؟ محمد ﷺ ځواب ورکړ: "ظالم له ظلمه منع کول د هغه مرسته کول دي. [سنن بيهقي، چاپ: معارف-هند، باب: هغه څه چې حرمت يې نه دی ذکر...، ۱۰ټوک، ۱۲م مخ]

د انسان مظلوم واقع کېدل دين نه دي تاکلي، هره هغه مسلمه غوښتنه، چې شرعاً يې په اړه مانع نه وي د يو انسان حق بلل کېږي او د سلب پر مهال يې هغه مظلوم دی، نو د يو قوم يا انسان ثقافت، فرهنګ او قومي عادتونه او خويونه چې تهديد شي، ملاتړ او ور څخه دفاع يې تعصب نه بلل کېږي.

هر وګړی او هر قوم دا خوښوي، چې په نړۍ کې سرلوړی، مهذب او پرمختللی وي، خو دا د نورو د تسخير په توګه نه، بلکې خپله قومي مينه او غوښتنه يې ده.

رسول الله ﷺ وايي: "زه عربي يم، خو فخر نه کوم "(انني عربي ولا فخر). همداراز د خپلو ځانګړنو يادونه کوي او وايي (عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو عَنْ أَنَسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ "إِنِّي لأَوَّلُ النَّاسِ تَنْشَقُّ الأَرْضُ عَنْ جُمْجُمَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ فَخْرَ وَأُعْطَى لِوَاءَ الْحَمْدِ وَلاَ فَخْرَ وَأَنَا سَيِّدُ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ فَخْرَ وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ فَخْرَ...)

ژباړه: د قيامت په ورځ زه لومړی کس وم، چې له ځمکې راپورته شم (زما سر به لومړی ځمکه څيري)، خو فخر نه کوم، ماته به د ستاينې او حمد جنډه را کول کېږي او فخر نه کوم، او د قيامت په ورځ به زه په ټولو خلکو کې غوره شخص وم او فخر نه کوم، زه به لومړی جنت ته ننوتونکی وم او دا هم د فخر له مخې نه يادوم (يعنې زما ځانګړنې الهي پېرزوينې دي خو په نورو د کبر او ړتنې په موخه يې نه يادوم).

**ب: له وطن سره مينه انساني فطرت دی**

هر انسان فطرتاً له خپل کور، ټولنې او چاپېريال څخه متاثره کېږي او ور سره يو ډول خواخوږي او محبت پيدا کوي، نو طبيعي ده چې له خپلې ژبې او قوم سره مينه کول د انسان په طبيعت کې نه جلا کېدونکی عادت او مظاهره ده.

محمد ﷺ چې کله له مکې مکرمې څخه هجرت کولو ته اړ شو، نو مکې ته يې مخ کړ او په ژړغوني اواز يې په داسې حالت، چې سترګې يې له اوښکو ډکې ډکې کېدلې، وويل: په الله لوړه کوم، چې که قوم مې پرېښودلی زه له تا څخه نه تللم. همداراز کله چې خوږ نبي ﷺ مدينې منورې ته ولاړ هلته به يې دعا کوله او ويل به يې: ای ربه له مدينې سره مو داسې مينه پيدا کړې لکه له مکې سره. [ترمذي، باب: د مکې غوره والی، ۵م ټوک، ۷۲۳م حديث، بخاري، ۴م ټوک، ۵۵۶م مخ]

ج: پالنه چې بل ته پکې رټنه نه وي، عبادت ده

په اسلام کې هغه کړنو ته تعصب ويل شوی دی، چې د ظلم، ناروا او تيرۍ لامل ګرځي، داسې چې يو کس د بل په حق سترګې پټې کړي يا يې د خپلوی او قوميت له مخې په نور و کم وبولي.

که مينه يا کار کول د يو قوم يا دوست لپاره د دې تعصب له مخې نه وي، نو يوازې مينه او د محروميت په برخه کې له خپل کور، کلي او ولس سره مرسته کول يا په بېلابېلو برخو کې ورته خدمت نه دا چې تعصب نه دی، بلکې يو الهي رسالت ادا کول او عبادت دی، ځکه د خلکو خدمت او د خپل فرهنګ او تهذيب پرمختګ، پراختيا او په اړه يې پوهاوی وړاندې کول د يو قوم سرلوړي او د علم په لور هڅونه ده، چې اسلامي دين او اساساتو يې تل غوښتنه کړې ده.

په همدې هيله چې د خپلې ژبې، ولس او هېواد په خدمت کې د اسلام د مبارک دين د غوښتنو او هڅونو له مخې تل د خير جوګه و اوسو.




# د انسانانو پر ژوند د تقوا اغېزې

ژباړه او ترتیب: محمد اسمعیل نېکمل

تقوا د الله تعالی له وېرې او د هغه د رضا لپاره د ښه عملونو ترسره کول او د ناوړه کړنو څخه د ځان ساتنې په معنی ده. موږ ټول مسلمانان په دې باور یو، چې الله ﷻ په هرځای کې مو ویني او له موږ سره دی. په نورو اسماني دینونو کې هم دا عقیده شتون لري او ډېری انسانان په دې باور دي چې الله ﷻ تل له دوی سره وي، دوی ویني او له دوی سره مرسته کوي. که د همدې عقیدې له مخې د انسانانو پر ژوندانه د تقوا پر اغېزه تم شو؛ په دې کې هېڅ شک نشته چې انسانان ځینې کړنې د گټو د ترلاسه کولو او ځینې یې د تاوان د دفع کولو لپاره ترسره کوي یا پرېږدي. هر څوک د ټولنې د نورو وگړو د خوشحالۍ او د زړه لاسته راوړلو لپاره او د خپلو مادي او معنوي گټو په موخه په ځینو ورځنیو کارونو لاس پورې کوي.

که یوازې د دې لپاره چې الله ﷻ تل له موږ سره دی او موږ ویني، په خپلو کړنو کې تقوا وکړو او له ناجائزو کړنو ځان وساتو، نو په دې کې هېڅ شک نشته چې ټولنه به مو پرمختگ وکړي او ټول به خوشحاله او هوسا ژوند ولرو.

بله دا چې د ناجائزو کړنو پېژندنه ټولو ته روښانه ده او د اسلام په سپېڅلي دین او په ټولنې د واکمن کلتور په ښوونو کې هم د دې بیان شوی دی. دروغ، خیانت، غلا، اخلاقي او اداري فساد، دوکه، غیبت او دوه مخي دا ټولې هغه کړنې دي چې زموږ په دین او کلتور کې ناجائزه بلل کېږي او بل خوا ته ریښتینولي، مهرباني، شفقت او دې ته ورته کړنې جائز او غوره اعمال گڼل کېږي.

اوس که دا و انگېرو چې په یوه ټولنه کې دوگړو ترمنځ ناوړه کړنې دود دي، ستاسو په اند دا ټولنه به کوم لور ته درومي؟ آیا هوساینې او نېکمرغۍ ته به ورسي؟

او یا و انگېرو چې غوره اعمال په یوې ټولنې کې دود دي او د ټولو له خوا ترسره کېږي، ستاسې په اند دا ټولنه به په کوم لور درومي؟

دا روښانه ده چې لومړۍ ټولنه به د بدمرغۍ او دویمه به د نېکمرغۍ او پرمختگ لار ووهي. لکه څنگه چې د افغانستان خلک په دې خبره ښه پوه شوي او تجربه کړې یې دي.

حکومتونه په ننني ټولنو کې د هوساینې د ټینگښت او د گډوډیو د مخنیوي لپاره په دې لټه کې دي چې خلک غوره اعمالو ته مخه کړي او جرم و نه کړي.

یقیناً دا تقوا ده چې زموږ دین موږ د هغې ترسره کولو ته رابولي. که چېرې موږ په الله ﷻ ایمان لرو باید خوشحالۍ لپاره یې هغه کارونه ترسره کړو چې موږ ته یې امر کړی او له هغه کارونو څخه چې خوښ یې نه دي ډډه وکړو.

پام مو وي، تقوا یوازې د دې شرعي اعمالو، لکه: لمونځ، روژه، زکات او حج ټولگه نه ده او نه یې دې ته ځانگړي کول سم کار دی، تقوا د ژوند ټولې خواوې رانغاړي او همدا تقوا ده چې ټولنه د نېکمرغۍ په لور بیایي. که چېرې د ټولنې ټول وگړي متقیان شي په دې کې هېڅ شک نشته چې دا ټولنه دې پرته له اجرائیې او حکومتي ځواکونو د پرمختگ پر لور ولاړه شي.

نویسنده: کلثوم توحیدی

# احکام حجاب

حجاب همچون برخی از احکام دیگر الهی به تدریج نازل شد؛ در ابتدا خداوند متعال مرد و زن اجنبی را از گفت وشنود های رو در رو نهی فرمود، اما زن همچون گذشته از خانه بیرون میرفت وهیچ مانع بر او نبود بعد از آن آیه فرود آمد که مرد و زن زمانیکه در راه مقابل می شوند نباید به همدیگر نگاه کنند، بلکه چشمانشان را پایین اندازند. برای زنان به پنهان ساختن زیورات امر شدند بعد از آن دستور رسید که زنان هنگام خروج از منازل با چادر بزرگ از سر تا قدم حتی چهره خود راهم بپوشانند تا از نگاه های تند وشهوت انگیز انسانهای شیطان صفت محفوظ بمانند. سرانجام دستور خانه نشینی صادر شد که شما زنان درخانه هایتان بمانید وبدون ضرورت خارج نشوید.

**واژه حجاب در قرآن**

حجاب در لغت به معنی حائل شدن، پوشاندن ومانع شدن و در اصطلاح حجاب همان پوشش مخصوص زنها است.

حکم حجاب برای زنان یک دستور شرعی ودینی است. البته آن جهت ذات مقصود نیست بلکه تدبیر ست جهت نجات از یک مرض مهلک و بسیار خطرناک که برای هر فرد بشر سمّ قاتلی به شمار میرود و اثرات سوء آن منجر به تباهی وهلاکت اقوام و ملت ها می گردد. این علت مهلک را قرآن کریم به فحشاء تعبیر نموده، که در اصطلاح به بی حیائی، بی غیرتی، برهنگی و بی عفتی معروف است و بدون شک این باعث هلاکت و نابودی اقوام خواهد گردید.

**بدعت ظاهر ساختن صورت**

در این ایام دعوت جدیدی پدید آمده، که زن را به ترک نقاب و ظاهر نمودن صورت دعوت می دهند. دلیل شان اینست که وجه و کفین عورت نیست و نقاب حجاب شرعی نیست. این دعوت و بدعت کشف وجه درمیان بسیاری از جوانان به ویژه افراد تحصیل کرده به نحو عجیبی ترویج یافته، البته نه به این علت که این دعوت حق است، بلکه اجاب داعی خواهشات نفس است. پس افراد که این دعوت به گناه را حکم اسلام تلقی نموده در خطا اند.

جای بسیار تعجب است، برای افرادی که زن مسلمان را به ظاهر ساختن چهره به اسم دین دعوت می دهند و انداختن نقاب را در چنین عصر وزمانی که فسق و فجور به کمال رسیده برای زنان نفی می کنند.

اسلام از ترس فتنه ظاهر ساختن چهره را برای زنان در جلو اجانب حرام ساخته است. آیا این کار عاقلانه است که ما بگویم اسلام دستور داده که زن موها وقدمین خودرا پنهان کند و در مورد چهره و دو کف دست مسامحت نماید، آیا فتنه در قدم بیشتر است یا در چهره؟

ای مردم به خود بیاید دین را برای مردم مشتبه نسازید. زمانیکه اسلام به زن اجازه نداده که پایش را به زمین محکم بکوبد تا صدای خلخال و زیورات به گوش مردان بیگانه نرسد و قلوب آنها تحریک نگردد. در مورد چهره که اصل جمال و منبع فتنه و فساد است و امکان خطر وجود دارد چطور مسامحت و چشم پوشی می نماید.

**حکم پوشش چهره**

خداوند جهت نجات زن از نگاه های تند وشهوت انگیز مردان و نیز جهت عدم دسترسی مردان به آن، به زن دستور داد که هنگام خروج از خانه بنا بر ضرورت و نیاز طبعی یا شرعی چهره را باجلباب بپوشاند وبااستفاده از آن زینت های خلقی و کسبی (چهره، لباس رنگه، گوشواره، انگشتری، گردن بند، خلخال، سرمه و...) را پنهان سازند چنانکه الله متعال میفرماید: يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا [سورة الاحزاب: الاية ۵۹]

ترجمه: ای پیامبر به همسرانت و دخترانت و زنان مومن بگو روپوش های شان را به خودشان نزدیک کنند این مناسب تر است که شناخته شوند، و آزار داده نشوند و خداوند آمرزگار و رحیم است.

این آیه در باره پوشش چهره نازل شده است و خداوند همسران پیامبر و دختران وی وزنان با ایمان را امر کرده است که هنگام بیرون رفتن از خانه هایشان روی خودرا با جلباب یا چادر بپوشانند.

جلابیب جمع جلباب است و عبارت از بالاپوشی است که زنان روی لباس میپوشند. اگر به قران واحادیث نبوی مراجعه کنیم به این نتیجه میرسیم، که زنان بعد از نزول این آیه درزمان آنحضرت ﷺ از چادر یا نقاب استفاده می کردند و روی برهنه بیرون نمی آمدن. بنابر این نقاب زنان چیزی نیست که بعد از زمان پیامبر ﷺ مطرح شده باشد. بلکه قرآن آنرا ذکر کرده و پیامبر ﷺ که قرآن بر او نازل شده این حکم قرآنی را در زندگی خود و در میان امت خود پیاده نموده است.

پس ای زن مسلمان بی تردی حجاب تو را از نگاه های زهراگین بیماردلان حفظ می کند و از وجود تو طمع آنها را قطع می کند، تو بدان توجه نما، پابند حجاب باش و هیچگاه به تبلیغات مغرضانه که هدف آنان جنگ با حجاب و ترویج بی حجابی است توجه نکرد زیرا همه اینها تلاش دارند که تورا به سمت بدیها وزشتی ها سوق دهند.



# په اسلام کې د مال ارزښت او لګښت

لومړۍ برخه

ليکوال: عبدالحميد جودة السحار
ژباړن: محمد طاهر شرر ساپی

رومي او فارسي امپراتورانو خپلې زيرمې په سرو او سپينو د لښکرو د سمبالښت په موخه ډکې کړې وې، ظالمانه مالياتو د خلکو ملا ورماته کړې وه، په فارس کې د ماليې وزارت پر غاړه د ځمکو د ټکس راټولول وو، دا يوازې پر ځمکو نه بلکې په افرادو هم وه، په ځانګړې توګه پر هغو خلکو چې لاسي هنرونه يې زده و، د دولت کلني عوايد له دوه لارو تمويلېدل، د ځمکو له حاصلاتو او له افرادو، شخصي ټکس ټاکلي پيسې وې چې يو ځل اخيستل کېدې، ځمکني محصولات هم په همدې ډول و، د ځمکې د غلې په اندازه ټکس وو، هر کلي بايد د ځمکې د حاصلخيزۍ پر بنسټ له شپږمې څخه تر دريمې برخې پورې ماليه ورکړې.

د مأمورينو له خوا به د ټيکسونو او ماليې په راټولونه کې ظلم او زياتي کېده، بل به تر جدي مراقبت او ځارنې لاندې وو، کله چې به دولت جګړه کوله بيا به يې استثنائي ټيکس اخيسته، په تېره به يې له عراق (بابل) نه زيات اخيسته.

له دې سربېره به د ډاليو د اخيستو تولې و، دوی به هغه تحفې او ډالۍ شمېرلې چې پاچا ته به په نوروز او مِهرجان کې ورکول کېدلې، دا ډالۍ خلکو په خپله خوښه نه ورکولې، بلکې په زور به ترې اخيستل کېدې، ګمرکات هم بل مورد و چې دوی ته ترې عوايد راتلل.

دولت به لومړی لګښت په جګړې او د مأمورينو په معاش کاوه، که به دولت يوه عامه پروژه پلې کوله، نو ټول لګښت به يې په هغو خلکو و چې ګټه به يې ترې اخيستله، استثنائي ټيکسونه به يې ترې اخيستل څو پروژه پلې شي....

په رومي امپراتورۍ کې هم دغه حال وو، کليساوو به په سود د جګړې لپاره پيسې ورکولې.

اسلام راغی، مال ته يې نه د رومي او نه د فارسي امپراتورانو په څېر وکتل، نه يې تر هغه معبود جوړ کړ چې خلک به ورته په سجده پراته وو، يوه اجتماعي دنده يې ورته وټاکله چې هدف يې د خلکو نيکبخته کول و.

په نړۍ کې اسلام لومړنی نظام و چې مال يې د جمهورو په خدمت کې ولګاوه، له شتمنو يې د بېوزلو حق واخيست، الله تعالی خپل رسول لارښود راليږلی و نه باج اخيستونکی.

د اسلام د عدالت غږ په روماني او فارسي دولت کې خپور شو، نو دې خبر د اسلامي لښکرو پر وړاندې د شام، مصر، عراق او د افريقا شمال فتحه کول اسان کړل، د دغه سيمو خلکو به فاتحانو ته ښه راغلاست وايه، د هغوی به يې ښه استقبال کاوه، که څه هم په روماني او يا فارسي دين وو، خو دوی د مسلمانانو عدالت ته ډېر لېواله وو.

په اسلام کې مالي نظام يوازينی نظام و چې اسلامي دولتونه يې پرې نيکبخته کړل، مګر نور دولتونه پر خپله لاره لاړل.

په اتمه ميلادي پېړۍ کې ځينې اقتصادپوهانو د کپيټالېزم په ملاتړ راپورته شول، دا نظام يې يو آزاد نظام وباله، ويې ويل خلک بايد آزاد پرېښودل شي چې خپل شخصي مصلحتونه پوره کړي؛ دوی خپله ځانونو ته هنرونه او پيشې ټاکي نو دوی يې د ملکيت او کار آزادي لري. دا آزادي مشروطه نه وه، دا يې ونه ويل چې تر هغې به آزاد وي څو د نورو د ګټو سره په ټکر کې نه وي.

حکومتي مداخله بايد په تنګ نظام کې وي، که دا د توليد او يا د توزيع ميدان وي، د دوی په نزد توليد په خپله خپل ځان منظموي، بايد حکومت په کې مداخله ونه کړي، خو که دا مداخله د ټولو په ګټه وه، بيا حکومت د مداخلې حق لري.

په توافق کې يې نظريه وايي: د فرد او د ټولنې ترمنځ تعارض نشته؛ د دوی په نظر ټولنه يوه لويه کورنۍ ده چې يو هدف لري، کله چې هم يو فرد خپله نيکبختي ترلاسه کوي، نو د ټولو ترلاسه کېږي، ټولنيزه ګټه د فرد له ګټو سره همغږې ده، عمومي مصلحت په پوره څېړنه او څېړنه د فردي مصلحت څخه ښه جوټولی شو. د دې نظرې څښتنان استدلال کوي چې دا توافق په خپله رامنځ ته کېږي.

دوی باور لري چې په ازادې سيالي باور، اقتصادي ژوند ته وده ورکوي او ګټه د توليد او اقتصادي پرمختګ لپاره اړين شی دی، کوم قوانين چې دا نظام پر مخ وړي، د دوی په نظر غوره طبيعي نظام دی.

که انسان خپل کار ته پرېښودل شي، نه يوازې به خپل شخصي منفعت ترلاسه کړي، بلکې د عام مصلحت لپاره به هم کار وکړي، په يو کار کې د انسان تصرف د ټولنې له مصلحت سره په تعارض او ټکر کې نه راځي، د انسان په سلوک کې ځينې طبيعي غريزې دي، ځان خوښونه، ځان په نورو بر ګڼل، په نورو مهرباني، کار ته رغبت او ازادۍ ته رغبت؛ همدا دوافع دي چې شخص د خپل مصلحت د تحقق لپاره لاس په کار کېږي او په اصل کې دا د نورو د مصلحت تحقق دی.

اغيزمنتيا او ځان خوښونه انسان ته د مهرباني شعور ورکوي، دا طبيعي نظام د خپل ساده والي ترڅنګ د ټولنې د مصلحت د تحقق لپاره کار کوي، دا د انساني طبيعي تمايلاتو څخه صادرېږي، که وضعي نظام په طبيعي نظام کې مداخله وکړي، نو د دې نظام مثبتې اغېزې په ټپه درېږي، دا طبيعي نظام د انسان له هر نظام نه غوره دی.

وروسته کمونیستي نظام راغی، دوی غوښتل چې د کپیټلېزم په تېپونو پټـــې ولګوي، دوی (ملت) وویل داسې یوه مفکوره وه چې کپیټلستانو رامنځ ته کړه او (وطن) یوازې هغه وســـــــیله وه چې برجوازیانو د کاریګرو د اســتقلال لپاره وکاروله، خو قانون هغه وسیله ده چې په کارګره طبقه باندې د بدبختۍ مهـر ووهـي، دین یوازې د ملت افیون دی، مســـترچرچل د کپیټلېزم او کمونېزم په اړه وايي: «کپیټلېزم په خلکو باندې له مساوات پرته د خیراتونو وېش دی او کمونېزم پر خلکو باندې په مساوي توګه د بدبختۍ وېش دی، باید هڅه وکړو چې داســې نظام رامنځ ته کړو چې د ډېرو خلکو لپاره ډېره ښېګڼه ولري» آیا مســیحیت کولی شي چې دا نظام پلـی کـړي؟ د مارکس خبـرې په راواخلو: «د ټولنیز مسـیحیت د لومړیتوبونو مخې ته د پرمختګ اته پیړۍ پرتې وې، نو د قســین او مبشــرینو په لاس باندې نور پرمختګ ته اړتیا نه لیدل کېږي. دې لومړیتوبونو په لرغوني نړۍ کې غلامي روا کړه او په منځنۍ پېړیو کې یې انســان مریـی کـړ. موږ له دوو نه زیات زړورتیا، باور او استقلال ته اړتیا لرو، مســـیحي اخلاقي قوانین ناخرګند دي، خو د کارګرو طبقه انقلابي ده...».

مارکس او انګلز او کمونستي مشرانو په مسیحیت کې دا چاودونه ولېدل، نو نیوکې یې پـرې وکـړې، آیا اسـلام د کارګرې طبقې له ظلم نه دفاع کوي؟ ایا اسلام د یوې ټولنې د ناروغی درملنه د حساب ورځ ته پرېږدي، لکه څنګه چې مسیحیانو پرېښې وه؟

اســـــلام دنیاوي چارې د اخروي چارو په څېر تداوي کوي، اســـــلام هم دین دی او هم دنیا، د مؤمن او کافـر، نېک او فاجـر، پاچا او عادي فرد، شــــتمن او غریب، زورور او کمزوري ترمنځ په مدنـي او تادیبـي حقونو کـې په مطلق عدالت پـرېکـړه کوي. خلک له ادم نه پیدا دي، مؤمنان سره وروڼه دي، خلک د شـریعت په وړاندې یو برابـر دي، د کارګـر لپاره حقوق او واجبات دي، د کار د خښتــن لپاره حقوق او واجبات ټاکل شوي دي، د ټولو لپاره مطلق عدالت دی، یو پـر بل هېڅ فضیلت نه لري، د فضیلت معیار یوازې او یوازې تقوا ده، نه شـتمنی خپل خاوند ته مقام ورکوي او نه فقیري خپل خاوند راټیټوي. داســې دین دی چې په واقعیت کې سیال نه لري، روحانیت په کې له مادیت سره اغږل شوی دی، سـړی په کې د دنیا او اخــرت لپاره هڅه کوي. دا د عقل، حکمت او پوهــې دین دی، د فطـرت دین دی: وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ [ســـورة الملک:الاية ۱۰] ژباړه: «که موږ خبره اورېدلای او یا پوهېدلای نو اوس به د دوزخیانو څخه نه و».

مســــیحي مفکرانو دین ړنګ کـړ، ځکه چې د پـرمختګ او تـرقـــي پـــر وړاندې ودرېدل او د بشــــریت لپاره یې عامه ښېګڼه نه لره. نو بیا ولې ځینې مســـــلمانان په پټو سترګو پر دین نیوکې کوي؟ دا تش د غربیانو تقلید دی.

مســیحي مفکرانو دین پرېښــــود، خدایان یې پرېښــودل، دا چې انســان له اله پرته ژوند نه شي کولای، نو د ســرو زرو بنده ګي یې شـــروع کړه، خلک یـــې په خپلو فکـــرونو د مال عبادت او سپېڅلتیا ته راوبلل او ولړه یې د بشري خوځښت لپاره محرکه قوه وګرځوله، انســـاني نفس له دې پاتې راغی چې اقتصـــــادي، سیاسي او علمي پرمختګ وکړي، نو پایله یې ضــــیاع، بربادي، بدبختي، اوښکې، اندېښنې او له مجهول مستقبل نه تلپاتې وېره شوه.

انســان سپوږمۍ ته وخوت، خو لا تر اوسه د زکام مقابله نه شـي کولای، اتومي بمونه یې جوړ کړل، خو دا یې ونه شو کولای چې د زراعت له لارې د وږو نســـونه ماړه کړي. د ملتونو ترمنځ د اړیکو لارې پریمانه شوې، مســـافې رالنډې شوې، خو زړونه سره لرې شول، بشر یو ملت نه شو او نه د الله په نعمت وروڼه شـــــول، بلکې ملتونه یو د بل پر وړاندې ودرېدل، یو د بل وینو ته تږي شـول، الله تعالی دا ځمکه د ژوندیو او مړو لپاره پیدا کـړې، د ټولو لپاره بســـــنه کوي، خو خلکو د بربادی لاره غوره کـړه، نه آزدي راغله، نه ورور ولـي او نه هم مساوات.

کپیټلېزم د غربیانو لپاره ظلم او د انســـانیت لپاره څرګند دښمن او د ټولنې د امن لپاره ســتر ګواښ و، کمونېزم مادي سعادت د ژوند یوازینی هدف وګرځاوه، نو دواړو خلک د مال بنده ګان کړل. نیچه په خپل کتاب د ارادې ځواک کـې وایـي: (موږ دې ته اړتیا لرو چې د مال غوښتې په یو انقلاب او د نوې بشپړې ټولنې په رامنځ ته کېدو وسپړو او مخکې له دې چې اقتصـــادي ژوند په خپل ځای کې ځای پر ځای کړو، اړینه ده چې د اخلاقي او روحـي ژوند لپاره ځای تثبیت کــړو او په کار ده چې عدالت د ګټې معیار وي نه شتمني، عدالت؟ دا خو له کپیټلېزم ســـره په ټکر کې دی، کمونېزم یوازې د کارګـــرو له خوا د بادارانو تقلید دی، د شادیانو په څېر تقلید، که غواړو چې د کمونېزم له ناروغی کارګـر وژغورو، نو باید د لوړې طبقـې خلک د کپیټلېـــزم له ناروغــــی ځانونه خلاص کړي).

دا د نیچه وینا ده، خوزه وایم، انقلاب ته اړتیا نشته، باید په اسلام کې د مالي نظام ته مخه کړو، په دې کې د کپیټلېزم ښېګڼې دي، د کمونېزم ښېګڼې په کې دي، په اسلام کې شتمني معبود نه بلکې فتنه ده، مال یوازې اقتصـــــادي دنده نه لري، بلکې اجتماعي وظیفه لـري چـې د ټولو لپاره په کـې ښېګڼه اساسي هدف دی.

که د مال اقتصـادي او قانوني تعریف نه تېر شو، نو موږ وایو چې مال هغه څه دي چې انســـان پرې د الله پاک شیان تر لاسه کوي، هوا که څه هم قیمت نه لـري، خو له هوا پـرته ژوند محال دی، نو د الله حکمت په کــې همدا دی چــې د ټولو مخلوقاتو لپاره دی، د ټولو لپاره عمومي ښېګڼه ده، دا مال نه دی، ځمکه او په ځمکه ولاړ نباتات، حیـوانات او په خېټه کې یې تیل، معادن، قیمتـي ډبرې دي، دا مال دی، الله تعالـی فـرمایــي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُـوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ[ســـورة البقره :الاية ۱۷۲]ژباړه: «ای هغه کسانو چې ایمان مو راوړی دی، له هغو پاکو ځیزونو څخه خورئ چې موږ تاســـې ته درکړي دي او د الله شــکر وباســئ»همدارنګه الله تعالی فـرمایـــي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ [ســـورة البقره:الاية ۲۶۷] ژباړه: ای هغو کســـانو چې ایمان یې راوړی دی، تاسې له هغو پاکو څېزونو څخه نفقه ورکړئ چې تر لاسـه کړي مو دي.

**نور بیا...**

# تصوف او عرفان

لیکوال: مولانا نورالهدیٰ خادم سردار آغا ابوالجُنید

تصوف: په لغت کې د نفس د پاکولو طریقه ده، او له نفســـاني غوښتنو څخه د ځان ژغورلو او الهي اخلاقو اختیارولو ته وایي؛ په اصـــطلاح کې هغه علم دی چې دهغه پواســـطه د زړه تزکیه کېږي او دالله ﷻ او بنده ترمنځ اړیکه پیدا کېږي.

تصوف له څلورو تورو جوړېږي تا، صاد، واو او فا دي، چې د (تا) څخه مراد توبه، د (صـــاد) څخه مراد صـــفایي، د (واو) څخه مراد ولایت او د (فا) څخه مراد فنا فِي الله ده.

دا داسې علم دی چې د دې په ذریعه د انســـان روحاني ناروغي لکه: حسـد، بغض، بُخل او د یو چا سره دومره بدې کول چه د شریعت تر حدودو واوړي شــفاء مومي؛ د رِیا (د خلکو د لیدو لپاره عمل کول) او داســـې نورو باطني، یعنې د زړه مریضـــیو لپاره، لکه: د حســـد، ریاکارۍ او په عباداتو کې سستوالي لپاره علاج دی.

د تصـــــوف د علم اهمیت: دا لاره زموږ دېرو امامانو، فُقهاوو، محدیثینو، اوعلماؤو تعقیب کړې او ورباندې تللـي دي، د بېلګـې په ډول زموږ او ستاسي ستر امام، ابوحنیفه رحمه الله هم دا لاره د شـــریعت جز بللی دی، نو ځکه د فقهي تعریف داســـې کوي: فقه دې ته وایي؛ په دې وپوهېدل/ پېژندل چې پر ما څه شـــته او زما لپاره څه شـــته؟ همدارنګه امام مالک صـــاحب به دا ویل چې که څوک فقه یوازې کوي له دې څخه فاســـــق جوړېږي، که چا تصوف یوازې کاوه له دې څخه زیندیق جوړېږي، که چا دواړه ســره جمعه کړل د دې څخه حق ته وصل انسان جوړېږي.

همدارنګه امام شافعي صاحب به هم ویل، ماته په دنیا کې درې شیان خوندراکوي یو په هغو دربیو کې د تصوف په خلکو پسې اقتداء کول، دارنګه امام احمد بن حنبل صاحب چې کله د حضـرت حمزةُ البغدادي مجلســــونه وکړل نو بیا یې خپل زوی ته وصیت وکړ چې د تصـــوفو سره علاقه او ورسره ناسته ولاړه کوه، همدا شان امام احمد بن حنبل صـــاحب به ویل: ماته د الله پاک په مخلوق کې تر دوی افضـــــله قوم نه دی معلوم بیا یو چا پوښـــتنه څینې وکړه چې دا خلک کله کله ډېر ژاړي او بې هوشـي پرې راشـي د الله پاک د وېرې څخه، ده مبارک ورته وویل: پرېـږده! چې د الله تعالی سره خوشحالي وکړي.

**تصوف:**

دا چې د هر قســـم ناوړه اخلاقو او بدو عادتونو او خویونو څخه د نفس پاکوالـي ته تـزکیه وایـي، تصـــوف هم دې ته ورته اصطلاح ده توپیر یې په دې کې دی چې د تصـــــوف اصطلاح تر تزکیې وروسته کارول شوې ده او نور نو په واقیعت کې د دې دواړو اصطلاحاتو ترمنځ کوم توپیر نشـــته، ځکه دواړه له دې څخه بحث کوي چـــې څنګه انســـان ځان نیکمرغه کړي او نورو ته یې خیر ورسېږي او ځان د احسان هغې مرتبې ته ورسوي چې د ژوند ټولې چارې یې داسې برابرې شي؛ د الله تعالی داســـې بنده ګي وکړي، لکه هغه چې ویني او که داسې نه وي، بیا نو دې ته خو یې باید پام وي چې الله تعالی دیویني.

نو د تصوف لار ځکه ډېرو مشایخو تعقیب کړې ده، چې د منکراتو څخه خالي ده.

**د زړه اصلاح:**

شرعي احکام چې د انسان سره اړیکه لري په دوه ډوله دي: یو یې هغه دي چې د انســـان له ظاهر سره سر او کار لري او بل هغه دي چې د انسان په جوړښت کې رول لري. همداسې د باطني اعمالو تعقیب هم د انسان لپاره اړین دی.

پیغمبر ﷺ د زړه په اړه فرمایي: دا یو داسې توکړه غوښـه ده چې که روغه شــوه نو ټول بدن به روغ وي او که فاسـده شـوه نو ټول بدن فاسـدوي، امام جلال الدین ســیوطي (رحمه الله) په (الاشـــباه والنظادر) نومې کتاب کې لیکي، چې د زړه پوهه او د هغه د ناروغیو پېژندنه لکه: حســـد، کبر، ریا او... د تصوف په اړه امام غزالي (رحمه الله) ویلي دي چې، دا فرض عین دی، تصـــوف داسې علم دی چې د انســـان د باطن په اړه بحث کوي او په خاصـه توګه په هغه کړنو او ویناوو غږېږي چې له کبله یې د انسان باطن پاکېږي او د دې په حل لاره رڼا اچوي.

**د نفس تزکیه**

حقیقت دا دی چې د تزکیې موخه د ژوند د ټولو چارو داسې اداره ده چې د دې په اصلاح سره د انسان ټول حرکات، او سکنات د الهي رضا سبب ګرځي، دی که په فردي او اجتماعي ژوند کې هـر تصـرف کوي، لکه: خبرې کول، کار کول، اقدام کول، او منع کول دا هـر څه یـې د الله تعالـی په وړاندې ثبتېږي او یوه ورځ به ورسره حســاب هم کوي، چې دا د سالم تصوف اړخ هم دی.

هلته هم علماء کرامو د خپلو تجربو په رڼا کې په داسې لارو غور کړی چې د شریعت له روح سره ټکر نلري او د څینو ځانګړو قالبونو په رڼا کې یې مســـلمان دې ته هڅولی چې په رعایت سره یې باید څنګه مخ په وړاندې مزل وکړي؟ د بېلګې په توګه: اسـلامي شــریعت په دې ټینګار کړی دی چې مسـلمان باید له کبر او رِیا څخه پاک وي، د نفس بنده ګي باید ونه کــړي، دی باید په غیـري شرعي چوکاټ کې د نفس د خواهشـاتو پیروي و نه کړي.

دا چې اوس څنګه دغې موخې ته ورســېږو، نو د مسلمانانو علماوو په لړ کې څینو دې ته کار ویلی، او د دې لپاره یې داســـې طریقې د تجربو په حد کې ښودلې که یو څوک یې په پام کې ونیسـي نو کېدای شـــــي د ده له خپلو تجربو به ورته ډېرې ګټورې وي، دلته اصلاً ستونزه دې جوړه کړې ده چې بیا دغه د تجربو دایره ډېره پراخه شـوې ده او هر چا د خپلې خوښې مطابق څینې داسې کارونه او ویناوې چې له شریعت سره په ټکر کې هم دي ځای پـر ځای کـړې دي او هغې ته یـې د نفس د اصلاح او تصوف نوم ورکړی دی. په دې سبب نو اوس چې څوک د تصوف نوم واخلي، نو د خلکو ذهن ته هغه ناوړه ویناوې او کارونه ودرېږي چې اسلام لا څه مطلق انسانیت هم ترې کرکه لري لکه څنګه چې د تفسیر، حدیثو فقهي او نورو اسلامي علومو د بد نامولو لپاره دا خبره درسته نه ده، چې ووایو: په دغه علومو کـــې هــــر چا له خپله ځانه خبرې کړې دي، همداسې د تزکیې او تصوف په اړه به هم دا له انصافه لرې وي چې ووایو: دا ځکه پرېږدو چې خلکو په کې څینې بې بنســـته خبرې کړې دي او څینې په اصـــطلاح بې ځایه او حتٰی ناروا خبرې په کې موجودې دي.

شکایتونو ته د رسیدگی بورډ

# د حجاب شرعي حیثیت

اسلام د فطرت دین دی؛ نارینه او ښځینه ته یې د خپل فطرت او الهي قانون له مخې حقوق ورکړي دي، ځکه د اسلام له خوا نارینه او ښځینه ته ورکړل شوي حقوق ډېر جامع او متوازن دي، دواړه یې هڅولي دي، چې خپل مسؤولیتونه په ښه توګه سرته ورسوي، په ځانګړې توګه نارینه باید د ښځو حقونو ته ډېره پاملرنه وکړي، ځکه چې ښځې د جاهلیت له زمانې څخه ځورونې، شکنجې، ضرر او ذلت سره مخ شوي دي. الله ﷻ د هغوی حقوق او مکلفیتونه د فطرت له غوښتنو سره سم بیان کړي، تر څو هغوی د ذلت له کندې څخه را وباسي. د الله ﷻ په احکامو کی زیاتی او کمی نشته، هغه په بشپړ ډول د عدالت له احکامو سره سم دي. اسلام د بهرنیو چارو اداره او مالي مسئولیتونه پر سړي باندې اچولي دي او د کور کارونه، لکه: پخلی، د کور پاکول او د ماشومانو پالنه او داسې نور یې د ښځې مسؤولیت ګڼلی دی، ځکه چې د ښځې وجود د اقتصادي مسؤولیتونو د اخیستلو توان نه لري؛ له واده مخکې یې د نفقې (مصارفو) مسؤولیت پر پلار او ورونو او له واده ورسته د خاوند پر غاړه دی.

دا چې ښځه د نارینه په پرتله په فزیکي لحاظ کمزورې ده؛ نو د ښځې دا کمزوري د دې لپاره نه ده، چې هغه د یو سړي غلامه پاتې شي، بلکې د دې لپاره ده، چې د هغه څه په پرتله چې د هغې فزیکي ځواک چې فطرتاً هغې ته سپارلی شوی دی، ډېر ځواکمن کار نشي کولی، نو باید ترینه وساتل شي. له همدې امله، د هر څومره هڅو سره سره، ښځه نشي کولی د یو سړي سره برابره شي.

اسلام د فطرت دین دی نه غواړي چې ټولنه د اخلاقي فساد پر لور لاړه شي نارینه و ته لارښوونه کوي چې تاسې به پردیو زنانه و ته نه ګورئ تر څو په فتنه کې واقع نه شئ او ښځو ته د حجاب کولو امر کوي تر څو دوی خپله له زهرجنو نظرونو څخه خوندي شي.

د حجاب حکم الله تبارک وتعالی په سورة الاحزاب کې نازل کړ، چې د سورة الاحزاب (۵۳) آیت ته په همدې خاطر د حجاب آیت وايي.

اللّه تعالی فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنْكُمْ وَاللَّهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا أَنْ تَنْكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِنْ بَعْدِهِ أَبَدًا إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمًا. [سورة الاحزاب: الاية ۵۳]

ژباړه: ای مؤمنانو! د رسول الله ﷺ کورونو ته مه داخلیږئ، تر څو چې تاسو ته اجازه درکړل شوې نه وي او له اجازې وروسته خوراک ته لاړ شئ، نه دا چې تاسو مخکې تللي یاست او ناست یاست انتظار کوئ د ډوډۍ د پخولو، بلکې کله چې تاسو ته بلنه درکړل شي لاړ شئ او کله چې تاسو وخورئ، منحل (خواره) شئ، په خبرو اترو کې مه ښکېل کېږئ. ستاسو له چلند څخه رسول الله ﷺ ته تکلیف رسېږي، مګر هغه حیا کوي او الله تعالی په رښتیا ویلو کې حیا نه کوي او کله چې تاسو د رسول الله ﷺ له مېرمنو څخه د څه پوښتنه وکړئ، نو پټ (پردې) له شا څخه پوښتنه وکړئ، دا ستاسو او د دوی د زړونو بشپړ پاکوالی دی. تاسو ته دا روا نه ده، چې رسول الله ﷺ ته اذیت ورکړئ او نه ستاسو لپاره روا ده چې له هغه وروسته د رسول الله ﷺ له مېرمنو سره نکاح وکړئ. په یاد ولرئ چې دا د الله تعالی په نزد لویه ګناه ده.

د عمر رضي الله تعالی عنه موافقتونه:

له حضرت انس رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی، چې حضرت عمر رضی الله عنه فرمايي: زما رب له ما سره په دریو شیانو /کارونو کې اتفاق کړی دی.

یو دا چې ما وویل: یا رسول الله ﷺ (لو اتخذنا من مقام ابراهیم مصلی؟) که مقام ابراهیم د لمانځه ځای جوړ کړو؟ بس بیا دا آیت نازل شو (واتخذوا من مقام ابراهیم مصلی) د ابراهیم علیه السلام ځای ته ولاړ شئ او لمونځ وکړئ.

دویم ما وویل: یا رسول الله ﷺ که چېرې ته خپلو بیبیانو ته د حجاب کولو امر وکړې، ځکه چې هر ښه او بد سړی د رسول الله ﷺ د مېرمنو په مخ کی راځي او خبرې کوي، کله چې رسول الله ﷺ دوی ته د حجاب کولو امر وکړ د

حجاب آیت نازل شو.

دریم دا چې کله درسول الله ﷺ مېرمنې په حسد سره را غونډې شوې، نو ما ورته وویل: که رسول الله ﷺ تاسو ته طلاق درکړي، دا ډېره لرې خبره نه ده، چې الله تعالی هغه ته له تاسو څخه غوره مېرمنې ورکړي نو بیا د سورة التحریم (۵) آیت نازل شو.

درسول الله ﷺ نکاح د حضرت زینب بنت جحش رضي الله عنها سره:

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی، چې کله رسول الله ﷺ د حضرت زینب بنت جحش رضي الله عنها سره واده وکړ او هغه ته راغله نو زما مور ام سلیم رضي الله عنها له خرما، غوړیو او پنېر څخه کېک جوړ کړ، ډوډی یې په یوه لوی لوښي کې کېښوده او راته یې وویل چې رسول الله ﷺ ته یې یوسه او ورته ووایه زما د مور لخوا رالېږل شوې ده، دا یوه کوچنۍ ډالۍ ومنه، ما هغه خواړه رسول الله ﷺ ته یوړل او ومې ویل چې مور مې درته سلام کاوه او دا یې هم ویل چې دغه وړه تحفه قبوله کړه، هغه مبارک وفرمایل: دلته یې کېږده او فلاني، فلاني سړي ته لاړ شه او بلنه ورکړه، رسول الله ﷺ د خلکو نومونه واخیستل د چا نوم یې چې واخیست، هغه ته مې بلنه ورکړه.

عثمان رضي الله عنه وایي: له حضرت انس رضي الله عنه څخه مې وپوښتل چې څو تنه وو؟ هغه وویل: شاوخوا (۳۰۰) درې سوه تنه وو. هغه وایي چې رسول الله ﷺ ماته وفرمایل: ای سړیه هغه لوښی راوړه، کله چې خلک قطار راغلل او کوټه ډکه شوه؛ رسول الله ﷺ وفرمایل د لسو کسانو یوه دایره جوړه کړئ او هر یو دې د هغه په مخ کې وخوري. ویل کېږي چې هغوی ښه خواړه وخوړل، یوه ډله راغله او بله لاړه، تر هغې پورې چې دوی ټولو وخوړل، بیا یې راته وویل: ای انسه! همدا اوس را واخله، ما لوښی را واخیسته، نه پوهېږم چې د خوراک په وخت کې زیات وو او که کم، کله مې چې پورته کړ له دوی څخه ځینې کسان درسول الله ﷺ په کور کې د خبرو لپاره ناست وو، چې رسول الله ﷺ هم هلته تشریف درلود، درسول الله ﷺ مېرمن دېوال ته مخامخ ناسته وه، رسول الله ﷺ له هغه ځایه ووت او خپلو نورو مېرمنو ته یې سلام وکړ او بیا یې مخ وګرځاوه. او کله چې رسول الله ﷺ بېرته راغی نو دوی فکر وکړ چې په رسول الله ﷺ باندې دا ناسته سخته ده، نو دوی ژر د دروازې خواته روان شول او ووتل.

کله چې رسول الله ﷺ راغی، پرده یې ځوړنده کړه او زه په کوټه کې ناست وم څه ډېر وخت نه وو تېر، چې دا آیت مبارک په همدې وخت کې نازل شو، رسول الله ﷺ تر آخر پورې پر خلکو دغه آیت تلاوت کړ، حضرت انس رضی الله عنه فرمایي: زه د ټولو خلکو په پرتله دغو آیتونو ته ډېر نږدې یم، ځکه چې زما مخ ته نازل شوي او درسول الله ﷺ پاکو مېرمنو ته یې حجاب ور واغوست.

له دې دوو حدیثونو څخه معلومېږي چې کله عمر رضی الله عنه، رسول الله ﷺ ته وویل: ای د الله رسوله! ستاسو د مېرمنو په مخ کې ستاسو سره د هر ښه او بد خبرې کېږي، کله چې یې دوی ته د حجاب کولو امر وکړ، نو الله تعالی د حجاب آیت نازل کړ، بیا وروسته پاکو مېرمنو په حجاب پیل وکړ، همدارنګه په کور کې یې پرده ځوړنده کړه تر څو ښځو ته څوک پام ونه کړي.

ښځې ته په کور کې د پاتې کېدو امر:

الله تعالی فرمایي:

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ [سورة الاحزاب: الاية ۳۳]

ژباړه: او په خپلو کورونو کې پاتې شئ او د جاهلیت د زمانې په څېر خپل ځان او سینګار مه ښکاره کوئ، لمونځ ادا کوئ، زکات ورکوئ او د الله تعالی او د هغه درسول اطاعت کوئ.

په دې آیت کریمه کې د (قرن) لفظ یا د وقار څخه مشتق دی یا د قرار څخه، په لومړي حالت کې یې معنی دا ده چې تاسو په خپلو کورونو کې په وقار سره ژوند کوئ او په وروستي صورت کې یې معنی دا ده چې تاسو په خپلو کورونو کې په قرار کېنئ، دا معلومه ده چې د ښځې استوګنځی او د کار دائره د هغې کور دی، چېرته چې هغې ته د اوسېدو امر شوی دی، سیاسي او اقتصادي مسایل د هغې په دائره کې نه راځي، بهر دي. او که په کوم وخت کې د مجبورۍ له مخې له کوره بهر وځي، هغوی ته باید دا آداب وښودل شي چې له سینګار کولو پرته بهر ووځي، ساده جامې واغوندي، عطر و نه کاروي او پرده وکړي (په داسې حال و نه وځي چې د خلکو پام ځان ته واړوي). او د دې معکوس ته تبرج، بربنډتوب او د سینګار ښکارندونه ویل کېږي، څرګنده یې کړه چې دا تبرج جاهلیت دی، دا هغه څه دي چې له اسلام نه مخکې هم وو او په راتلونکي کې چې هم کله نافذ شي، جاهلیت به وي، له اسلام سره هېڅ تړاو نه لري، که هر څومره په زړه پورې نوم ورته ورکړل شي.



# د اوبو ارزښت

لیکوال: خادم نورزی



که چېرې د الله ﷻ په هغو نعمتونو کې چې ژوند له هغو څخه پرته ناشـونی دی پراخ او هر اړخېز فکر وکړو، نو حتماً به مو نظر ته اوبه او هوا راشي؛ دا هغه څه دي چې د ژوند له لومړنیو اسبابو څخه شمېرل کېږي بغیر له دغو دوه عناصـرو په دنیا کې ژوند ناممکن دی.

اوس د موضـوع یو اړخ را اخلو هغه اوبه دي، اوبه چې د ژوند تېرولو لپاره دومره مهمې دي؛ نو موږ د اوبو د ارزښت لپاره څه کړي او څه مسؤولیت لرو؟

اوبه د ژوندانه لپاره حیاتـي ماده ده، که اوبه نه وي ژوندي موجـودات، زراعت او ژوند پـوره اړوند چارې به ناشوني وي الله ﷻ وايي:

هُوَ الَّذِىٓ أَنزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۖ لَّكُم مِّنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ [النّحل : ۱۰]

ژباړه: هماغه ذات دی چې ستاسې لپاره یې له اسمانه اوبه اورولي دي، په هغو سره تاسې په خپله هم خړوبېږئ او له همدې څخه ونې، بوټـي را رزغونېږي چې تاسې په ونو، ورشو کې څاروي څروئ.

د دې لپاره چې موږ د دې سـتر او بې مثاله نعمت شکر ادا کړو؛ لګیا یو ناشکري یې کوو او اوبه بې ځایه تویوو، د اوبو بې ځایه کارول ناشکري ده؛ که په یو ګېلاس اوبو مو چاره کېـږي باید یو کوزه ونه کاروو، د الله ﷻ عبادت (لمونځ) بې اوداسـه نه کېږي او اودس بغیر له اوبو نه کېږي؛ په اوداسـه کې د ډېرو اوبو تویول اسراف دی چې د اسلام مبارک دین منع کړی دی، نو تاسو قدرمنو لوسـتونکو فکر وکړئ چې مونږ په لوی لاس د دې سـتر نعمت په کارولو کې څومره بې پروایي کوو. یو اړخ ته د پاکو اوبو نه شـتون او بل د سـیندونو نه مدیریت له خپل ځان او راتلونکي نسـل سره نه جبرانېدونکی ظلم دی، که چېرې د خپل ژوند ډېر نه (۱۵) کاله شـاته نظر وکړو؛ په خیال کې یې راولو چې په ښار او کلیو کې څومره ویالې، کانالونه او ژورې څاه ګانې وې او له اوس سـره یې پرتله کړو پرته له شـکه به د اوبو په کمښت او وچکالۍ اعتراف وکړو.

اوبه د ژوند لپاره د هوسـاینې او ترقۍ وسـیله ده که چېرې اوبه نه وي او یا د ځمکې د سـطحې څخه ښکته شـي د الله ﷻ څخه پرته هېڅ قوت پر دې قادر نه دی چې اوبه د ځمکې سـطحې ته را اوچتې کړي، الله ﷻ فرمايي: قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن يَأْتِيكُم بِمَآءٍ مَّعِينٍ ۝ [سُورَةُ المُلک :الاية ۳۰]

ژباړه: دوی ته ووایه: "تاسې کله دې ته ځیر شـوي یاست چې که ستاسې (د څاه ګانو) اوبه په ځمکه کې ښکته ننوځي، نو څوک به تاسې ته پاکې روانې اوبه راوباسي؟"

همدارنګه په سـنن ابن ماجه کې رسـول الله ﷺ فرمایلي دي:

ژباړه: رسـول الله ﷺ وفرمایل: ای د مها جرینو قومه! پنځه صفتونه دي چې کله تاسو ورباندې اخته شئ او (زه په تاسو کې د هغه له موندلو څخه په الله تعالی پناه غواړم) په هېڅ قوم کې زنا نه کېږي مګر دا چې طاعون او داسې مرضـونه به په کې خپرېږي چې د دوی په پخوانیو قومونو کې نه ؤ تېر شـوي. پیمانه او ترازو کې به کمی نه کوي؛ مګر دا چې په قحطۍ او سـختیو او د حاکمانو په ظلمونو به ونیول شي او ورباندې به اخته شـي. او دا خلک به زکات ورکول نه بندوي؛ مګر دا چې د آسـمان څخه باران ورېدل به ورباندې بند شـي، که چېرې د څارویو د هلاکت وېـره نه وای په دوی به هېڅ کله باران نه و وریدلی...

ګرانو هېوادوالو!

راځئ اوبه شتمني وګڼو او په انصـاف او عدالت یې مصـرف کړو تر څو تږولو ته مو خیر ورسېږي او د یو یتیم ځمکه هم له خړوبولو څخه پاتې نه شي.

مؤمنانو ورونو او خویندو!

که د اوبو د کارولو سـره پام و نه کړو له بېلابېلو ناوړه پایلو او خطرونو سره به خپل ځان او کورنۍ مخامخ کړو، لکه: وژونکي ناروغۍ، د نورو په حق کې بې پروايي، د تازه زراعتي تولیداتو نه شـتون او تر ټولو ډېر د الله ﷻ له محبت څخه محرومیت ځکه الله تعالی د سورت الاعراف کې فرمايي:

وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ [سورة الاعراف: الاية ۳۱]

ژباړه: خورئ، څښئ او اسراف مه کوئ؛ بې شکه چې الله تعالی اسراف کوونکي نه خوښوي.

نو قدرمنو خطیبانو خپلو مقتدیانو ته د اوبو د ارزښت په اړه مکمل معلومات ورکړئ.

ګرانو اسـتادانو او معلمینو خپلو د قدر وړ زده کوونکو ته د اوبو د بې ځایه کارولو په اړه توصـیه وکړئ، تر څو دا ستر الهي نعمت خوندي شي او په دې برخه کې مو خپل مسؤولیت ادا کړی اوسي.

د چاپي، غږیزو او انځوریزو رسنیو معززو مسؤولینو! په خپلو نشراتي خپرونو کې یوه یوه خپرونه د اوبو د ارزښـت په اړه ور زیاته کړئ، علمان او د اوبو د برخې کارپوهان ورته دعوت کړئ چې د اوبو په ارزښت او اهمیت هر اړخیزه خبرې وکړي تر څو په اسانۍ د دې با اهمیته مادې د ضایع کېدلو مخنیوی وشي.

کله چې مونږ په خپل ژوند کې د اوبو بې ځایه کارول بند کړو، د څښـاک اوبه به پریمانه شي، زراعت به مو بې مثاله وي او نورو ته به له احتیاجه خلاص شو.

نویسنده: زاهده دُرانی

# آداب اجتماعی پایه های سازنده ارتباط انسانی

آداب اجتماعی به عنوان یک سری قوانین نهادینه یا غیر رسمی در یک جامعه، نقش اساسی در رفتارها و ارتباطات افراد ایفا می کنند. این مبحث مهم به بررسی اصول و ارزش هایی که به عنوان راهنمای برای تعاملات انسانی عرف جامعه میشوند، می پردازد.

**۱. احترام به دیگران:**

احترام به دیگران اساسی ترین مولف آداب اجتماعی است. این اصل نه تنها شامل احترام به افکار و عقاید دیگران، بلکه توجه به حقوق افراد و گروه ها میشود. ایجاد فضایی احترام آمیز، به پایداری و سلامت روابط افراد کمک می کند.

**۲. حفظ حقوق دیگران:**

یکی از اصول اساسی آداب اجتماعی، حفظ حقوق دیگران است. که شامل عدم تجاوز به حقوق مالی و روحی دیگران، رعایت حریم شخصی و انطباق با قوانین و مقررات اسلامی جامعه میشود.

**۳. مهربانی و تواضع:**

رفتارهای مهربان و متواضع به ارتباطات سالم و مثبت تبدیل میشوند. اشتراک احوال مثبت، نشان دادن احترام به دیگران، و پذیرش نقد های سازنده، از مظاهر این اصل هستند.

**٤. تعامل بین فرهنگی:**

در دنیای امروزه، ارتباطات بین فرهنگی چالش ها و فرصت های خاص خود را دارد. آداب اجتماعی نقش مهمی در تعامل مؤثر با افراد از زمینه های مختلف دارند. درک فرهنگ های متفاوت و احترام به تفاوت ها که باارزش های اسلامی در تضاد نباشد ارتقاء هماهنگی در جوامع متنوع را ممکن می سازد.

**۵. صداقت: یک ارزش جامعه ای مهذب**

صداقت یکی از ارزش های اصلی در فرهنگ ها و جوامع است، که تأثیر زیادی بر رفتار و روابط انسانی دارد. در این مقاله، به بررسی اهمیت صداقت، بر ابعاد مختلف و تأثیرات مثبت آن بر جوامع متمرکز خواهیم شد.

**الف. تعریف صداقت:**

صداقت به معنای صریح و روشن بودن در بیان افکار، عقاید و وضعیت ها است. این ارزش نه تنها به گفتارها اعم از کلام و نوشتار، بلکه به رفتارها و اعمال فرد نیز اشاره دارد.

**ب. ارتباط با اعتماد:**

صداقت ارتباط مستقیم با اعتماد دارد. زمانی که افراد صداقت را در ارتباطات خود جای میدهند، اعتماد بین آن ها به وجود می آید و این امر اساسی برای ساختار های اجتماعی سالم است.

**ج. اثر مثبت بر روابط انسانی:**

صداقت به عنوان پایه ای برای روابط انسانی سالم شناخته میشود. زمانی که افراد در ارتباطات خود صداقت را حفظ می کنند، ابهامات کاهش می یابد و تعاملات مثبت و با ارزشی بین افراد ایجاد میشود.

**د. چالش ها و مسائل صداقت:**

صداقت گاهی به چالش‌ها و مسائلی برمیخورد. در برخی مواقع، افراد ممکن است به دلایل مختلفی اطلاعات را پنهان کنند یا به ندرت از صداقت استفاده کنند. در این حالت‌ها، پرداختن به دلایل این چالش ها و ارتقاء فرهنگ صداقت اهمیت دارد.

صداقت به عنوان یک ارزش کلان، در تداوم روابط انسانی و تقویت ارتباطات جامعه نقش مهمی ایفا می نماید. این ارزش به عنوان یک راهنمای رفتاری، زیرساخت برقراری ارتباطات سالم و پایدار را مهیا میکند.

با توجه به این نکات، آداب اجتماعی اساسی ترین اصول تعاملات انسانی را تشکیل میدهند و به همگان کمک می کنند تا در یک جامعه هماهنگ و پایدار زندگی کنند.



# بخشی از فعالیت های وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات

## در ربع اول سال ۱۴۴۵هـ.ق

وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات در ربع اول سال جاری ۶۳ فعالیت های عمده را طرح نموده بود که از آن جمله ۵۳ مورد آن در بخش های مختلف تکمیل گردیده است.
این وزارت در زمینه تعامل با سکتور خصوصی و حمایت از تجار و هم چنان گسترش فعالیت محتسبین به حوزه های شهر کابل و نیز تشخیص متخلفین؛ در ساحات مختلف شهر کابل ایست های بازرسی را ایجاد نموده متخلفین را شناسایی نموده و در مطابقت به احکام، فرامین و هدایات به آنان توصیه صورت گرفت.
تهیه و ترتیب مقرره رسیدگی به معتادین، بازنگری طرزالعمل رسیدگی به شکایات، دریافت محتوای درسنامه و رساله؛ از جمله مواردی است که در زمینه تقویت اسناد تقنینی به انجام رسیده است. از آنجائیکه داشتن راهکار های جامع و مناسب جهت تطبیق و ترویج معروفات و جلوگیری از منکرات در جامعه ضروری می باشد در این رابطه؛ مسوده پالیسی تعمیم اقامه معروفات و ازاله منکرات، طرزالعمل تفکیک آموزش و پرورش و اصلاح زندانیان نیز مطرح گردیده است.
در همین حال؛ به هدف ارتقای ظرفیت منسوبین و محتسبین، برنامه های اموزشی در ولایات غزنی، تخار، کندز، بغلان، غور، بدخشان، بامیان، دایکندی و میدان وردک دایر گردیده که (۱۰۹۲) محتسب از محتوای این برنامه ها مستفید گردیده اند.
در ربع اول سال جاری؛ به منظور تامین عدالت و رسیده گی به شکایات هموطنان؛ ۱۴۶۳ شکایت به شکل حضوری؛ ۳۱۲ شکایت از طریق خط تلیفون به ثبت رسیده است که ۴۶۹ مورد آن تصنیف و طبقه بندی گردیده است، از این میان ۱۵۸ قضیه حل، ۴۴۴ شکایت درجریان می باشد و تعدادی از شکایات از حیث ارتباط کاری به مراجع مربوطه ارسال گردیده است.
از آنجائیکه اصلاح جامعه، اقامه معروفات و ازاله منکرات در اولویت های این وزارت قرار دارد، محتسبین با حضور در بیش از ۳۵۰۰ مساجد، مراکز تعلیمی، تحصیلی و صحی و زیاده از ۱۷ هزار پارک های تفریحی، تالار های عروسی سلمانی ها و ... با اشتراک صدها تن از اهالی مرکز، ولایات و ولسوالیها، با ارائه بیانات اصلاحی به آنان توصیه نمودند.
در همین حال؛ به منظور تنویر اذهان عامه و آگاهی دهی نیز، طی ربع اول سال جاری با راه اندازی کمپاین سراسری، تهیه و نشر مقالات اسلامی، تهیه میز های گردرسانه یی، خطاطی ۲ هزار متر مربع پیام ها و شعار ها در نقاط مزدحم شهر کابل انجام گردیده است. در این ربع؛ گزارش بیش از ده ها فعالیت رهبری و منسوبین وزارت در سطح مرکز و ولایات، با بکار گیری از شیوه ها و ژانرهای مختلف ژورنالیستیکی تهیه گردیده، از مجراهای نشراتی وزارت و سایر رسانه ها منعکس گردیده است. اطلاعات مورد ضرورت به نهاد های متقاضی با انجام مصاحبه ارسال و پیرامون نشر تبلیغات سازمان های دسیسه گر، معلومات جامع ارائه گردیده است.
همانطوریکه مجریان قانون، بیش از هر قشرِ جامعه به آگاهی و اخذ مهارت ها مطابق به ساحه کاری شان نیاز دارند؛ از این رو؛ منسوبین بخش دعوت و ازاله منکرات در بیش شش هزار مراکز نظامی مربوط به وزارت دفاع ملی، وزارت امور داخله و ریاست عمومی استخبارات حضور یافته؛ فرامین امیر المؤمنین، احکام ریاست الوزرا، لایحه و دساتیر وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات به آنان تشریح گردیده است.
با این حال جهت کسب اطمینان از رعایت اصول اداری و تأمین شفافیت در مسایل مالی و تدارکاتی؛ از ریاست های امر بالمعروف ولایات تخار، بدخشان، کندز و بامیان بازرسی صورت گرفته است.
در عین حال؛ احصائیه دقیق به منظور دسترسی به ارقام و آمار؛ از تعداد کارمندان، کارکنان و وسایط نقلیه در سطح مرکز و ولایات نیز جمع آوری و توحید گردیده است.
درزمینه حصول اطمینان از چگونگی تطبیق پلان ها و تطبیق پروژه های انکشافی و دریافت نتایج از مثمریت و موثریت آن؛ برعلاوه نظارت از ولسوالی های ۱۴ گانه ولایت کابل؛ تیم کارشناسان نظارت و ارزیابی از ولایت های بامیان، دایکندی و غور نیز نظارت نموده، فعالیت های واحد های دومی در این ولایات را از نزدیک مورد نظارت قرار دادند. این تیم از بخش های مختلف ۴۵ نهاد ملکی و ۵۴ نهاد دفاعی و امنیتی نیز دیدن نموده، فعالیت های آنان مورد نظارت و ارزیابی قرار داده است.
قابل ذکر است که در این ربع فعالیت های دیگری نیز انجام گردیده است که جهت اختصار در این مقاله فوق به نکات عمده از آنها اشاره گردیده است.

# د امربالمعروف وزارت سرپرست وزير شيخ محمد خالد الحنفي د کونړ ولايت د جهادي مدرسې په غونډه کې ګډون وکړ

د امربالمعروف، نهې عن المنکر او شکايتونو اورېدلو وزارت سرپرست وزير شيخ محمد خالد الحنفي په کونړ ولايت کې د جهادي مدرسې په يوه غونډه کې چې د بخاري شريف ختم او د دستار فضليت په پار جوړه شوې وه ګډون وکړ.

په ياده غونډه کې چې د پوهنې وزير حبيب الله آغا، معلوماتو او ټکنالوژۍ وزير مولانا نجيب الله حقاني، د کورنيو چارو وزارت مرستيال مولانا نور جلال جلالي او يو شمېر رئيسانو، قوماندانانو او د ياد ولايت ولسي وګړو شتون درلود، ښاغلي شيخ محمد خالد الحنفي، استادانو او ولس ته د مبارکې ترخنګ، نويو ۳۰۰ فارغانو او علماء کرامو ته په خطاب کې وويل: تاسو د امت غوره خلک، د الله مقربين، د پيغمبرانو وارثان او د ټولنې عزت مند خلک ياست، مال او دولت ستاسو د مبارکې پګړی په مقابله کې هيڅ هم نه دي، خپل قدر او منزلت وپېژنئ او درسپارل شوی مسؤوليت او د پيغمبرانو وراثت په اخلاص سره په سمه توګه سرته ورسوئ. زمونږ مقصد صرف د هېواد آزادول او د شهادت حاصلول نه وو؛ بلکې د الله تعالی په ځمکه د الله تعالی د نظام او شريعت قايمول وو.

همدارنګه نوموړي د خپلو خبرو په دوام وويل چې د منکراتو مخنيوی او د معروفاتو اقامه فرض عين ده او په عملي کولو کې يې د کريمانه او عظيمانه اخلاقو څخه کار واخلئ، د خپل ولس د اصلاح فکر وکړئ او د نظام لپاره نه ستړي کېدونکې هلې ځلې وکړئ؛ چې په دې کار سره به د نړۍ هېڅ طاقت ستاسو مخه و نه شي نيولی او له مقابلې څخه به مو عاجز وي.

هېره دې نه وي چې د ياد ولايت علماء کرامو د امربالمعروف وزارت سرپرست وزير شيخ محمد خالد الحنفي ته ډاډ ورکړ او ژمنه يې وکړه چې دغه سپېڅلی وراثت به همداسې مقدس ساتي او د اسلامي نظام په قيام او ساتنه، ځوان نسل په فکري روزنه او د معروفاتو په اقامه او منکراتو په مخنيوي کې به له محتسبينو سره پوره پوره مرسته کوي.

# نظامي معينيت: د مسؤولينو اطاعت د دوی په انځورونو لګولو کې نه بلکې د هغوی د اوامرو په منلو کې دی

د امربالمعروف، نهې عن المنکر او شکايتونو اورېدلو وزارت د نظامي معينيت اړوند د ازاله منکراتو رياست له لوري په نظامي برخه کې د منکراتو د مخنيوي او په دې برخه کې د شکايتونو اورېدلو په موخه ټاکل شوي هيئت د پلازمېنې کابل د استخباراتو رياست اړوند ديارلسمي امنيتي حوزې، د کورنيو چارو وزارت اړوند د وزارتونو د ساتنې شپاړسم نظامي ټولي او د ياد وزارت اړوند (۰۱) نظامي قطعې له مسؤولينو سره په بېلابېلو ناستو کې هغوی ته وويل: زموږ کړنې د مشرتابه د فرمانونو او د وزارت د سپارښتنو پر اساس تر سره کېږي چې په دې تړاو به مو کړنې تر هغه دوام وکړي ترڅو د وزارت له لوري شوې سپارښتنې په پوره توګه پلي شي.

د وزارت له لوري ټاکل شوی هيئت د خپلو کړنو په تړاو زياتوي چې له دې کاره يې موخه په نظامي ليکو او ملکي ادارو کې د شته منکراتو مخنيوی او د ټاکل شوو سپارښتنو پلي کول دي؛ دوی وايي چې کړنې به يې تر هغه دوام ولري چې په نظامي او ملکي ادارو کې د منکراتو کچه صفر شي. دغه راز ټاکل شوي هيئت د مشرتابه د هدايت پر اساس د دې ليدنو پر مهال نظامي مسؤولينو ته په سپارښتنو کې ويلي چې خپل سيرت او صورت د نبوي ارشاداتو سره سم جوړ کړي او له هغوی يې وغوښتل چې په خپلو کارځايونو کې د مسؤولينو له انځورونو لګولو څخه ډډه وکړي چې په وينا يې: ((د مسؤلينو اطاعت په انځورونو لګولو کې نه بلکې د هغوی د اوامرو په منلو کې دی.))

د يادولو ده چې ياد هيئت د وزارت د حکم پر اساس په ولايتونو کې هم د نظامي ارګانونو له مسؤولينو سره اصلاحي ناستې تر سره کوي چې ور سره په دې برخو کې د منکراتو په مخنيوي کې د پام وړ بدلون راغلی دی.

# د محتسبينو د تعليم او تربيت رياست

د محتسبينو د تعليم او تربيت رياست چې د امربالمعروف، نهي عن منکراو شکايتونو اورېدلو وزارت اړوند يو مهم رياست دی، د ياد وزارت مقام لخوا د دې موخې لپاره جوړ شوی، چې د امربالمعروف او نهي عن المنکر سپېڅلې دنده (هغه دنده چې د انسان د کاميابۍ راز په کې نغښتی دی، د الله ﷻ اوامر په کې ادا کېږي، د ټولو انبياوو دنده ده او د اسلامي خلافت له مهمو مقاصدو څخه ده) په ښه شکل سرته ورسېږي؛ د دې لپاره محتسبين وروزي.

هغه کس چې د امربالمعروف او نهي عن المنکر سپېڅلې دنده پر مخ وړي په اسلامي ټولنه کې ورته محتسب وايي، که چېرته دغه اشخاص چې ذکر شوې دنده پر مخ وړي په سمه طريقه ونه روزل شي او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې شي، د اصلاح پر ځای فساد رامنځته کوي، او يا د نرمۍ پر ځای سختي او د سختۍ پر ځای نرمي کوي؛ چې په پايله کې د امربالمعروف او نهي عن المنکر له نوم سره خدای مکړه د خلکو کرکه پيدا کېږي.

د يادو شوو موخو د ترلاسه کولو لپاره د محتسبينو د تعليم او تربيت رياست په (۱۴۰۱)هجري شمسي کال په (۳۴)ولايتونو کې محتسبينو ته له ترجمې سره د لمانځه زده کول او د لمانځه احکام پېژندل، د اهل سنت والجماعت عقايد، د نظامي مرکزونو د مجاهدينو د اصلاح لارښود، د فرعي اختلافي مسائلو په اړه اړين اصول، د دعوت اصول، د ښارونو لپاره د محتسبينو طرزالعمل، د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکايتونو اورېدلو وزارت لايحه، اداري سمون او نورو موضوعاتو په اړه تربيوي روزنې ورکړې.

همدا راز ياد رياست په (۱۴۰۰) هجري شمسي کال د (٦) برنامو په ترڅ کې په شپږو ولايتونو: کنړ، ننګرهار، لوګر، کابل، نورستان، او لغمان کې (۵۱۵) تنه محتسبين او په (۱۴۰۱) هـ.ش کال کې د (۲۲) اصلاحي برنامو په ترڅ کې په ټولو څلوردېرش ولايتونو کې (٦٦۴) تنه د محتسبينو آمرين روزلي او ټولنې ته يې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

ياد رياست بيا په (۱۴۰۲) هـ.ش کال د محتسبينو د روزنې لپاره، د مرکز کابل په شمول ټولو ولايتونو کې محتسبينو ته د سمينارونو په لړۍ کې ټولې (۷۰) برنامې پلان کړې وې چې ورستۍ برنامه يې د ياد وزارت په مقر کې په لاره واچوله، چې دغه روزنيزه برنامه (سمينار) په لسو بېلا بېلو صنفونو کې ترسره او د کابل ښاري رياست ۸۰۳ تنه محتسبين د دغې روزنيزې برنامې له مطالبو برخمند او هغوی ته (د اميرالمؤمنين حفظه الله فرمانونه، د امربالمعروف وزارت قانون، متحدالمال مکتوبونه، فرعي اختلافي مسائل، د محتسبينو لپاره د ۱۴۰۲ کال کاري پلان، نظامي عقيدوي آمرينو ته سپارښتنې او د وزارت اړوند هداياتو) په اړه معلومات وړاندې او تربيوي روزنه ورکړل شوه.

ياده برنامه د روان کال د جدي مياشتې په ۱۸ نېټه يعني دوشنبې ورځ پيل او د همدې مياشتې په ۲۴نېټه پای ته ورسېده چې اوه ورځې يې دوام وکړ.

هېره دې نوي چې ياد رياست تر دې مهاله ټولې ۹۸ برنامې د محتسبيو د روزنې لپاره ترسره کړې چې په ترڅ کې يې په ټول هېواد کې ۴۵ نظامي محتسبين، (٦٦۴) تنه د محتسبينو آمرين او (۵۷۱۸) تنه ښاري او اطرافي محتسبين روزلي او ټولنې ته يې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

# مردم ولایت پنجشیر در کنار محتسبین برای اصلاح جامعه شان قدم برداشتند

ریاست امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ولایت پنجشیر در جهت مبارزه با منکرات و ترویج معروفات دستآورد های چشمگیری را داشته است با وجود که در ۲۰ سال گذشته دشمنان از طریق رسانه ها و مراکز آموزشی در جهت منحرف کردن ذهنیت جوانان تلاش می نمودند و در حدی که درزمینه ترویج منکرات پول های هنگفت را به مصرف رساندند و می خواستند عزت و عظمت ملت شریف افغانستان را که در طول تاریخ بر علیه اشغال گران مبارزه نموده و شکست های سنگین برای آنان متحمل نموده است؛ با ترویج برنامه های انحرافی شان؛ زیر پا نمایند.

در ۲۰ سال گذشته اشغال گران با نشر برنامه های انحرافی می خواستند در فرهنگ و عقائد جامعه اسلامی تغییرات بیآورند در حالیکه این ملت، عزت و شهامت اش در طول تاریخ برای جهانیان ثابت بوده و این کشور هیچگاهی به مدت طولانی زیر سلطه اشغال قرار نگرفته است.

مجاهدین با درک مسئولیت های ایمانی شان؛ آستین برزده و دست به مبارزه بر علیه اشغال گران زدند و آنان توانستند به کمک ملت شریف افغانستان؛ اشغال گران را شکست دادند؛ در حالیکه اشغال گران برنامه های شان را؛ نیمه تمام گذاشته و کشور را ترک نمودند.

ریاست امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ولایت پنجشیر در طی سه ماه گذشته دستآورد های چشمگیری را در عرصه ترویج معروفات، ازاله منکرات ورسیدگی به شکایات شهروندان دارد این ریاست؛ در تمام نهاد های امارتی و مساجد به مردم ابلاغ کردند تا صورت و سیرت شان را به سنت نبوی آراسته نمایند؛ زیرا پیامبر بزرگوار اسلام به گذاشتن ریش تاکید نموده است و ما مسلمان مکلف هستم از دستورات آنحضرت ﷺ اطاعت نمایم.

مسئولان ریاست امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ولایت پنجشیر و محتسبین این ریاست به کارمندان و مردم عام توصیه نمودند، نماز را در جماعت ادا نمایند و نیز در دیداری به کارمندان امارتی توصیه نمودند؛ با مراجعین رفتار حسنه نمایند و امور کاری مراجعین را به اسرع وقت انجام دهند.

در حالیکه دین مقدس اسلام زنان را به رعایت حجاب اسلامی امر نموده و تمام فقهاء به رعایت حجاب اتفاق نظر دارند و محتسبین این ولایت به اساس همین وجیبه دینی به تمام بزرگان خانواده ها توصیه نمود؛ خواهران، هنگامی که از منزل خارج می شوند حجاب اسلامی را رعایت نمایند و تمام خواهران؛ در این ولایت به این توصیه ها عمل نموده و فرمان حجاب اسلامی در این ولایت به گونه کامل تطبیق شده است.

محتسبین این ولایت با درک مسئولیت های دینی شان به رانندگان توصیه نموده است؛ موسیقی نشنوند؛ زیرا شنیدن موسیقی یک عمل منکر بوده و به قلب مومنین نفاق را ایجاد می کند و نیز به رانندگان توصیه گردیدزمینه ادای نماز جماعت را برای مسافرین مساعد نمایند و ادای نماز جماعت، حکم الهی بوده و نباید از این فضیلت محروم گردیم.

محتسبین در تمام ولسوالی های ولایت پنجشیر خطاب به نماز گزاران گفته است؛ تبعیض و قوم پرستی در نظام امارت اسلامی جایگاه ندارد و خداوند متعال به صراحت مسلمانان را از قوم پرستی و تبعیض منع قرار داده و نیز در قرآنکریم مسلمانان، برادر دینی یکدیگر خطاب شده است و اکنون با پیروزی امارت اسلامی دامن تبعیض و قوم پرستی چیده شده است.

محتسبین این ولایت به سلمانی ها به گونه حکیمانه توصیه نمود؛ ریش مشتریان شان را به خلاف سنت اصلاح نه نمایند و همکاری در این عمل منکر گناه شمرده میشود و سلمانی های این ولایت می گویند با پیروزی امارت اسلامی و توصیه های حکمیانه محتسبین؛ جوانان می کوشند سیمایی شان را به سنت نبوی آراسته نمایند.

محتسبین مطابق تقسیم اوقات از پوسته های امنیتی نظارت نموده وبه مجاهدین توصیه می نمایند با مردم رفتار حسنه نمایند و نیز باشندگان این ولایت برخورد مجاهدین امارت اسلامی را با خود شان حسنه توصیف نموده و می گویند اکنون امنیت در سرتاسر پنجشیر تأمین شده است.

مسئولان ریاست امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ولایت پنجشیر از طریق مساجد در مورد فعالیت های کاری شان در مورد بخش سمع شکایات آگاهی دهی نموده و از مردم خواسته است در صورت آزار و اذیت از سوی کارمندان امارتی و مجاهدین به بخش سمع شکایات این ریاست شکایت نمایند و مسئولان این ریاست به این شکایات به گونه قاطعانه رسیدگی می نمایند.

مسئولان در ریاست امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات پنجشیر می گویند: محتسبین در روزهای جمعه به دکانداران توصیه می نمایند؛ فعالیت های کاری را تعطیل نموده و به صف نماز گزاران بپیوندند و خداوند متعال در قرآنکریم مسلمانان را به ادای نماز جمعه و متوقف کردن فعالیت های کاری در این وقت با فضیلت، امر نموده است.

# سمینار های آموزشی ارتقای ظرفیت محتسبین پایان یافت

محفلی که به همین مناسبت در مقر وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات با حضور مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء، مولوی عبدالسلام حنفی معین اداری ریاست الوزراء، شیخ محمد خالد الحنفی سرپرست وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات، معینان این وزارت و شماری از مسئولان نظام امارت اسلامی تدویر یافت.

در این برنامه محترم مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء با قدردانی از فعالیت های وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات در جهت اصلاح جامعه و ترویج معروفات گفت: امربالمعروف و نهی عن المنکر حکم امارت اسلامی نبوده بلکه حکم است از جانب الله تعالی، مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء، افغانستان را خانه مشترک افغان ها خواند و افزود که امارت اسلامی برتأمین حقوق مساوی افغان ها تلاش می کند تا در هر بخش انکشاف متوازن را به میان آورد.

همچنان معاون سیاسی ریاست الوزراء گفت: از خاک افغانستان هیچگونه تهدیدی متوجه هیچ کشوری نخواهد بود و ما پالیسی دوستانه و حسن همکاری را با تمام کشور های جهان دنبال می کنیم.

با این حال مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء در این نشست نظام امارت اسلامی را ثمره خون هزاران شهید در بیست سال جهاد با کشور های اشغالگر دانسته گفت: حفاظت از نظام اسلامی وظیفه همه اقشار جامعه به خصوص علمای دین می باشد.

معاون اداری ریاست الوزراء نیز امربالمعروف و نهی عن المنکر را از جمله ضروریات یک نظام اسلامی دانسته و خطاب به محتسبین گفت: حین انجام وظیفه با مردم از رفتار نیک و حسنه کار بیگیرند.

در این مراسم شیخ محمد خالد الحنفی سرپرست وزیر وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات با ارائه دست آورد های عمده این وزارت طی دو سال گذشته، گفت بدون موجودیت امربالمعروف و نهی عن المنکر پیروزی یک نظام اسلامی در کشور نا ممکن خواهد بود.

سرپرست وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات با اشاره به حقوق زنان که دین اسلام حقوق بیشتری را برای آنان قایل شده است تا آنجا که فراهم کردن نفقه را از مسئولیت مردها دانسته است.

سرپرست وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات نیز از تمام محتسبین در سراسر کشور خواست که حین انجام وظیفه اخلاص داشته و مسئولیت های خود را مطابق به ارشادات دینی انجام دهند.

وی نیز فریضه امربالمعروف و نهی عن المنکر را مهم ترین گام در مقابله با توطئه های دشمنان اسلام دانسته گفت: دشمنان اسلام نمیتوانند با پخش افواهات مانع تطبیق اهداف این وزارت شود.

سپس شیخ محمد فقیر محمدی معین مسلکی وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات نقش علماء را در اصلاح افکار جامعه مهم خواند؛ افزود دشمنان اسلام در ۲۰ سال گذشته بالای افکار جامعه کار نمودند و علماء باید درزمینه تغییر افکار جامعه مطابق به ارشادات دینی سهم خویش را اداء نمایند.

شیخ سعید احمد شهیدخیل معین نظامی وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات با اشاره به تبلیغات دشمنان در باره نظام امارت اسلامی گفت: مخالفان و کشور های اشغالگر تلاش دارند تا میان امارت اسلامی و مردم فاصله ایجاد کنند امارهبران امارت اسلامی در برابر توطئه های دشمنان مبارزه نموده و تمام پلان های شوم شان را نقش بر آب نمودند.

معین نظامی وزارت امربالمعروف در اخیر در این جلسه گفت: امارت اسلامی به خصوص وزارت امربالمعروف دین مقدس اسلام را طی دو سال گذشته به معنای واقعی به جهانیان معرفی نموده است.

شیخ رحم الدین استاد مدرسه جهادی ولایت کنر نیز در این برنامه سخنرانی نموده گفت که علماء و محتسبین وظیفۀ سنگینی را به عهده دارند که همانا بدست آوردن قلب های مردم است.

موصوف افزود که توجه وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات باید به مجاهدین و مسؤولین امارت اسلامی بیشتر باشد و همچنان از مجاهدین امارت اسلامی خواست که مطابق شریعت اسلامی با رعیت رفتار خوب نمایند.

قابل ذکر است، ریاست تعلیم و تربیه محتسبین وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات از آغاز سال جاری؛ برنامه های آموزشی را به منظور ارتقای ظرفیت محتسبین کابل و سی وچهار ولایت به راه انداخته بود که در این برنامه های آموزشی علاوه بر آموزش علوم، مهارت های مسلکی نیز به آنان تدریس گردید.

## دیدار هیئت وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات با زندانیان محبس عمومی ولایت سمنگان

هیئت اعزامی وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات؛ تحت نظر مولوی فضل الرحمن مجددی رئیس ارجاع و پیگیری این وزارت که اخیراً جهت حل مشکلات و رسیدگی به شکایات شهروندان ولایت سمنگان عزیمت نموده بود؛ به سلسله فعالیت های کاری شان از زندان عمومی این ولایت نظارت نمودند.

حافظ مولوی صدیق الله اسحاق عضو هیئت کمیته رسیده گی به شکایات هنگام دیدار با محبوسین گفت: فرامین که از سوی امیرالمومنین حفظه الله در ارتباط به رفتار و عکس العمل با زندانیان توشیح شده مطابق به قانون الهی بوده که اجازه هیچگونه ظلم و ستم را روا نمیدارد.

وی همچنان افزود نهاد های نظامی که مسئول نگهداری و باز پرسی محبوسین را دارد تلاش نمایند تا در عرصه حل مشکلات و شکایات انان رسیدگی نماید. و همرای شان رفتار نیکو و حسنه نماید.

در همین حال هیئت یاد شده از زندان اناث و بخش اطفال این ولایت نیز نظارت نموده مشکلات و شکایات شان را مورد بررسی قرار دادند.

قرار است که هیئت اعزام شده جهت بررسی و حل شکایات مردم به ولایات های بلخ، جوزجان، سرپل و فاریاب نیز سفر نماید.

## دروس عقیدتی در ادارات امارتی ولایت غور آغاز گردید

ریاست امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ولایت غور، نشستی را با اشتراک معاون مقام ولایت، قومندان لواء، نماینده قومندانی امنیه و نماینده ریاست شورای علماء جهت بلند بردن سطح آگاهی دینی کارمندان و مجاهدین برگزار نمودند.

در این نشست مولوی گل آقا فاروق رئیس امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات این ولایت ضمن خوش آمدید به اشتراک کنندگان افزود، دروس عقیدتی و فکری به هدایت وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات در تمام نهاد های امارتی و خصوصی تدریس می گردد، تا از خیانت جلوگیری شود.

أیشان در ادامه صحبت های شان همچنان از ادارات محلی ولایت غور تقاضا نمودند تا در امر تطبیق برنامه های اصلاحی، این ریاست را همکاری بیشتر نمایند.

با این حال الحاج روح الله طریقت معاون مقام ولایت گفت: تا حال اقداماتی برای جلوگیری از گروه های مغرض و خیانت کار صورت گرفته است و در آینده نیز برای ریشه کن شدن این پدیده در نهاد های امارتی تلاش خواهند نمود.

همچنان در این نشست نماینده لوای وزارت دفاع، قومندانی آمنیه و شورای علمای ولایت غور گفتند: برای تطبیق دروس عقیدتی در حوزه ها و قطعات نظامی تلاش صورت گرفته و بعد از این نیز در تطبیق برنامه های اصلاحی و دینی با ریاست امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات همکاری جدی خواهند نمود.

## محتسبین ولایت بلخ مردم را به همکاری در جهت اصلاح جامعه فرا خواند

محتسبین امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ولسوالی های دولت آباد، دهدادی، چمتال و شولگره ولایت بلخ حین نظارت از اماکن تجارتی، ورزشی و تفریحی مردم را به همکاری و حمایت از فعالیت های محتسبین در جهت موثریت اقامه معروفات و منع منکرات توصیه نموده گفتند؛ امربالمعروف و نهی عن المنکر در یک جامعه اسلامی سبب استحکام نظام اسلامی می شود که مسئولیت دینی و ایمانی هر فرد مسلمان می باشد.

همچنان محتسبین امربالمعروف این ولسوالی ها در دیدارهای جداگانه با مسئولین امنیتی، ملکی و مجاهدین، از آنان خواستند که حین انجام وظیفه تقوا و پرهیزگاری را پیشه نموده و به هیچ وجه برای افراد مُغرض و استفاده جو فرصت ندهند تا صفوف مجاهدین را تضعیف نمایند.

آنان افزودند که حالا جهاد علیه اشغالگران پایان یافته و از باشندگان ولسوالی ها خواستند تا در جهاد آبادانی کشور سهم خویش را اداء نمایند.

وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات یکی از ادارات مهم امارت اسلامی میباشد که نقش عمده در تربیت جامعه و تشویق مردم به انجام کارهای نیک دارد.

گفتنی است که این وزارت در ۳۴ولایت و بیش از ۴۰۰ ولسوالی تشکیلاتی را به هدف اقامه معروفات، ازاله منکرات و رسیده گی به شکایات مردم ایجاد نموده است که عملاً در راستای دستیابی به اهداف فوق مصروف فعالیت می باشد.

# د مقالو او ليکنو لپاره د تقوا مجلې پاليسي

د تقوا مجلې اداره، د نشر لپاره په لاندې شرايطو برابرې ليکنې مني:

۱ـ مقاله او ليکنه بايد مستنده (د مأخذونو لرونکې) وي.

۲ـ د مجلې اداره د مقالې په محتوا کې بدلون او سمون د ليکوال په مشوره ترسره کوي.

۳ـ مقاله بايد په نورو چاپي او برېښنايي مطبوعاتو کې نه وي خپره شوې.

۴ـ مقاله بايد د اسلام مقدس دين له اساساتو سره سم د هېواد ملي ګټو ته په کتنې ترتيب شوي وي.

تقوا مجله د عالمانو، کارپوهانو، څېړونکو، استادانو، محصلينو او متعلمينو، ديني، علمي، فرهنګي، ادبي مقالې او ليکنې د خپراوي لپاره د پورته شرايطو په مراعات کولو سره په ورين تندي مني.

۱. يادښت: تقوا مجله ستاسې سالمې نيوکې، رغنده وړانديزونو او ګټورو نظريو ته سترګې په لار ده.

۲. يادونه: دا چې د مجلې په مطالبو کې قرآني آيتونه، نبوي احاديث او د علماوو ويناوې شتون لري؛ په ساتنه کې يې خپل ايماني مسؤوليت اداء کړئ.

# Taqwa Magazine

إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ

[سورة الحجرات: الاية ١٣]

**ژباړه: د الله تعالی په وړاندې ستاسو ډېر عزتمند**
**هغه څوک دی چې ډېر تقوا لرونکی وي،**
**بې له شکه الله تعالی ښه پوه، باخبر دی.**

